
# د زړه او رګونو ناروغۍ



Ketabton.com

مؤلف: پوهاند ډاکټر عبدالواحد وثیق

۱۳۹۶هـ ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

عرفان
خپرندویه ټولنه - کندهار

بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه

**د کتاب نوم:** د زړه او رګونو ناروغۍ

**مؤلف:** پوهاند ډاکټر عبدالواحد وثیق

**ډیزاین :** د عرفان خپرندويي ټولني تخنيكي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پښتي ډيزاين:** شريف الله

**لومړی چاپ:**۱۳۹٦ هجري لمريز

**د چاپ لړ: ۴۳**

**دچاپ شمير**: ۱۰۰۰

**خپرندوی:** عرفان خپرنويه ټولنه ـ کندهار

**د خپرندوی د اړيکو شميرې:** ۰۷۰۰۳۲۲٦۲۴ ـ ۰۷۰۴۸۰۰۸۷۰

**ايميل ادرس:n.irfan92@gmail.com**

**د چاپ او کاپي ټول حقوق يې د خپرندويه ټولني سره خوندي دي**

**د لوی ، بخښونکي او سپيڅلی ذا ت په پاک نامه**

## سر ليک

د کندهار په پوهنتون اوپه ځانګړي توګه دطب په پوهنځۍ کي په انګريزي ژبه زيات اومعتبر کتا بونه شتون لري، ولي په پښتوژبه داډول آثارډيرکم اوحتي دګوتوپه شماردي.

دهمدي اصل په پام کي نيولوسره دکندهارپوهنتون دطب پوهنځۍ علمي شورا وپتيله ترڅوپه پښتوژبه تدريسي کتابونه ترتيب اودزده کونکوپه واک کې ورکړي،چي په همدي منظورد کندهارپوهنتون دطب پوهنځۍ دداخله څانګی لخوا پريکړه وشول ترڅودطب پوهنځۍ دڅلورم ټولګي د داخله مضمون د لمړی سمسترد درسي کريکولم سره سم **د زړه اورګونو د ناروغيو درسي کتاب** ترتيب اوتأليف کړل شي ترڅوزده کونکي په آسانۍ ورڅخه ګټه واخلي. د دي کتاب دتأ ليف چاري د پوهنوال څخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهاند علمي رتبې ته دارتقأ لپاره وماته راوسپارل شوي. داکتاب د څلورم ټولګي د درسي کريکولم په پام کې نيولوسره دبيلابيلو اونوومعتبروانګريزي طبی کتابونواو انترنيټي پاڼوڅخه په ګټه اخستوسره په څه دپاسه ( ۱۹۷) پاڼوکي تألیف او په ساده اوسليسه پښتوژبه ليکل سويدي.
د کتاب په تألیف کي د کابل دطبي پوهنتون د داخله څانګي مشر اوګران استاد الحاج پوهاند ډاکتر حيات الله ( حيات) چي زما دلاربنوداستاددنده يې هم په غاړه درلودل خپلي ګټمني مشوري نه دي سپمولي، همداراز د کتاب په سمون او تصحيح کي د طبی پوهنتون د داخله څانګی استاد پوهاند ډاکتر محمد همايون ( آريا) ارزښت ناکه مشوری هم د يادولو وړدی. د کندهارپوهنتون دطب پوهنځۍ دداخله څانګي استادانوهم پخپل وارسره دکتاب په تصحيح کې راسره زياته مرسته کړي.
د کتاب لپاره د معلو ماتو د راغونډولو په منظور محترم ډاکتر صاحب پاينده محمد ارغندابی د کندهار پوهنتون پخوانی رئيس او هم پوهنيار ډاکتر محمد صديق صحرايی د داخله څانګی غړی او په روسيه کي د ماسټری پروګرام محصل زياته مرسته کړی، او محترم ډاکتر صاحب صحرائی په زياته اندازه کتابونه د انټرنيټ څخه را ټول او زما په واک کي راکړی چي د دی کتاب په تاليف کي ورڅخه زياته ګټه اخستل سويده.
بايد يادونه وکړم چي نوموړي کتاب په سليسه اوروانه پښتوژبه ليکل شويدي چي دڅلورم ټولګي پرزده کړيانوبرسيره ستاژيراونوي فارغ سوي ځوان ډاکتران هم کولاي شي ورڅخه ګټه واخلي.

**په درناوي**

**پوهاند ډ اکترعبدالواحد ( وثيق)**

## فهرست

**سريزه ........................................ 8**

## لمړی څپرکی

**اتيروسکليروزس اودزړه اسکيميکي ناروغی ........................................ 9**

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتيروسكليروزس ATHEROSCLEROSIS ........................................ 10
د زړه حاده احتشأ Acute Myocardial Infarction ........................................ 28

دوهم څپرکی

دويني دلوړفشار اړوند ناروغی ........................................ 44
د و ینی لوړفشا ر HYPERTENSION ........................................ 45
د وینی د اساسی لوړ فشارپه پتوجنیزیس کی لاند نی عوامل اغیزی لری ........................................ 46
د وینی د ثانوی لوړ فشارپه پتوجینیزیس کی لاندنی عوامل اغیزی لری ........................................ 47
د رملنه ........................................ 50
د وینی د لوړ فشار د درملنی اصول ........................................ 55
د وینی خبیث لوړ فشار Malignant hypertension ........................................ 55

دریم څپرکی

په کاهلانوکي د زړه ولادی آ فات ........................................ 64
په ( ۳-۱ ) جدول کي د زړه د ولادی ناروغیو وقوعات او شیوع ښودل شویده (۷) ........................................ 66
د زړه ولادی غیر سیانوتیکي ناروغی چي شنټ شتون نلری ........................................ 76
د زړه ولادی سیانوتیکي ناروغی چي د ریوی دوران کم والی ورسره مل وی ........................................ 78

څلورم څپرکی

د زړه بینظمی یا اریتمیا ........................................ 86
د زړه د سیالوی سیستم انا ټومی ........................................ 87
ا ذ ینی تا کی کا ر ډ یا Atrial Tachycardia ........................................ 91
پری اکساټیشن سندروم Preexcitation Syndromes ........................................ 96
بطینی تکي کارډیا Ventricular Tachycardia ........................................ 97

پنځم څپرکی

د زړه عدم کفایه اوکورپلمونل ........................................ 106
د زړه عدم کفایه ........................................ 107
پتو فزیالوژی ........................................ 107

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه عوامل چې د زړه عدم کفایه شد یده او یا ورته زمینه برابروی ........................................108

شپږم څپرکی

د زړه دعضلی آفات اوالتهاب ........................................................................130
د زړه دعضلی آفات ..............................................................................131

اووم څپرکی

د پریکارډ ناروغی ..............................................................................149
د پریکارډ ناروغی Pericardial Disease..............................................................150
د پریکارډ حاد التهابAcute Pericarditis ............................................................152
پوسټ کارډیاک انجوری سندرومPostcardiac Injury Syndrome .................................157
د پریکارډ څنډ نی انصبا بPericardial effusion and cardiac tamponade ..............158
کرونیک کانسترکټیو پریکارډایټیسConstrictive pericarditis ....................................159

اتم څپرکی

شاک...........................................................................................166
شاک(Shock(Circulatory failure ..................................................................167
سنکوپ Syncope ..............................................................................173
د زړه د رید نه Cardiac Arrest.......................................................................178
نا څاپی مړینهSudden Death .........................................................................181

نهم څپرکی

د زړه ناروغی اوامیدواری ،د زړه ناروغی او جراحی ....................................................184
د زړه ناروغی او امیدواریCardiac disease and pregnancy......................................185
د زړه ناروغی او جراحیCardiac disease and surgery .........................................189

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اکلیلی شریانو په ناروغانو کی دجراحی خطر..................................................189

## لسم څپرکي

روماتیزمی تبه Rheumatic Fever.........................................................198
د دورانی جهاز لنډه اناټومی .........................................................................204
اخځ لیک .....................................................................................................210

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

د زړه ناروغی یو د هغو ناروغیو د جملی څخه دی چي حتی د ژوند د لمړیو کلونوڅخه پیلیږی، یعنی د او عیو په دننه کي په ابتدایی کلونوکي ترسبات پیل چي وروسته د اوعیو د بندښت او اکلیلی ناروغیو په ډول را منځته کیږی.

د زړه اورگونو ناروغی په نړی کي د مړینو عمده علت تشکیلوی، حال داچي تر ۱۹۰۰ میلادی کال تر مخه په نړی کي د مړینو عمده علت انتانی ناروغی او سؤ تغذیه بلل کیدل. نن په نړی کي د مړینو گچه د زړه د ناروغیو له کبله و ۳۰ سلنی ته رسیږی، چي د دی جملی څخه ۴۰ سلنه یی په پیسه دارو هیوادونو او پاتی نور یی په غریبو هیوادونوکي پینښیږی.

په ۱۹۹۰ میلادی کال کي د نړی د مړینو ۲۸ سلنه ( ۵۰،۴ میلیونه) د زړه د ناروغیو له کبله را منځته سویوی، چي داکچه به په ۲۰۰۱ کال کي و ۲۹ سلنی او تر ۲۰۳۰ کال پوری به ۳۳ سلنی ته جگه سی.

په ۲۰۰۱ کال د زړه د ناروغیو له کبله ۱۳ میلیونه وگړی مړه چي له دی جملی څخه یوازی ۳ میلیونه یی په غریبو مپالکو کي رامنځته کیږی.

که دامریکا په متحده آ یالاتوکي که د ا ناروغی وگورو لیدل کیږی چي ۷۰ میلیونه امریکایان یعنی په هرو ۴ نفرو کي یو د زړه په یوه نه یوه ناروغی باندی اخته دی، د دی جملی څخه ٦٥ میلیونه د وینی لوړ فشار، ۱۳ میلیونه د اکلیلی شراینو ناروغی او ۵،۴ میلیونه نور په دماغی سکته باندی اخته دی. د امریکا په متحده آ یالاتو کي د کاله ۱،۴ میلیونه وکړی د دی ناروغیو څخه مری چي د ټولو مړینو ( ۴۰ سلنه) تشکیلوی. د کاله ۱،۲ میلیونه امریکایان د زړه د احتشأ حمله تیروی، چي تر ۴۰ سلنه زیات یی وژونکي دی.

**په د رناوي**

**پوهاند ډاکترعبدالواحد( وثیق)**

**د کندهارپوهنتون د طب پوهنځۍ د داخله څانگي مشر**

(c) ketabton.com: The Digital Library

- اتیروسکلیروزس
- دزړه اسکیمیکي ناروغی
- انجینا پکتورس
- د زړه حاده احتشا



## لمړی څپرکی

## اتیروسکلیروزس اودزړه اسکیمیکي ناروغی

### د څپرکي مقدمه

په ډیرو پخوا زمانو یعنی د ۲٦۰۰ قبل المیلاد، کلونو په دوران کي د مصر د وخت عالمانو لیکلی دی چي زیاتره په حادو صدري دردونو اخته ناروغان خپل ژوند دلاسه ورکوی. چي اوس داخبره په اثبات رسیدلی او د حاد اکلیلی سندروم تر عنوان لاندی مطالعه کیږی.[۴]


هد زړه اتیروسکلیروتیکي، یا په بل عبارت د اکلیلی شرائنو ناروغی، د امریکا په متحده آ یالاتو او نړی کي د لمړی نمبر وژونکو ناروغیو څخه شمیرل کیږی. په هره د قیقه کي د امریکا یو اوسیدونکي د دی ناروغیو له سببه مری. په دی ناروغیو اخته ۳۷ سلنه ناروغان تر حملی یوکال وروسته مری. تر اوسه هم د اکلیلی شراینو ناروغی د امریکا په متحده آ یالاتو کي د ۵ مړینو د جملی څخه یوه تشکیلوی، او دکاله ٦۰۰۰۰۰ تنه د دی ناروغیو له کبله ژوند دلاسه ورکوی. (۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امریکا د متحده آ یالاتو دزړه د ناروغیو او هم د د ماغی سکتی د ټولنی د ۲۰۰۶ کال د نشراتو د احصائیوسره سم د زړه او رګونو ناروغی تر اوسه هم د امریکا په متحده آ یالاتو کي د مړینو عمده علت په نارینه او ښځو او هم په ټولو نژادونوکي تشکیلوی. د دی احصائی له مخی ښودل سویده چي په ۲۰۰۲ میلادی کال کي یو د دریو مړینو څخه د هم دی ناروغیو له کبله پیښه سویوه. دوی لیکلی دی چي په امریکا کي هره ورځ ۲۵۰۰ تنه د زړه د ناروغیو له کبله مری، چي په هرو ۳۵ ثانیو کي یوه مړینه صورت نیسی. د دوی د احصائیو له مخی د زړه ناروغی په ۵ درجه یعنی تر سرطان، دکښتنی تنفسی سیستم مزمنی ناروغی، ټکرونه او دشکری ناروغی وروسته قرار لری.(۱۲)

## اتیروسکلیروزس ATHEROSCLEROSIS

- تعریف: د شراینو د تصلب یا arteriosclerosis یو عمده شکل دی چي د یوه ژړرنګه پلک د ترسب په ذریعه چي اتیروما نومیږی، او د کولستیرول،لیپیډی موادواو لیپوفاژ څخه د متوسطو او غټو



(c) ketabton.com: The Digital Library



شراینو په انتیما یا داخلی برخه کي جوړیږی ، منځته راځی.(۳

**۱-۱ شکل ( د اتیرو سکلیروتیک پلک جوړښت)** [۳]

## څرنګه منځته راځی

اتیروسکلیروزس یوډول ناروغی ده چي په مرور دزمان او په کراره کراره رامنځته کیږی. په وینه کي د کولسترول اونورو موادوزیاتوالی د پلک د جوړیدو سبب کیږی،چي داپلکونه معمولاً شراینو په داخلی طبقه کي تشکل مومی. پلکونه د محتوی او قوام له مخی یودبل سره توپیر لری، یوشمیر ډیر کلک چي زیاته اندازه کلسیم لری او یوشمیر یی بیا نرم چي معمولاً د مایع کولستیرول او التهابی حجراتو څخه جوړشویوی او د فبروزی پوښ په ذریعه پوښل شویوی. اتیروسکلیروزس د شراینو د تنګوالی سبب کیږی چي په نتیجه کي وینه او اکسیجن په کمه اندازه و حیاتی اعضاوو لکه دماغ، زړه، پښتورګواو نورو اعضاوو ته رسیږی. که د نوموړی نرم پلک فبروزی پوښ څیری شی نو د پلک داخلی مواد آزاد او په پایله کي زیات خطر ناکه عواقب لکه د زړه حمله یا دماغی حمله رامنځته کولای شی، چي اکثراً د مړینی سبب ګرځی. دا ناروغی د امریکا په متحده آ یالاتو کي د مړینو عمده سبب تشکیلوی.

## د خطر عوامل

**۱- د خطر بد لون موندونکي Modifiable عوامل، چي تقریباً ۹۰ سلنه تشکیلوی.**[۵،۴]

- د وینی لوړ فشار
- د سګریټو څکول
- د شکری ناروغی(بیاهم د زړه د احتشا یا اکلیلی شراینو لپاره خطر)
- چاغوالی
- د فزیکي فعا لیتونوکمښت
- د high-density lipoprotein (HDL) کولستیرول کمښت
- د low-density lipoprotein (LDL)l کولستیرول زیاتوالی

- یوشمیر هغه مل ستونزی چي کولای شی نورهم خطر تقویه کړی: (د درقیه غدی تفریط فعالیت،په وینه کي د هوموسیستین زیاتوالی،په ښځوکي د ټسټوسټیرون د سویه لوړوالی او په نارینه وو کي کموالی).

**۲- د خطر ثابت یا بد لون نه موندونکي عوامل Non modifiable**

- نارینه جنس

(c) ketabton.com: The Digital Library


- د سن زياتوالی

**۳- د وخت نه مخکي د اتيروسکليروزس کورنی تاريخچه**

**۴- جنتيک فکتورونه: يو شمير جنتيک فکتورونه هم د ناروغی د خطر د عواملوسره تړاولری د بيلګی په توګه (د وينی لوړ فشار، او د شکری ناروغی).(۵)**

## پتوجنيزس

اتيروسکليروزس په پرمحتللو ټولنوکي د مړينی او معلوليت عمده لامل تشکيلوی. دا سی وړاندوينه کيږی چي تر ۲۰۲۰ کال پوری به د زړه ناروغی په ځانګړی توګه اتيروسکليروزس په نړی کي دعمده روغتيايی ستونزو دجملی څخه وی. اتيروسکليروزس کولای شی د شريانی دوران بيلی برخی ما ؤفه کړی، چي اعراض اوعلايم يی هم و ماؤفه برخی ته ځانګړی وی، دبيلګی په توګه د اکليلی شراينو اتيروسکليروزس د زړه داحتشا او صدري خناق او دمرکزی عصبی سيستم دشراينو اتيروسکليروزس د مغز د ګذری اسکيميکي حملی او يا سټروک سبب کيږی . اتيروسکليروزس کيدای شی ديوشريان د مکمل بندښت او يا تنګوالی سبب وګرځی. نا روغی معمولاً دشراينو پر ښاخو دويشلو په برخه او يا هغه برخه چي اروا يی خرابه شويوی زياته ليدل کيږی. داتيروسکليروزس اعراض اوعلايم نه يوازی د تنګوالی او بندښت له کبله ولی کله کله د اکتازيا يا انوريزم له کبله هم رامنځته کيږی. په يو شمير حالاتو کي اتيروسکليروزس دبندښت نه بلکه په انتيما کي د منتشر آفت سبب کيږی چي معمولاً د داخل وعايی التراسونډ اويا ترمړينی وروسته اوتوپسی په ذريعه تشخيصيږی. په انسانانوکي داتيروسکليروزس پروسه يا اتيروجنيزس د کلونو او حتی لسيزو په تيريدو سره بشپړه کيږی.اکثراً د يوی زياتی مودی تر تيريدو وروسته چي ورته د خفا دوره ( Silent Period ) وايی د اتيرو سکليروزس اعراض اوعلايم تظا هر مومی. داتيروسکليروزس اعراض اوعلايم کيدای شی په ځنډ نی ( Chronic ) ډول د صدري خناق اويا کلوډيکيشن په شکل تظاهر وکړی اويا په حاد (Acute ) ډول د زړه د حادی احتشا، مغزی حملی اويا نا ځاپی مړينی په ډ ول ښکاره شی. [۱]

## اختلاطات


د اکليلی شراينو ناروغی، د ښبتورګو عدم کفايه،د ماغی سکته، د انوريزم خيريدنه ،د زړه احتقانی عدم کفايه، شريانی ترمبوز ، ګانګرين، د زړه بی نظمی او ناځاپی مړينه.

(c) ketabton.com: The Digital Library






۱- ۴ شکل (د اتیروسکلیروز په ذریعه د اکلیلی شریان بندښت)[۳]




۱- ۳ شکل (د وینی علقات او انوریزم )



۱- ٦ شکل (متوسع او ضخیم ریوی شریان او اتیروسکلیروتیک پلک)[۳]



۱- ۵ شکل (د اتیرو سکلیروز اختلاطی آ فت)[۳]

## د اتیرو سکلیروزس کلینیکي سندرومونه

ناروغی معمولاً په غربی هیوادونوکي زیاته لیدل کیږی. زیاتی اتیروماوی اعراض نه تولیدوی،او زیات شمیر یی حتی کلینیکي تظاهرات نلری او په یوشمیر نورو هغو ناروغانوکي چي حتی منتشر اتیر سکلیروزس هم لری ولی بیاهم د ناروغی وصفی اعراض اوعلایم نه ښئی. د پورته دلایلو سبب څه کیدای شی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


د اتیروما د تشکل په وخت کي د شراینو بدلونونه معمولاً د کلینیکي تظاهراتو سبب کیږی.د اتیروما د تشکل په ابتدایي مرحله کي پلکونه معمولاً د دباندی خواته یعنی د لومن د ننه ته نمو کوی، له دی کبله نو د ماؤفه شراینو قطر زیاتوالی مومی چي ورته معاوضوی غټوالی یا compensatory enlargement ویل کیږی، او د شراینو د بدلون پیل دی. اتیروما تر څوچي د پلک اندازه یی تر ۴۰ سلنه نه وی زیاته شوی، ټوله لومن نشی اشغالولای، ځکه نو اتیرو ما هیڅ وخت مکمل بندښت یا تنگوالی چي د انساجو د پرفیوژن د کموالی سبب شی، نشی را منځته کولای.

د پلک په غټیدوسره د جریان کموالی منځته راځی، ځکه نو د دی پلکونو زیات شمیر یوازی هغه وخت اعراض تولیدوی چي و وینی ته اړتیا زیاته شی یعنی د صدري دردونو demand-induced angina pectorisاو یا په محیطی اوعیه کي د intermittent claudication سبب کیږی. په اکلیلی او یا نوروشراینو کي حتی د اتیرو ماد پلک په ذریعه که څه هم مکمل بندښت را منځته شویوی، بیاهم د احتشأ سبب نه کیږی. د اسکیمیا په ذریعه د پرله پسی هیپوکسیکو تنبهاتو له کبله په میوکارډ کي کولترالونه تشکیل او د بند شوی شریان معاوضه کوی. په لنډ ډول، زیات شمیر هغه آ فات چي د حادو او یا غیر ثابتو اتیروسکلیروتیکو سند رومو ، په ځانگړی توگه په اکلیلی شراینو کي، د رامنځته کیدو سبب کیږی، کیدای شی د هغه پلکونو له کبله را منځته شویوی چيflow-limiting stenosis نشی را منځته کولای. نوموړی آ فات حتی په انجیو گرافی کي هم ډیر لږ بدلون رامنځته کوی چي د پام وړ نوی. د دا ډول آ فاتو یا پلکونو څخه د ترمبونوبیلیدل کیدای شی د میوکارډ احتشأ را منځته کړی،او د اکلیلی شراینو د ناروغیویا CAD د لمړی عرض په توگه تظاهر و کړی. پیښی یی تقریباً ۳/۱ د اکلیلی شراینو د هغو ناروغیو چي پرته له صدري دردونو را منځته کیږی، تشکیلوی.( ۸ )

## د زړه اسکیمیکي ناروغی
## Ischemic Heart Disease

**تعریف**

د زړه د اسکیمیا ،په گړندی ډول هغه وخت منځته راځی کله چي د زړه د عضلی د اکسیجن د ضرورت او د زړه وعضلی ته د اکسیجن د رسیدو په اندازه کي بدلون را منځته شی،کیدای شی چي پرصدري درد برسیره په بیلو کلینیکي ډولونو د بیلگی په توگه د پرته له اعراضو ډول څخه نیولی (چي ورته سایلنټه اسکیمیا هم وایی) بیاتربی ثباته صدري دردونو ، د زړه احتشا یا حتی ناڅاپی مړینی

(c) ketabton.com: The Digital Library


تظاهر وکړي. اسکیمیا کیدای شي د زیات وخت لپاره ثابته پاته شي او یا داچي په ګړندی ډول پرمخ تګ وکړي. په معکوس ډول، اتیروسکلیروزس،چي د زړه د اسکیمیا یو عمده سبب تشکیلوی،کیدای شي د کلونو کلونو لپاره پرته له دی چي د اسکیمیا اعراض تولید کړي، شتون ولري.

صدري درد، د بیلو حالاتو په ذریعه چي کیدای شي قلبی او یا نوره منشا ولري، کیدای شي اسکیمیک یا غیر اسکیمیک وی اویا په اکلیلی شراینو پوری تړاو ونلری را منځته شي. ولی بیاهم په ټولو حالاتوکي، د صدري دردونو لمړی تشخیص کلینیکي او وروسته بیا د نورو متممه اولابراتواری معایناتو په ذریعه تقویه کیږی. ( ٦ )

## اسباب او پتوفزیالوژي

اتیروسکلیروزس د عمده اناټومیکي عواملو د جملی څخه دی چي د صدري درد سبب کیږی،ولی کیدای شي چي صدري دردونه شتون ولری ولی په انجیو ګرافی کي اتیروسکلیروزس و نه موندل شي. اسکیمیا هغه وخت را منځته کیږی چي د شراینو قسمی یا پوره بندښت شتون ولری. اسکیمیا کیدای شي د یوشمیر نورو حالاتو لکه روحی فشارونه،کمخونی، او یا د درقیه غدی فرط فعالیت په شتون کي هم تبارز وکړي. په بیړنی ډول هغه وخت شدیده کیږی چي و اکسیجن ته د میوکارډ اړتیا زیاته او یا داچي و میوکارډ ته د اکسیجن د رسیدو اندازه کمه شي.

په ثابت صدري خناق اخته ناروغانوکي، شدت معمولاً د تمرینو په وخت کله چي تنګوالی شتون ولری رامنځته کیږی.

هغه صدري درد، چي تر اسکیمیا څو دقیقی وروسته منځته راځی ،یو مغلق حالت دی ،چي میخانکیت یی تر اوسه ښه نه دی پیژندل شوی.

ابتدایی صدري خناق Primary angina اکثراً د زړه وعضلی ته د اکسیجن د کم رسیدو له کبله لکه په Prinzmetal's variant angina یا acute MI کي منځته راځی، حال داچي ثانوی صدري خناق ،چي د جهدی صدري خناق په نامه هم یادیږی، معمولاً هغه وخت منځته راځی چي و اکسیجن ته د میوکارډ اړتیازیاته شي. په یو شمیر حالاتو کي کیدای شي چي په دواړو صورتو( د اړتیا زیاتیدل اویا د اکسیجن کم رسیدل) یعنی ګډ ډول را منځته شي، دبیلګی په توګه په روحی فشارونو ،عصبانیت،تر ډوډی خوړلووروسته، میخانیکي بدلونونه (دیخی هوا سره مخامخ کیدل) او نور کیدای شي د اکلیلی شراینو د اروا د کمښت او د میوکارډ د اکسیجن د مصرف د زیاتوالی او د صدري دردونو د تولید سبب وګرځی. ( ٦ )

## د اسکیمیا اثرات

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ناکافي پرفیوژن حمله چي د اکلیلی شرائنو د اتیرورو سکلیروزس له کبله منځته راځی ، د میوکارډ عضلی د اکسیجن اندازه کمه چي په نتیجه کي په ګذری ډول د میوکارډ میخانیکي، بیوشیمیکي او الکتریکي فعالیتونه خرابوی. د اکلیلی شراینو اتیروسکلیروزس یو موضعی پروسه ده چي اکثراً د غیر متجانسی اسکیمیا سبب کیږی. د بطین د تقلصیت موضعی خرابوالی اکثراُ د موضعی اکینیزیا، او په شدید حالت کي حتی د په موضعی ډول د بطین د پړسیدو یا ډیزکینیزیا، سبب کیږی، چي کولای شی په زیاته اندازه د میوکارډ پمپ کول کم کړی.

که شدیده اسکیمیا په ګړندی ډول را منځته شی ، چي اکثراً یی سبب د اکلیلی شراینو پوره یا د زیاتی برخی بند والی تشکیلوی، نو د میوکارډ عضلی د نورمال تقبض او استرخأ عدم کفایه را منځته کوی.

د بطین د زیاتی برخی اسکیمیا په ګذری ډول د چپه بطین د عد م کفایه سبب کیږی، او که پپیلری عضلات مصاب شویوی، نو کیدای شی چي د میترال د سام عد م کفایه هم را منځته کړی. که اسکیمیا په ګذری ډ ول را منځته شی ،نو کیدای شی چي صدري خناق ورسره مل وی، او که دوامداره شی نو د میوکارډ د نکروز او سکار د تولید سبب ګرځی چي کیدای شی د زړه د حادی احتشأ اعراض او علایم ورسره مل او یا شتون ونلری.

نورمال میوکارډ شحمی اسیډونه او ګلوکوز په کاربن ډای اکسایډ او اوبو تجزیه کوی. د اکسیجن په کمښت کي ، شحمی اسیډونه اکسیډیز کیدای نشی، او ګلوکوز هم په لکتیت بدلیږی، داخل حجروی pH کمیږی. د حجروی غشأ د دندو د خرابوالی له سببه پوتاشیم د حجری څخه وزی او د میوسیتونوپه ذریعه د سوډیم اخستل ګړندی، اوهم د سیتوسولیک کلسیم اندازه زیاتوالی مومی.

د میوکارډ د اکسیجن د سپلای او ډ یمانډ تر منځ د بیلانس خرابوالی په ګوته کوی چي آ یا نوموړی تخریبات رجعی دی ( د مکمل بندښت په صورت کي ۲۰ د قیقی چي کولترالونه نه وی را منځته شوی) او یا دا چي دا تخریبات دوامداره دی، که بندښت تر ۲۰ د قیقی زیات شی، نو د میوکارډ د نکروز سبب ګرځی.

اسکیمیا هم داډول په ECG کي د ښکاره بدلونو سبب کیږی لکه د T موجی منفی کیدل او د ST سګمنټ بیځایه کیدل.

د میوکارډ د اسکیمیا نور مهم اثرات عبارت دی له برقی نا برابریو څخه ، چي کیدلای شی دبطین د بیلو او خامو تقلصاتو اوحتی بطینی تکي کارډیا او یا فبریلیشن سبب و ګرځی. زیات ناروغان چي د زړه د اسکیمیکو ناروغیو له کبله په ناڅاپی ډول مری اکثراً یی سبب بطینی تکي اریتمیاوی تشکیلوی. (۱)

**ثابت صدري دردونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library


د صدر هغه وړاندوینه کیدونکي او یا بیا راګرځیدونکو نا آرامیوته ویل کیږی چي په معین ډول د ثابتو فزیکي یا روحی فشارونو په ذریعه تولید او د استراحت یا تر ژبی لاندی نایتروګلیسیرونو په استعمال سره له منځه ځی.( ۳)

**بی ثباته صدري د ردونه**

هغه صدري دردونوته ویل کیږی چي نوی را منځته او یا داچي د پخوانیو په وصف او شدت کي توپیر راسی، یعنی ژر ژر تکرار او شدید وی او یا دواړه وصفه پیکنښي شتون ولری، را منځته شی، چي ورته بی ثباته صدري دردونه، یا پرته له ST سګمنټ لوړ والی څخه د زړه احتشا NSTEMI هم وایی ( ۳)

**وریانت یا (PVA) VARIANT (PRINZMETAL'S) صدري دردونه**

په ۱۹۵۹ میلادی کال کي Prinzmetal او د ده ملګرو د لمړی ځل لپاره تشریح کړی نوځکه د ده په نوم یادیږی. و هغه انجین ته ویل کیږی چي د اکلیلی شراینو د سپزم په نتیجه کي پرته له کوم تحریکي عوامل څخه ، اکثراً د استراحت په وخت ، منځته راځی. ناروغی په ځوان عمرکي او په ځانګړی توګه په هغو کي چي ډیر لږ خطری عوامل ،لکه سګریټ څکول ، لری منځته راځی او پیښی یی په ښځو کي د نارینه وو په پرتله زیاتی دی. د درد په وخت په ECG کي وصفی بدلون یعنی د ST سګمنټ لوړ والی لیدل کیږی. د ښه تشخیص لپاره یو شمیر تحریکي ټستونو لکه hyperventilation ټسټ ، cold-pressorټسټ او یا ergometrine challenge ټسټ څخه کار اخستل کیږی. د ناروغی د حملی په جریان کي کیدای شی د بطینی تکي اریتمیاوو او یا بلاک سبب و ګرځی.

درملنه : د حادی حملی د د رملنی او هم د تکراری حملو د پیښیدو د کموالی په منظور د نایتریتونو اویا د کلشیم چینل بلاک کونکو درملو څخه کار اخستل کیږی. د آ سپرین تطبیق له دی کبله چي د پروستا سیکلین په ترکیب کي بدلون را منځته کوی، کولای شی چي د اسکیمیا حملات زیات او خطر یی لاهم زیات کړی. د اکلیلی شراینو د revascularization څخه هم ګټه اخستل کیدای سی.

انذار: په PVA اخته اکثر ناروغان د ناروغی حاده حمله د صدري دردونو په متکررو حملاتو سره تیروی او د ۵ کلونو لپاره د ژوندی پاته کیدو چانس ډیر زیات او حتی د ۹۰ تر ۹۵ سلنی رسیږی. هغه ناروغان چي د اکلیلی شراینو ثابت بندښت نلری او یا لږ ولری، د هغو په پرتله چي ثابت بندښت لری، ښه انذار لری. په ۲۰ سلنه ناروغانوکي د ۵ کلنو په موده کي دزړه نه وژونکي احتشأ منځته راتلای سی. هغه ناروغان چي د د رد د حملاتو په دوران کي وخیمی اریتمیاوی ولری، د زړه د دریدنی او مړینی خطر یی زیاتیږی. ( ۵، ۱ )

**له اعراضو پرته یا (ASYMPTOMATIC (SILENT اسکیمیا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اکلیلی شراینو بندشی ناروغی، د زړه حاده احتشأ او یا دزړه ګذری احتشاوی اکثراً پرته له اعراضو منځته راځی او په زیاتو ناروغانوکي یوازی د متکرری ECG په اخستلو سره ناروغی تشخیصیږی، حال دا چي دی ناروغانو د اسکیمیا متکرر حملات تیر کړیوی. د اسکیمی متکرر حملات ( که اعراض ولری او یا پرته له اعراضو وی) د اکلیلی شراینو د خرابوالی له کبله د مړینی چانس زیاتوی. کله کله ، کیدای سی چي په صدري خناق اخته ناروغ پرته له صدري درد څخه د نورو غیر وصفی اعراضو لکه سالنډی، ستړیا، تیغ وهل، زړه بدوالی ، او بدهضمی څخه مراجعه وکړی.

درملنه: په دی ناروغانوکي درملنه د هر ناروغ لپاره باید بیله په پام کي ونیول سی. په هغو ناروغانوکي چي د اکلیلی شراینو ښکاره آ فات ولری باید د وینی د لوړ فشار او ډیز لیپیډیمیا درملنه په لمړی قدم کي ورته ترسره سی، ځکه د مړینو کچه را کموی. د چپه زړه په اسکیمیا اخته هغه ناروغان چي په دریو اکلیلی شراینو کي آ فات ولری او یا د چپه بطین فعالیت یی کم سویوی، د CABG لپاره کاندید بلل کیږی. په ټولو هغو ناروغانوکي چي په چپه او یا عرضی اسکیمیا اخته وی، د وینی د لوړ فشار او لیپیډینو د کموالی درملنه باید تر هرڅه لمړی په پام کي او هم په دی ناروغانوکي د آ سپرین، ستاتین، او بیتا بلاکرونو تطبیق اغیزمن او ښه انذار لری. ( ۱ ، ۳)

( ۱ - ۱ ) نمره جدول د اکلیلی شراینو د ناروغیو سلنه د سن، جنس او اعراضو له رویه ښودل شویده (٦ )

| جنس | عمر | وصفی انجین | غیر وصفی انجین | غیر قلبی صدري درد |
|---|---|---|---|---|
| نارینه | ۳۰ - ۳۹ | ۸۳ | ۴٦ | ۳ |
| | ۴۰ - ۴۹ | ۸۸ | ۵۷ | ۱۲ |
| | ۵۰ - ۵۹ | ۹۴ | ۷۱ | ۱۸ |
| | ٦۰ - ٦۹ | ۹۵ | ۷۸ | ۳۱ |
| | ۷۰ یا زیات | ۹۷ | ۹۴ | ٦۳ |
| ښځی | ۳۰ - ۳۹ | - | ۲۰ | ۴ |
| | ۴۰ - ۴۹ | ۵٦ | ۳۱ | ۴ |
| | ۵۰ - ۵۹ | ٦۸ | ۳۰ | ٦ |
| | ٦۰ - ٦۹ | ۸۱ | ۴۸ | ۱۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | ۷۰ یا زیات | ۹٦ | ۵٦ | - |

## صدري دردونه یا صدري خناق Angina Pectoris

### عمومی معلومات

د صدر هغه وړاندوینه کیدونکي او یا بیا راګرځیدونکو نا آرامیوته ویل کیږی چي په معین ډول د ثابتو فزیکي یا روحی فشارونو په ذریعه تولید او د استراحت یا تر ژبی لاندی نایتروګلیسیرونو په استعمال سره له منځه ځی.(۳)



### وصفی یا ټیپیکل صدري د ردونه

هغه صدري درد ونوته ویل کیږی چي په صدر کي د choking یا فشار یا دروندوالی د عمیق احساس په ډول را منځته او اکثراً د زامی، بازوګانو یا شرصوفیه ناحیی خواته انتشار مومی. اکثراً د فزیکي فعالیتونو یا روحی فشارونو په ذریعه را منځته او په استراحت سره آ راموالی مومی. دصدر دا ډول نا آرامی اکثراً ناروغ د سوک د ضربی په ډول بیانوی چي Levine sign یاعلامه ورته ویل کیږی. (۳)

### غیر وصفی صدري د ردونه ANGINAL EQUIVALENT

کله کله ، کیدای سی چي په صدري خناق اخته ناروغ پرته له صدري درد څخه د نورو غیر وصفی اعراضو لکه سالنډی، ستړیا، تیغ وهل، زړه بدوالی ، او بدهضمی څخه مراجعه وکړی.

### بی ثباته صدري دردونه UNSTABLE ANGINA

هغه صدري دردونوته ویل کیږی چي نوی را منځته او یا داچي د پخوانیو په وصف او شدت کي توپیر راسی، یعنی ژر ژر تکرار او شدید وی او یا دواړه وصفه پیکنښي شتون ولری، را منځته شی، چي ورته بی ثباته صدري دردونه، یا پرته له ST سګمنټ لوړ والی څخه د زړه احتشا NSTEMI هم وایی . (۳)

### اپیدیمولوژی

**سن:** معمولاً په متوسط او زاړه عمرکي موندل کیږی، په ښځو کي زیات تر مینوپوز وروسته.

**جنس:** نارینه د ښځو په پرتله زیات په ناروغی اخته کیږی. (۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**وقوعات:** د امریکا په متحده آ یالاتو کي د ثابتو صدري دردونوتقریباً د کاله ۵۰۰۰۰۰ نوی کیسونه ترلاسه کیږی. (۳)

**شیوع:** د امریکا په متحده آ یالاتو کي تقریباً تر ۱۰ میلیونه زیات وګړی د صدري دردونو څخه ځوریږی. په برطانیه او د نړی په زیاتو هیوادونوکي هم د مړینو عمده سبب تشکیلوی. د دی ناروغیو له کبله د کاله ۱۰۰۰۰۰/٦۰ تنه خپل ژوند دلاسه ورکوی. داسی اټکل کیږی چي د ۲۰۱۰ میلادی کال وروسته به د نړی په پرتله د زړه د اکلیلی شراینو د ناروغیو ٦۰ سلنه په هندوستان کي را منځته سی. (۵،۳)

## د خطر عوامل

**د اکلیلی شراینو د ناروغیو د خطر عوامل دلته هم صدق کوی او عبارت دی له:**

د وخت ترمخه د اکلیلی شراینو د ناروغیو کورنی تاریخچه په ځانګړی توګه په لمړی درجه د وستانوکي ( په نارینه وو کي چي عمر یی تر ۵۵ کلنی او په ښځوکي چي عمر یی تر ٦۵ کلنی کم وی) شتون ولری. (۳)

چاغوالی

په وینه کي د کولستیرول زیاتوالی

د وینی د فشار زیاتوالی

د سګریټو څکول

د شکری ناروغی

نارینه جنس په ځانګړی توګه بوډا ګان

## پتوفزیا لوژی

د اسکیمیا په شتون کي صدري دردونه هغه وخت پیداکیږی چي د میوکارډ د پرفیوژن او و اکسیجن ته د میو کارډ اړتیا کي بد لون را شی. د زړه څخه د حسی اعصابو رشتی د سمپاتیک چینل د لاری انتقال اود C7-T4 په سویه کي شوکي نخاع ته داخل چي په پایله کي په اړوند درماتوم کي د منتشرو دردونو یا نا آرامی سبب کیږی.

د اتیروسکلیروزس په ذریعه د اړونده شریان تنګوالی ( تر ۷۰ سلنه زیات تنګوالی) د ناروغی عمده پتولوژیک بدلون تشکیلوی. ولی په یو شمیر هغو ناروغانوکي چي د ابهر شریان په ناروغیو او یا hypertrophic cardiomyopathy اخته وی پرته له دی چي د اکلیلی شراینو ناروغی ولری، کیدای شی په صدري دردونو اخته شی. (۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اسباب

- د اکلیلی شراینو اتیرو سکلیروزس ( عمده سبب)
- د ابهر شریا ن تنګوالی
- د زړه د عضلی هایپر ټروفیکه میوپاتی
- د ابهر شریان عدم کفایه
- په ابتدایی ډول د ریوی شریان د فشار زیاتوالی [۳]

## ورسره مل ستونزی

- په وینه کي د کو لستیرول زیاتوالی
- د محیطی او عیو ناروغی
- د وینی لوړ فشار
- د وزن زیاتوالی
- د شکری ناروغی[۳]

## تشخیص

- د صدري دردونو وړاندوینه کیدونکي یا تکراریدونکي حملات چي د ۳ تر ۱۵ د قیقو د وام و مومی او د فزیکي فعالیت، روحی تشوشاتو،زیاتی غذا،یخی هوا او یا سګریټ څکولو په اثر رامنځته، او د استراحت یا تر ژبی لاندی نایتروګلیسیرین باندی آ رام شی.
- د پورته ټکو په پام کي نیولو سره باید دناروغ څخه پوره تاریخچه واخستل شی.
- د فزیکي فعالیتونو په وخت کي د سالنډی پیښبیدل کیدای شی یوازنی عرض وی.
- په ښځو،بوډاګانو اویا شکری ناروغی اخته ناروغانوکي کیدای شی ناروغی په غیر وصفی ډول ښکاره شی.
- د کاناډا یا نیویارک د زړه د ناروغیو د ټولنی د درجه بندی له مخی د مزمنو صدري دردونو شدت په لاندی ډ ول ترلاسه کیدای شی:

۱-۲ نمره جدول ( د کاناډا اونیویارک د زړه د ناروغیو د ټولنی د رجه بندی ) [۱،۳]

| درجه | د کاناډا د زړه د ناروغیو د ټولنی د رجه بندی | د نیویارک د زړه د ناروغیو د ټولنی د رجه بندی |
|---|---|---|
| لمړی | د عاد ی یا ورځنیو فزیکي فعالیتونو په ترسره کولوسره درد | ناروغ د زړه ناروغی لری ولی فزیکي فعالیتونه په |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| درجه Class I | شتون نلری، یوازی د درنو کارونو،چټکو کارونویاد وامداره او د زیاتی مودی لپاره فزیکي فعالیتونو په ترسره کولو سره درد پیداکیږی. | عادی ډول مخته بیایی. ورځنی عادی فعالیتونه د سټرپیا، د زړه د ټکان، سالنډی او صدري درد سبب نه کیږی. |
| دوهمه درجه Class II | د عاد ی یا ورځنیو فزیکي فعالیتونو لږمحدودیدل ( ژرژر قدم وهل ،په زیاتو زینو کي ختل او روحی فشارونه). | ناروغ د زړه ناروغی لری او فزیکي فعالیتونه هم لږ محدو سویوی، ولی د استراحت په وخت ستونزه نلری. ورځنی فزیکي فعالیتونه د سټرپیا، د زړه د ټکان، سالنډی او صدري درد را منځته کولای سی. |
| دریمه درجه Class III | د عاد ی یا ورځنیو فزیکي فعالیتونو زیات محدودیدل. | ناروغ د زړه ناروغی لری او فزیکي فعالیتونه هم زیات محدو سویوی، ولی د استراحت په وخت ستونزه نلری. په کمه اندازه فزیکي فعالیتونه د سټرپیا، د زړه د ټکان، سالنډی او صدري درد سبب کیدای سی. |
| څلورمه درجه Class IV | د عاد ی یا ورځنیو فزیکي فعالیتونو اوحتی د استراحت په وخت د درد احساس. | ناروغ د زړه ناروغی لری ولی فزیکي فعالیتونه یی محدود، او حتی د استراحت په وخت هم د زړه د عدم کفایی او صدري دردونو اعراض شتون لری. لږ فزیکي فعالیتونه د سټرپیا، د زړه د ټکان، سالنډی او صدري درد سبب کیږی. |

## تاریخچه

- د پخوانیو صدري دردونو کیفیت او د تکرار اندازه اوموده.
- د زړه او یا دزړه د والونو د ناروغیو شتون.
- د زړه د احتشأ، د اکلیلی شراینو د ناروغیو اویا ناخاپی مړینو کورنی تاریخچه.

## فزیکي معاینات

- د ناروغ حیاتی علایم لکه د وینی فشار،د زړه حرکات،د تنفس تعداد او د وینی د اکسیجن د مشبوعیت اندازه باید و کتل شی.
- د زړه په معاینه کي کیدای شی اریتمیا، او یا مرمرونه چي د زړه د والونو پر ناروغیو دلالت کوی،د بطیناتو د غټوالی علایم، گلوپ ریتهاو یا د زړه د احتقانی عدم کفایه علایم و لیدل شی.
- د اوعیو په معاینه کي کیدای شی د محیطی اوعیوناروغی (د نبض کموالی،برویټ،او یا د خیټی انوریزم) په گوته شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- د سږو په معاینه کي کیدای شی د سږو بندشي یا تخریبی ناروغی،او یا دسږو پاړسوب و موندل شی.
- کیدای شی په ناروغ کي د لیپیډونو د زیاتوالی علایم لکه xanthomas یا xantholesma شتون ولری.
- پام مو وی چي که فزیکي علایم نورمال وی نو موږ دزړه ناروغی نشو ردولای.[۳]

## تشخیصی معاینات

### د زړه گرافECG

- کیدای شی د زړه د احتشأ د پخوانی حملی نښی وښئی، که دزړه په گراف کي څه شتون ونلری نوباید خوځلی ترسره شی، ځکه کیدای شی چي د حملی په وخت ښکاره علایم وښئی.
- د یوشمیر ناروغیو لکه Bundle branch block ، Wolff Parkinson White syndrome او intraventricular conduction delay شتون کیدای شی د stress ECG په تفسیرکي ستونزی را منځته کړی.

### د تمرین په وخت د زړه گراف

**د هغو ناروغانو لپاره چيMETS 5 یا تر METS 5 زیات فزیکي تمرین تر سره کولای شی.**

- د هغو نا روغانو لپاره چي د زړه ساده گراف یی نورمال وی نو Standard exercise ECGتوصیه کیږی.
- د هغو نا روغانو لپاره چي د زړه ساده گراف یی نورمال نوی او یا ښځی چي د مینوپوز په دوره کي وی نو Exercise stress testing د echocardiography یا perfusion imaging سره یوځای توصیه کیږی.
- د داخل بستر ناروغان چي تمرینونه نشی تحمل کولای باید ورته د pharmacologic stress testing د adenosine یا regadenoson درملو یا که د استما یا 2° یا 3° درجه دزړه بلاک ولری نو د dipyridamole یا Dobutamine درملو په ذریعه تولید شوی ټسټ ترسره کیدای شی.
- د اکلیلی شراینو د ناروغیو د تشخیص او درملنی د تصمیم نیونی لپاره طلایی ستندرډ لرونکي معاینه Coronary angiography تشکیلوی.[۳]

### لابراتواری معاینات

(c) ketabton.com: The Digital Library


- تر هرڅه لمړی باید د ناروغ هیماتوکریت،په تشه خواد وینی د لیپېډونو پرفایل او د وینی ګلوکوز او نور روتین معاینات ترسره شی.
- د وینی د مجموعی کولستیرول او LDL اندازه کیدای شی لوړه او د HDL سویه کمه ترلاسه شی.
- سی ریکټیو پروټین یا CRP د هغو ناروغانولپاره چي د زړه د ناروغیو د منځته راتلو لپاره متوسط خطری عوامل ولری زیات اړین دی، ځکه په دوی کي د CRP زیاتوالی د ستاتین د مؤثریت علامه بنئی.[۳]

## متممه معاینات

- که د زړه د والونوپرناروغیو یا hypertrophic cardiomyopathy باندی شکمن یاست نو ناروغ ته echocardiogram تر سره کړی.
- Stress imaging د echocardiogram سره مل او یا perfusion imaging
- که د سږو د ناروغیو علایم شتون ولری نو ناروغ ته دصدر راډیو ګرافی ترسره کړی.[۳]

## تفریقی تشخیص

- د سږو ناروغی.
- Deconditioning

## د رملنه TREATMENT

## طبی درملنه

## د لمړی خط درملنه

## د اسکیمیا یا انجین ضد درمل

**۱- د بیټا آخذو نهیه کونکي درمل Beta blockers د زړه د حرکاتو د کمښت،د وینی د فشار د لږوالی،او د میوکارډ د تقلص د زیاتوالی سبب کیږی:**

- اتینالول Atenolol ( د ۲۵ تر ۱۰۰ ملی ګرامه د ورځی)، او metoprolol ( د د ۲۵ تر ۱۰۰ ملی ګرامه د ورځی دوه ځلی)
- د دی درملو اندازه باید د کلینیکي ښه والی په پام کي نیولو سره سم عیاره شی ،یعنی په استراحت کي دزړه حرکات د ۵۰ تر ۶۰ واره په دقیقه کي

(c) ketabton.com: The Digital Library


- جانبي عوارض یې عبارت دی له سترړیا،د فزیکي فعالیت نه تحمل،دانتعاذ کموالی،د زړه د حرکاتو کمښت،یا دزړه بلاک
- مضاد استطباب: د زړه غیر معاوضوی عدم کفایه،شدیده برډی کارډیا،دزړه پر مختللی بلاک،او یا دسږو شدیدی ناروغی

**۲- نایتریتونه Nitrates: د بدن د وریدونو اوشراینو (د اکلیلی شراینو په شمول) د توسع سبب ګرځی، چي په پایله کي د afterload د کموالی او میوکارډ ته د جریان د زیاتوالی سبب کیږی:**

- ترژبی لاندی نایترو ګلیسیرین nitroglycerin Sublingual د ۰،۴ ملی ګرامه په اندازه. د صدري دردونو د حادی حملی په صورت کي کیدای د ۱۰ تر ۱۵ دقیقو په موده کي د ۲ تر ۳ ځلی تکرار شی،که څواب ورنکړی نو نوری لاری چاری لټول کیږی.
- د اوږده تاثیر لرونکي نایتریتونه Long-acting nitrates: کیدای شی چي تر ۸ یا ۱۲ ساعتو وروسته تکرار شی، تر څو ښه تحمل شی، جانبي عوارض یې د سر درد، او د وینی د فشار کموالی دی چي په د وامداره استعمال سره له منځه ځی.
- د phosphodiesterase نهیه کونکي درملو لکه sildenafil،vardenafil اوtadalafil چي د جنسي قوی د زیاتوالی لپاره استعمالیږی، کیدای شی د ژوند تهدیدونکي ټیټ فشار سبب وګرځی، ځکه نو یو ځای استعمال یې مضاد استطباب دی

**۳- د کلسیم د چینل بلاک کونکي (CCB) Calcium channel blockers چي د شراینو د توسع له کبله د میوکارډ داکسیجن اړتیا کمه او د اکلیلی شراینو د دوران د ښه والی سبب ګرځی. یوازی د اوږدی مودی تأ ثیر لرونکي درمل کارول کیږی.**

- د Dihydropyridine مشتقات لکه nifedipine ( د۳۰ تر ۹۰ ملی ګرامه د ورځی)، amlodipine ( د ۵ تر ۱۰ ملی ګرامه دورځی)، felodipine (د ۲،۵ تر ۱۰ ملی ګرامه دورځی) د زیاتی شریانی توسع سبب ګرځی.همداراز نور مشتقات لکهdiltiazem (د ۱۲۰ تر ۴۸۰ ملی ګرامه دورځی ) یا verapamil (د ۱۲۰ تر ۴۸۰ ملی ګرامه دورځی) توصیه کیږی.
- جانبي عوارض یې عبارت دی له قبضیت او د پښو پاړسوب څخه.

**۴- یو بل در مل نوی درمل چي نومیږی Ranolazine او د FDA لخوا د انجین ضد درملو د لمړی قطاردرملوپه ډله کي شامل سویدی. د پورته درملو په شان اثر لری او د چپه بطین په د ندو کي ښه والی راولی، د تاثیر میخانکیت یې ښه نه دی معلوم ولی بیاهم ویل کیږی چي د کلسیم**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د داخل الحجروی اندازی د کموالی له کبله خپل اثر وړاندی کوی. نوموړی درمل د زړه پر حرکاتو او هم د وینی پر فشار کوم اثر نلری، ځکه نوکه په یوازی ډول او یا د نورو درملو سره یوځای توصیه سی، د انجین ضد تأثیر لری. دادرمل کیدلای سی چي د انتعاض د قوی کونکو درملو سره یوځای ورکول سی. (د ۵۰۰ تر ۱۰۰۰ ملی ګرامه د ورځی د وه ځلی ) توصیه کیږی.**

- اکثراً په هغو ناروغانوکي چي په یوازی ډول په β-blockers ،نایتریتونو او amlodipine جواب ورنکړی نو دپورته درملوسره ګډ ورکول کیږی.
- جانبی عوارض یی عبارت دی له زړه بدوالی، قبضیت،سرګنګسی او سردردی.
- مضاد استطباب یی دdiltiazem او verapamil درملو سره ګډ استعمال، prolonged QT او هغه در مل چي د cytochrome P-450 سیستم نهیه کوی باید یوځای استعمال نشی، اوهم د پښتورګو او ینی په ناروغیو کي نسی ورکول کیدلای اوهم باید د حادو صدري دردونو په د رملنه کي توصیه نسی. (۲)
- **د اوعیو محافظه کونکي درمل**

**۱- په ټولو ناروغانوکي د د مویه صفیحاتو ضد درمل استطباب لری:**

- آسپرین Aspirin ( د ۸۱ تر ۳۲۵ ملی ګرامه د ورځی) ښه درمل دی.
- کلوپیډوګریل Clopidogrel (۷۵ ملی ګرامه د ورځی) په هغو ناروغانوکي چي آسپرین نشی خوړلای.
- دAspirin او Clopidogrel یو ځای استعمال یوازی په هغو ناروغانوکي چي ورته سټنټ اچول شویوی، تر څو د سټنټ د ترمبوز ریټ راکم کړی، توصیه کیږی.

**۲- ستاتین Statins لکه simvastatin، atorvastatin، pravastatin او lovastatinد کولستیرول د کموالی لپاره :**

- د اکلیلی شراینو د ناروغیود ثانوی مخنیوی په منظور زیات ارزښت لری. د اکلیلی شراینود اعراض لرو نکو ناروغیو وقوعات راکم او هم د زړه د احتشأ له امله د مړینو اندازه کموی.
- د اکلیلی شراینود تأ سیس شوی ناروغی لپاره باید LDL تر ۱۰۰ ملی ګرامه په هر ۱۰۰ ملی لیتره وینه کي کم وی، او هغه ناروغان چي د زیات خطر سره مخ وی باید د LDL اندازه یی تر ۷۰ کمه وساتل شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ATP نوی لاربنود د پورته درملو استعمال په هغو ناروغانو کي چي د اکلیلی شراینو په ناروغیو اخته اویا شکمن ناروغان وی، د واړو کي توصیه کوی.
- جانبی عوارض یی کیدای شی د transaminases د اندازی لوړوالی، د عضلاتو دردونه، او په نادر ډول کیدای شی د عضلو د التهاب اویا rhabdomyolisys سبب و ګرځی.

**۳- د ACE نهیه کونکي درملو استعمال ښودلی ده چي د زړه د ناروغیو او زړه د احتشأ له امله د مړینو په اندازه کي کمښت را ولی. له دی کبله نو د اکلیلی شراینو په ناروغیو او د زړه په نورروناروغیو په ځانګړی توګه هغه چي د شکری په ناروغی اخته دی او یا دچپه بطین ستونزی لری استطباب لری.**

- د انجیو تنسین د آ خذو نهیه کونکي درمل بیا هغه وخت استعمال لری چي ناروغان د ACE نهیه کونکي درمل تحمل نکړای شی. (۳)

## عمومی اهتمامات

**د ژوند کولو د ډ ول بد لون زیات اړین دی، په دی ډول چي:**

- د وینی فشار باید کنټرول او د سګریټ څکول پریښودل شی
- روحی فشارونه د امکان تر حده کم شی، او په چاغو اشخاصو کي د وزن کمښت
- منظم ورځنی فیزیکي تمرینونه ( د ۳۰ تر ٦۰ دقیقی دورځی).
- په کال کي یوځل د انفلوینزا د واکسین تطبیق (۳)

**جراحی: د بیا اوعیو جوړولو Revascularization درملنه: کله چي پورتنی تدابیر ګټور نه وی.**

- د پوستکي د لاری اکلیلی مداخله یا :(Percutaneous coronary intervention (PCI

**د BALLOON ANGIOPLASTY طریقه، یا د سټنټ ایښود ل**

**د اکلیلی شریان معاوضه یا (CORONARY ARTERY BYPASS GRAFTING (CABG**

- د تکراریدونکو صدري دردونو لپاره
- د شوکي نخاع د تنبه کیدلو طریقه
- د لایزر په ذریعه د میوکارډ د revascularization درملنه. (۳)

## اختلاطات

- بی ثباته صدري دردونه یا د زړه احتشأ
- د زړه اریتمیا، د زړه د رید ل
- د زړه احتقانی عدم کفایه( ۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د اکلیلی شراینو د ناروغیو د مخنیوی لپاره و خلګوته بنسټیز پیغامونه (۷)**

- د سګریټ او چلم څکولو څخه ډ ډه کول
- منظم تمرینونه یا ورزش ( لږ تر لږه د ورځی ۲۰ دقیقی، په اونی کي ۳ ځله) کول.
- د چاغوالی مخه نیول
- په ورځ کي لږ تر لږه ۵ ځلی د میوی او تازه سبو خوړل
- د شحمیاتو او غوړیو کم استعمال.

**د زړه حاده احتشأ Acute Myocardial Infarction**

**تعریف**

- د اصطلاح یا تیوری له رویه، د زړه حاده احتشأ د زړه د عضلی نکروز ته ویل کیږی،ولی په عملی ډول، دزړه حاده احتشأ هغه وخت ورته ویلای شو چي د کلینیکي او لابراتواری پلوه دتشخیص وړ او پتولوژیکي بدلونونه پکي شتون ولری. د طبی تکنالوژی په پرمختلو سره ( په ځانګړی توګه د تروپونین په تعین سره)او س د میوکارډ ډیره کمه اندازه نکروز چي پخوا یی تشخیص نه کیدی ،هم په ګوته کیدای شی. (٦)
- د زړه هغه احتشأ چي پیکښي د ST سګمنټ لوړوالی شتون نلریNSTEMI ، د پتوجنیزس او کلینیکي تظاهراتو له مخی دunstable angina یا بی ثباته صدري خناق سره ورته والی لری. دواړه د حاد اکلیلی سندروم اجزاوی بلل کیږی، ولی یوازی د بیو مارکرونو (لکه troponin I [TnI] ، troponin T [TnT]او CKMB) د بدلونوله مخی سره توپیر کیږی. ( ۳)

**اسباب**

- د تخریب شوی یا خیری شوی پلک څخه د دمویه صفیحاتو غنی ترمبوز آ زادیدل ( عمده سبب).
- د دوران بندښت (د اکلیلی شراینو سپزم یا د اوعیی تقبض) په ځانګړی توګه د epicardial اویا subendocardial په اوعیو پکښي.
- د اوعیه شدی تنګوالی پرته له سپزم یا ترمبوز څخه.
- د اکلیلی شراینو د د وران په مقابل کي دوامداره میخانیکي مانعه.
- د اکلیلی شراینو التهاب، چي کیدای شی انتانی او یا غیر انتانی منشه ولری،او کیدای شی د پلک د توسع او یا تحرکیت سبب شی.
- د اکلیلی شریان تخریب، څیریدل او یا قرحات او د ترمبو جنیزس د عملیی پیل.

(c) ketabton.com: The Digital Library




- د کوکایین یا میت امفیتامین اعتیاد. ( ۳)

**پتوفزیا لوژی: د زړه احتشأ اکثراً د اتیروسکلیروتیک پلک د تخریب یا څیریدنی څخه چي د دمویه صفیحاتو څخه ډک ترمبوز ورسره مل وی را منځته او په ګړندی ډول د ماؤفه ساحی د وینی د جریان د کمښت سبب کیږی.په لږه اندازه ناروغی د میوکارډ د هغو ناروغیو له کبله چي د میوکارډ د اکسیجن اړتیا تر سپلای زیاته شی هم منځته راځی. ( ۳)**

**ورسره مل حالات**

- د خیتی د ابهر انوریزم
- د خارج قحفی د ماغی اوعیو ناروغی
- د محیطی اوعیو اتیرو سکلیروتیکي ناروغی




۱- ۷ شکل (الف: نورمال، ب: د حادی اسکیمیا ST لوړوالی، ج: د حادی احتشأ د Q موجه) (۳)

# اعراض اوعلایم

## تاریخچه

- جهدی یا پرته له جهده د صدر دروندوالی/ تنګوالی .

(c) ketabton.com: The Digital Library


- درد او یا نا آرامی چي د غاړی،زامی،شا، بازوګانو او یا شرصوفیه ناحیې ته خپریږی.
- د میوکارډ د اسکیمیا تاریخچه (ثابت یا غیر ثابت انجین،د زړه احتشا،د اکلیلی شراینو جراحی،او یا د PCI تر سره کول).
- د اکلیلی شراینو د ناروغیو د خطری عواملو او یا خون ریزی تاریخچه.
- **د درملو لکه** Phosphodiesterase-5 inhibitors **یا** nitrates **دوامداره تاریخچه**. (۳)

## فزیکي معاینه

- عمومی معاینه: تبه کله کیدای شی شتون ولری.
- عصبی:سرګنګسی،سنکوپ،سټریا،ضعفیت، او د ماغی تشوش.
- قلبی وعایی:دزړه بی نظمی،د وینی ټیټ فشار،د زړه د دریم او څلورم آ واز شتون،د غاړی د وریدونو توسع.
- تنفسی: سالنډی، د تنفس د تعداد زیاتوالی، د سږو آ وازونه.
- معدی معایی:دخیټی درد، زړه بدوالی، کانګی.
- عضلی اسکلیټی:د غاړی درد،د ملا درد،د اوږو درداو د بازوګانو درد.
- پوستکي: پوستکي یخ،خاثف او خولن وی. (۳)

## تفریقی تشخیص

- د Unstable angina سره (په ځانګړی توګه چي داسکیمیا بیو شیمیک مارکرونه شتون ونلری).
- د ابهر شریان څیریدنه.
- د ریوی شریان امبولی.
- د پلورا او پریکارډ التهاب.
- سوری شوی قرحات.
- د مرۍ او معدی ریفلکس ناروغیGERD او سپزم.
- د پانکراس او صفرا دردونه.
- د زړه بی نظمی یا ارریتمیا. (۳)

## درملنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


### طبي درملنه: لمړۍ خط

- اکسيجن : د ۲تر۴ ليتره په دقيقه کي ،چي د اکسيجن د مشبوعيت اندازه بايد تر ۹۰ سلنه زياته وساتل شي.
- مورفين سلفيټ د ۲ تر ۴ ملي ګرامه وريدي( کيداي شي د ۵ تر ۱۵ دقيقي وروسته تکرار شي).
- نايتروګليسيرين چي د ۰،۴ ملي ګرامه په اندازه هر ۵ دقيقي وروسته د ۳ ځلو لپاره استعماليداي شي، اووروسته کيداي شي چي د وريدي تطبيق لپاره تصميم ونيول شي.
- آسپرين،چي انتيريک کواټډ نه وي، لمړي دوز يي ۱۶۲ ملي ګرامه اوکيداي شي تر ۳۲۵ ملي ګرامه د خولي دلاري يا وژوول شي، همداراز clopidogrel لمړي دوز يي د ۳۰۰ تر ۶۰۰ ملي ګرامه ، اوپه تعقيب يي ۷۵ ملي ګرامه دورځي ( هغو ناروغانوته چي آسپرين نشي تحمل کولاي او يا هغه ناروغان چي و PCI ته اړتيا ولري).
- د خولي د لاري د beta-blocker درملو استعمال چي metoprolol او atenolol ته ترجيح ورکول کيږي،که يي مضاد استطباب شتون ونلري د لمړيو ۲۴ ساعتو په موده کي.
- د اړتيا په صورت کي د invasive يا محافظوي درملني لپاره تصميم نيول، او د دي درملني د خطراتو او ګټو په پام کي نيول:
- د تکراري انجين د حملاتو او بستر کيدو مخنيوي، چي تقريباً ۳۳ سلنه کمښت د ٦ تر ۱۲ مياشتو په موده کي راولي.
- په ځانګړي توګه د myocardial infarction د منځته راتلو په خطراتوکي د ۲۷ تر ۲۲ سلنه کمښت چي د ٦ تر ۱۲ مياشتي وروسته پيل او د ۳ تر ۵ کلونو دوام مومي. (۳)

### د وهم خط

- د ACE نهيه کونکي درمل، په ځانګړي توګه په هغو ناروغانوکي چي ريوي احتقان ولري، زيات مؤثر دي.
- د Nondihydropyridine calcium channel blocker درمل لکه verapamil او diltiazem په هغه صورت کي چي beta-blockers مضاد استطباب وي.
- د متکرري اسکيميا او قلبي عدم کفايه د درملني لپاره د وامداره تاثير لرونکي نايتريتونه
- د رخصت کيدو په وخت بايد ناروغ ته Sublingual NTG توصيه شي.
- د ليپيډونو د کمښت درملنه: ستاتين، نياسين يا فبريټ. (۳)

### عمومي اهتمامات

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په بستريا چوکي کي استراحت او د د وامداره ECG اخستل.
- د اړتيا په صورت کي بايد اريتميا تداوى شى،ولى وقايوى درملنه نه توصيه کيږى.
- د اظطراب د کموالى لپاره د اظطراب ضد درمل.
- د قبضيت د کموالى په منظور د غايطه موادو نرمونکي درمل.
- د عميقه وريدونو د ترمبوز د تشکل مخنيوى.
- د آسپرين،clopidogrel ، beta-blockers ، ACE inhibitors او ستاتين درملنى دوام
- د وينى د لوړ فشار منظم کنترول.
- متوقعه خپگان ته متوجه کيدل (چي تر MI وروسته معمول دى).
- د فزيکي تمريناتو زياتول او د سګريتو پريښود ل.
- په کال کي يوځل د انفلوينزا واکسين تطبيق. اود زړه ناروغيو د متخصص سره منظمه مشوره. (۳)

## جراحى

د اکليلى شراينو پرفيوژن اود شديدى اسکيميا لپاره د Intra-aortic balloon pump تطبيق.

د ستنټ اينبودل او د PCI ترسره کول.

د Coronary artery bypass graft (CABG) جراحى عمليات. ( ۳)

## مخنيوى (PREVENTION )

### ۱- ابتدايى مخنيوى PRIMARY PREVENTION

د هرى ناروغى ښه ترينه لاره د هغي مخنيوى دى، چي د ښه مخنيوى لپاره اړينه ده چي د ناروغۍ د رامنځته کيدو لامل په ګوته سي.

د اکليلى شرائينو د ناروغيو اسباب که څه هم واضح نه دى، ولى يو شمير خطرى فکتورونه په ګوته سويدى چي د دى ناروغيو په مخنيوى کي اغيزى ښندى، او زيات شمير وګړى يى مراعتوى، څکه نو په دي وروستيو کي د دى ناروغيو له کبله د مړينو کچه راکمه سويده.

**په ابتدائى مخنيوى کي بايد لاندى ټکي په پام کي ونيول سى:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د سګريټو او چلم پرېښودل: علمی څېړنوجوته کړېده چې د سګريټو او چلم څکول د اکليلی شرائينو څخه د مړينو کچه ۳۰۰ سلنه لوړولای سی.
- د وينی د غوړ منظمه معاينه: که د وينی غوړ لوړ وی نو بايد غذايي رژيم اصلاح او هم د وينی د غوړ د کمولو درمل استعمال سی.
- د صحی غذا استعمال: که مو دوينی غوړ لوړ هم نه وی بايد صحی غذا لکه د ماهی غوښه،سبزيجات، غلی دانی، لبنيات او ميوه جاتو څخه زياته ګټه واخستل سی.
- د وينی د فشار کنترول: بايد په منظم ډول د وينی فشار وکتل او کنترول سی.
- د چاغوالی مخنيوی: که مو وزن زيات وی بايد کم يی کړی. که څه هم چاغوالی په مستقيم ډول د اکليلی شرائينو د ناروغيو سره تړاو نلری، ولی کولای سی چې په غير مستقيم ډول د وينی د لوړ فشار له کبله اغيزه و ښندی.
- تمرين: بايد په منظم ډول او په اندازه هره ورځ تمرين تر سره سی.
- د روحی فشارونو کمول: هم کولای سی اغيزه ولری.
- ۲- ثانوی مخنيوی Secondary Prevention : د ثانوی مخنيوی اهتماماتو په پام کې نيولو سره د احتشأ د متکررو حملاتو او مړينو اندازه کميدلای شی. د حادی حملی تر تيريدلو سمدستی وروسته د ثانوی مخنيوی اهتمامات بايد پيل شی. د بستريدو پر وخت بايد په تشه خوا lipid profile تر سره، او ستاتين ناروغ ته تر بستر سمدستی وروسته پيل شی،ترڅو د LDL اندازه تر ۷۰ ملی ګرامه په ۱۰۰ ملی ليتره وينه کې کمه وساتل شی.سګريټ څکول چې د مړينی اندازه ۲ ځلی زياتوی ،بايد دMI تر حملی سمدستی وروسته پريښودل شی. (٦)

**په ( ۱- ۴ ) نمره جدول کې د ثانوی مخنيوی ټول اهتمامات ښودل شويدی (٦)**

| د رمل | اندازه | د نه استعمال د لېل | ګټنی |
|---|---|---|---|
| Aspirin | ابتدايی ۱۶۲- ۳۲۵ ملی ګرامه | د خون ريزی خطر | د مړينو، د حملاتو د تکرار او دماغی سکته کموی |
| | وروستی ۷۵- ۱۲٦ ملی ګرامه يوځل | د خونريزی خطر | |
| Clopidogrel | ابتدايی ۳۰۰ ملی ګرامه | | ترPCI وروسته د ۳ مياشتو تر ۱کال پوری استطباب |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| لری | | | |
| | | وروستی ۷۵ ملی ګرامه یوځل | |
| د مړینو، د حملاتو د تکرار ،ناخاپی مړینی،اریتمیا،د وینی د لوړ فشار، انجین او اتیروسکلیروزس پیشرفت کموی | استما، برډی کارډیا، او د زړه احتقانی عدم کفایه | Metoprolol د ۲۵ – ۲۰۰ یوځل | β-Blocker (e.g., metoprolol, carvedilol) |
| | | Carvedilol د ٦،۲۵ تر ۲۵ یوځل | |
| د مړینو، د حملاتو د تکرار ،ناخاپی مړینی،اریتمیا،د وینی د لوړ فشار، انجین او اتیروسکلیروزس پیشرفت کموی | د وینی کښته فشار،الرژی، هایپر کلیمیا | Ramipril د ۲،۵ تر ۱۰ ملی ګرامه یوځل | ACE inhibitor (e.g., ramipril, lisinopril) or ARB (e.g., valsartan, losartan) |
| | | Lisinoprilد ۵ تر ۱۰ ملی ګرامه یوځل | |
| | | د ۸۰ تر ۱٦۰ ملی ګرامه یوځل یا ۲ ځلی Valsartan | |
| | | Losartan: د ۵۰ تر ۱۰۰ ملی ګرامه یوځل | |
| د درملنی هدف دادی چي LDL باید تر ۱۰۰ اوحتی ۷۰ کم وساتل شی | Myopathy، rhabdomyolysis او د ینی التهاب | Atorvastatin: د ۱۰ تر ۸۰ ملی ګرامه یوځل | Lipid-lowering agent (e.g., a statin) (e.g., atorvastatin, simvastatin) |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| | Simvastatin:<br>د ۲۰ تر ۴۰ ملی گرامه یوځل | | |
| Nitroglycerin sublingual | د ۰،۴ ملی گرامه ترژبی لاندی د اړتیا په وخت کي | د ابهر تضیق، او د sildenafil (Viagra) استعمال | |

**اختلاطات او د هغو درملنه COMPLICATIONS OF MYOCARDIAL INFARCTION AND MANAGEMENT**

د زړه عدم کفایه / کارډیوجنیک شاک: د زړه تر احتشأ وروسته د زړه د عدم کفایه را منځته کیدل پر خرابو انذارو دلالت کوی او د مړینو د کچي د راکمیدلو په منظورو جدی طبی درملنی ته اړتیا لری. د Killip تصنیف په ذریعه دزړه هغه عدم کفایه چي د زړه تر احتشأ وروسته را منځته کیږی، تصنیف بندی کیږی. (۹)

**– KILLIP I ■ کریپیټیشن او دزړه دریم آ واز شتون نلری**

**– KILLIP II ■د سږو په تر ۵۰ سلنه کمه ساحه کي کریپیټیشن شتون لری او دزړه دریم آ واز اوریدل کیږی.**

**– KILLIP III ■ د سږو په تر ۵۰ سلنه زیاته ساحه کي کریپیټیشن شتون**

**– KILLIP IV ■ کارډیو جنیک شاک**

**د رملنه:** خفیفه عدم کفایه د ۴۰ تر ۸۰ ملی گرامه وریدی فوروزامیډ او ناتروگلیسیرین په تطبیق ښه والی مومی. که د اکسیجن تطبیق ته اړتیاوی باید په منظم ډ ول مونیتور سی.که د وینی فشار نارمل وی نوکولای شو چي ناروغ ته د ۲۴ تر ۴۸ ساته وروسته ACE نهیه کونکي درمل ورکول سی.

په شدیده عدم کفایه اخته ناروغانو ته د ریوی شراینو د داخلی فشار د تعین په منظور باید Swan–Ganz catheterization تطبیق او هم د ورید د لاری ورته dopamine یا dobutamine ورکول سی.

که ناروغ په کارډیو جنیک شاک کي وی نوباید ورته revascularization ترسره او ورته intra-aortic balloon pump تطبیق سی. (۹)

د میوکارډ ریپچر/ د چپه بطین انوریزم Myocardial rupture and aneurysmal dilatation

(c) ketabton.com: The Digital Library


د چپه بطین د آ زاد جدار رپچر اکثراً یو مقدم او وژونکي اختلاط تشکیلوی.ناروغ ته لمړی یو هیموډینامیک کولپس پیدا اووروسته زړه دریږی.درملنه یی معمولاً جراحی مداخله اوترمیم دی. همداراز د انوریزم تولید چي یو مؤخر اختلاط دی هم و جراحی ترمیم ته اړتیا لری. (۵)

**د زړه بی نظمی یا اریتمیا:** په د ی ناروغانوکي بطینی تکي کاردیا او بطینی فبریلیشن عمده اریتمیاوی تشکیلوی. دزړه د دریدنی په صورت کي ناروغ وdefibrillation ته اړتیا لری. بطینی تکي کارډیاوی د وریدی بیټا بلاکر درملو ( لکه metoprolol ۵ ملی گرامه، esmolol د ۵۰ تر ۲۰۰ ملی گرامه / کیلو / دقیقه ، lidocaine د ۵۰ تر ۱۰۰ ملی گرامه یا amiodarone د ۹۰۰ تر ۱۲۰۰ ملی گرامه په ۲۴ ساعته کي ) په ذریعه تداوی کیږی. که ناروغ هیپوټنشن ولری نو باید cardioversion ورته تطبیق سی، په داسی حال کي چي د سیروم پوتاشیم باید تر ۴،۵ ملی مول / لیتر زیات وی. د معند و بطینی تکي کارډ یاوو یا فبریلیشن په صورت کي باید ناروغ ته مگنیزیم ۸ ملی مول / لیتر په ۱۵ دقیقو کي د ورید دلاری تطبیق سی. بطینی فبریلیشن چي متکرراً واقع کیږی، د بیټا بلاکر او ډیجوکسین درملنی ته اړتیا لری. برډی اریتمیاوی کیدای سی چي د اتروپین په ذریعه تداوی سی چي په دی منظور ۰،۵ ملی گرامه توصیه او په ۴ ساعتونوکي تر ٦ ځلی تکراریدلای سی. د زړه د بلاکونو په شتون کي کیدای سی چي په موقتی ډول وtranscutaneous یا transvenous pacemakerته اړتیا ولیدل سی. (۵)

### د پریکارډ التهاب / DRESSLER'S SYNDROME

د زړه په احتشأ اخته ۲۰ سلنه ناروغانوکي څو ورځی تر حملی وروسته په ځانگړی توگه هغو ناروغانوکي چي د قدامی برخی احتشأ ولری او یا یی د سیروم انزایمونه لوړ وی را منځته کیږی. ولی وقوعات یی د ترمبو لیزس په درملنه سره راکم او د ۵ تر ٦ سلنی ته رسیږی. که نوموړی اختلاط ډیر ژر یعنی تر احتشأ یوه یا دوی ورځی وروسته را منځته سویوی، نو توپیر یی د انجین څخه ستونزمن کاردی، ولی د دقیقی تاریخچي او هم دوامداره ECG مونیتورنگ په صورت کي توپیر کیدلای سی. د پریکارډ التهاب مؤخر یعنی د احتشأ په ریکوری مرحله کي هم منځته را تلای سی، چي په دی صورت کي ورته Dressler's syndrome ویل کیږی او یو اوتوامیون عکس العمل دی چي د زړه د عضلی د تخریب په څواب کي تقریباً د ۲ تر ۱۰ اونیو وروسته منځته راځی او عمده علت یی د زړه د عضلی په مقابل کي اوتوامیون عکس العمل ښودل سویدی، څکه نو په دی ناروغانوکي د میوکارډ ضد انتی باډی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګانی کیدای سی اکثراً ترلاسه سی. د ناورغی عود معمول دی او تفریقی تشخیص یی باید د زړه د عضلی د نوی پیدا سوی احتشأ یا بی ثباته unstableانجین سره ترسره سی. (۵)

## د بطینی حجاب نقص (VSD) VENTRICULAR SEPTAL DEFECT

په یوازی ۲ سلنه ناروغانوکي کیدای سی را منځته او کیدای سی د مؤخر fibrinolysis سره یوځای وی. د دی اختلاط د شتون په صورت کي د مړینو کچه ډیره زیاته او د ۱۲ میاشتو په موده کي که عملیات نسی نو ۹۲ سلنی ته لوړیږی. د جراحی عملیات نه مخکي کیدای سی ناروغ ته -intra aortic balloon pump (IABP) او یا coronary angiography تر سره سی. (۵)

## د میترال د سام عدم کفایه MITRAL REGURGITATION

د ناروغی په لمړیو ورځو کي کیدای سی را منځته سی. دری میخانیکیتونه یی مسئولیت پرغاړه لری او د اسبابو د پوهیدلو په منظورو transoesophageal echocardiogram (TOE) ته اړتیا لیدل کیږی. IABP ، اکلیلی انجیو ګرافی،او مقدمه جراحی کولای سی د ناروغ سره مرسته وکړی او د ژوندی پاته کیدو موده یی اوږده کړی. (۵)

## د ښځو لنډیز

پر اتیروسکلیروزس برسیره د اکلیلی شراینو د ناروغیو عمده او وخیم ډول حاد اکلیلی سندروم جوړوی. د دی ناروغیو د جملی څخه صدري دردونه په ځانګړی ډول بی ثباته صدري دردونه اود زړه حاده احتشأ زیات خطرناکه او په روغتونوکي د بستراو هم زیاتو مړینو سبب کیږی.

د زړه د اکلیلی ناروغیو شیوع ورځ تر بلی د ژوند کولو د ډول د بدلون او هم د چاغوالی او د شکری ناروغیو د زیاتوالی له کبله زیاتوالی مومی. په نړی کي په دی ناروغیو باندی د اخته کیدو کچه نه یوازی په پر مختللو هیوادونو،بلکه په پرمخودی هیوادونوکي هم هڅ په زیاتیدو اټکل سویده.

نوموړی ناروغی د تشخیص له مخی اکثراً ا سانه او د دقیقی تاریخچي ، د زړه د ګراف په اخستلو او بیو مارکرونو په تعین سره کیدای سی یود بل څخه توپیر سی، ولی په یوشمیر ځانګړو حالاتوکي کیدای سی و زیاتو او پرمصرفه معایناتوته اړتیا ولیدل سی. (۴)

هلی ځلی د دی لپاره چي نوموړی ناروغی په لمړیو مرحلو کي،مخکي تر دی چي وژونکي مرحلی ته ورسیږی، تشخیص سی، مخ په زیاتیدو دی او د بیو مارکرونو په تعین سره کولای سو چي دی هدف ته ځان ورسوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د دې ناروغیو د تشخیص او درملنې لارې ورځ تر بلې بدلون مومي. او د نوي درملو کشف د ناروغۍ په درملنه کې ښه والی راوستلی دی. د بیولوژیکي مارکرونو تعین د دې ناروغیو د تشخیص، درملنې او پیلو لپاره اړین او ښه او ارزانه معاینه بلل کیږي.

د ناروغۍ په مخنیوي کې باید د خطر عوامل په پام کې ونیول سي او هم د ټولنې عامه پوهاوي اړین بلل کیږي، ځکه د ژوندانه د ډول بدلون د مخنیوي عمده اصل تشکیلوي. (۱۱)


(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- په لاندی گراف کې کوم بدلونونه لیدل کیږی، او پرخه د لالت کوی .




۲- په لاندی گراف کې کوم بدلونونه لیدل کیږی، او پرخه د لالت کوی.




۳- د میوکارډ د نکروز د معلومولو لپاره په لاندی جدول کې د بیومارکرونو اندازه ولیکي؟

| بیو مارکر | تر احتشأ وروسته سمدستی د لوړیدلو وخت | تر احتشأ وروسته اعظمی حد ته رسیدلو وخت | نورمال حالت ته را گرځیدنه |
|---|---|---|---|
| CK-MB | | | |
| Troponin T | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| Troponin I | | | |

**۴- صحیح جمله په ص او غلطه په غ سره په نښه کړی؟**

**۴- ۱ : د میوکارډ د اسکیمیا درد**

الف: د تمرین په ذریعه تولید او تر استراحت وروسته آ راموالی مومی.

ب: غاړی او زامی ته انتشار مومی، ولی غاښونوته نه رسیږی.

ج: تر استراحت نادراً ۱۰ ثانیی زیات دوام مومی.

د: د مریء د دردونو څخه په اسانی توپیر کیدای سی.

**۴- ۲ : هغه ناروغان چي د استراحت په وخت د صدر په منځنی برخه کي درد لری**

الف: د د رد انتشار د سکپولا منځ ناحیی ته د ابهر شریان پر دایزکشن د لالت کوی .

ب: د شا و خواته د درد بدلون د پریکارډ پر التهاب د لالت کوی.

ج: په نایترو ګلیسیرین باندی د درد ا راموالی د مریء التهاب رد کوی.

د: د خودکاره عصبی سیستم د اعراضو او علایمو شتون د قلبی دردونو لپاره وصفی دی .

**۴- ۳ : د شکمنو صدري دردونو په معایناتو کي**

الف: د استراحت په وخت د زړه ګراف اکثراً غیر نورمال وی.

ب: تر تمرین وروسته د وینی د فشار لوړیدل، پر وصفی اسکیمیا د لالت کوی.

ج: د تمرین په وخت د زړه د ګراف نورمال والی، د زړه د ناروغیو نه شتون په ګوته کوی.

د: فزیکي معاینه کوم ځانګړی ارزښت نلری.

**۴- ۴ : د صدري خناق د ناروغ په درملنه کي**

الف: د آ سپرین استعمال د صدري درد و نو د حملاتو شمیر کموی.

ب: نایتروګلیسیرین که بلع کړل سی او که تر ژبی لاندی ونیول سی، یوشانته اثر لری.

ج: د کلشیم د چینل ضد درمل کولای سی د محیطی اذیماً سبب سی.

د: د بیټا بلاکر درملو تطبیق د صدري خناق ضد نورو درملو په پرتله مؤ ثر دی.

**۴- ۵ : د اکلیلی شرائینو د ناروغیو د کلینیکي اعراضو د منځته راتلو خطرونه عبارت دی له**

(c) ketabton.com: The Digital Library


الف: د سگريټ څکولو په پرېښودلو سره کموالی مومی.

ب: د لږوالکهولو په چښلو سره کمیږی.

ج: د ها یپر فیبرینوجینیمیا په شتون کي زیاتیږی.

د: په هایپر کولیسترولیمیا سره زیات ولی هایپر ترای گلیسیرید یمیا وربانده اثر نلری.

**۴-۶ : بی ثباته صدري دردونه:**

الف: په ۱۵ سلنه پیښو کي د زړه په احتشأ باندی بدلیږی.

ب: د پلک د ریچر، ترمبوز یا د اکلیلی شراینو د سپزم له کبله منځته راځی .

ج: د انذارو د معلو مولو لپاره د بیړنی تمرین ټست ترسره کول استطباب لری.

د: د جهدی صدري دردونو دتکرار په تعقیب منځته راځی.

**۴-۷ : د زړه د حادی احتشأ اعراض اوعلایم عبارت دی له:**

الف: زړه بد والی او کانگی.

ب: د وینی ټیټ فشار او محیطی سیانوزس.

ج: سا ینوس تکي کارډیا یا ساینوس برډی کارډیا.

د: د هر ډول فزیکي معایناتو او اعراضو نه شتون.

**۴-۸ : هغه د ر ملنه چي د زړه تر حادی احتشأ وروسته د زیاتی مودی لپاره د انذار و د ښه والی سبب کیږی عبارت دی له:**

الف: اسپرین.

ب: نا یتریت.

ج: کلشیم انتا گونیست.

د: بیتا بلاکرونه.

**۴-۹ : هغه اریتمیا چي د زړه تر احتشأ وروسته منځته راغلی وی:**

الف: ټولو ساینوس برډی کارډیا وو ته باید اتروپین ورکول سی.

ب: د متکررو بطینی اکتوپیک موجو په شتون کي باید لیگنوکائین تطبیق سی.

ج: د بطینی فبریلیشن په شتون کي باید لیگنوکائین د کارډیوورژن ترمخه تطبیق سی.

د: په ټولو تکي ارریتمیاووکي د حاد دورانی کولپس په شمول کارډیوورژن استطباب لری .

**۵ سوال: د اتیروسکلروسیز په خطري عواملو کي شامل نه دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف: د سګریټو څکول، ب: حاملګي، ج: چاغوالی، د: خوږه ډيابيټ.


الف: بيتابلاکر، ب: مورفين،

ج: نايتروګلسرين، د: الف او ج دواړه صحيح دي.

**۷- سوال: د بيړنيومرستوپه ځانګه کي د STEMI د شکمنوناروغانو د درملنی بنسټيزې موخې وليکئ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم څپرکی

# دوینی دلوړفشار اړوند ناروغی

# Hypertensive Vascular Disease

د وینی اساسی لوړ فشار
د وینی ثانوی لوړ فشار
د وینی دلوړ فشار اثرات.
د وینی دلوړ فشار درملنه.
دوینی په لوړ فشار اخته ناروغانو سره معامله
دوینی خبیث لوړ فشار
بیړنی حالت
درملنه

## د څپرکي مقد مه

د زړه او رګونو ناروغی،په ځانګری توګه په صنعتی هیوادونوکي، اوس هم په نارینه او ښځو کي د مړینو عمده سبب تشکیلوی. د امریکا په متحده ایالاتو کي تر سرطان وروسته د مړینو دوهم عمده علت تشکیلوی. د زړه د ناروغیو عمده ډولونه د اکلیلی شراینو ناروغی، د زړه احتقانی عدم کفایه او د ماغی سکته تشکیلوی، او د وینی لوړ فشار د دی ناروغیو لپاره د خطر عمده لامل شمیرل کیږی،ځکه نو ویلای سو چي د وینی لوړ فشار یو زیاته وژونکي ناروغی ده.(۱۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امریکا په متحده آ یالاتو کي ٦٦ میلیونه وګړی د وینی په لوړ فشار اخته دی، چي د دی جملی څخه ۷۲ سلنه یی د خپلی ناروغی څخه خبر، یوازی ٦١ سلنه ناروغان درمل اخلی،او په ۳۵ سلنه ناروغانوکي ناروغی کنترول نه ده. د وینی د لوړ فشار شیوع د عمر په زیاتوالی سره زیاتوالی مومی او پیښنی یی په تور نژاد کي د سپینو په پرتله زیاتی دی. د مړینو کچه د وینی د لوړ فشار د دوو عمده اختلاطاتو، دماغی سکته او د اکلیلی شراینو ناروغی، له کبله د پخوا په پرتله د ۵۰ تر ٦۰ سلنه را کمی سوی، حال داچي د دوو نورو اختلاطاتو لکه د پښتورګو او زړه عدم کفایی له کبله مخ په زیاتیدو ده.(۲)

## د و ینی لوړفشا ر HYPERTENSION

### تعریف

که په یوه کا هل کس کی په او سط ډول په د ری ځلی معا ینا تو یا فشارکتلو کی چه په دروبیلابیلو وختونوکی سرته رسیدلی وی دو ینی سیستولیك فشار ۱۴۰ ملی متر سیماب او یا ترهغه لوړوی او یا د یا ستو لیك فشار ۹۰ ملی متر سیماب او یا تر هغه لوړوی د وینی د لوړ فشار په توګه تعر یف کیږی. (۲)

### اپیدیمولوژی

دوینی لوړ فشار تقریباً ۴/۱ برخه د کاهلانومصابوی(چي د امریکا په متحده ایالاتو کي تقریباً ٦۰ میلیونه وګړی،او د نړی په کچه ۱ بیلیون وګړی په دی ناروغی اخته دی)، او دنړی په کچه د مړینی عمده لامل شمیرل کیږی(٦ سلنه مړینه (۲))،ځکه یو عمده خطری عامل د مغزی فلج،د زړه د احتشا ،د زړه د عدم کفایی،او د پښتورګو د خرابوالی لپاره شمیرل کیږی. (۷،۲)

د وینی لوړ فشار د سن سره زیاتی اړیکي لری، او په پر مختللی هیوادونوکي چي وګړی یی د زیات وخت لپاره ژوند کوی، تقریباً تر ۹۰ سلنه زیات د عمر په آ خروکي د وینی په لوړ فشار اخته کیږی. (۵،۳)

پر عمر برسیره جنس هم د وینی په لوړ فشار کي اغیزی لری، تر ۵۰ کلنی د مخه د وینی د لوړ فشار شیوع په ښځوکي د نارینه وو په پرتله کمه ده (فکرکیږی چي د استروجن د محافظوی میخانیکیت له امله وی)،حال د ا چي تر مینوپوز وروسته دا فیصدی په بیره لوړه او ښځی د نارینه وو په پرتله زیاتی مصابیږی. (۵)

چاغوالی او د وزن زیاتوالی د واړه د وینی د لوړ فشار لپاره عمده خطری لاملونه تشکیلوی.او څیړنوجوته کړیده چي د وینی په لوړ فشار اخته ٦۰ سلنه ناروغان ترنورمال حد ۲۰ سلنه زیات وزن لری. (۲)

### اسباب

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د وینی لمړنی یا اساسی لوړ فشار : چې د وینی د لوړ فشار ۹۵ سلنه پیښبی تشکیلوی او سبب یی معلوم نه وی.
- د وینی ثا نوی لوړ فشار: چې د وینی د لوړ فشار ۵ سلنه پیښبی تشکیلوی او د لاندی اسبابو له کبله را منځته کیږی. (۱)

**الف:** د پښتورګو درګونو ناروغی،. ب: د پښتورګو د نسج ناروغی. ، ج: اندوکرینی ناروغی.

**د خطرعوامل**: چا غوالی، په الکهولو روږدیدل، د وینی د لوړ فشار فامیلی تاریخچه ، ارثی عوامل ، د شکری ناروغی، د ژوند کښته اجتماعی – اقتصادی سطحه ،او بوډا توب. (۱،۲،۷)

**(۲- ۱ ) نمره جدول د و ینو د فشا ر د ا ند ا ز ه کو لو طبقه بند ی** (۷)

| طبقه بندی | د وینی سیستولیک فشار(ملی متر سیماب) | د وینی ډ یاستولیک فشار( ملی متر سیماب) | تعقیب |
|---|---|---|---|
| **نارمل** | ۱۲۰ | ۸۴ | په هرو ۲ کلونوکي باید وکتل شی |
| **لوړ نورمال** | ۱۳۰- ۱۳۹ | ۸۵-۹۰ | هر ۱ کا ل وروسته باید وکتل شی |
| **د وینی خفیف لوړ فشار** | ۱۵۹-۱۴۰ | ۹۰-۹۹ | هر ۲ میاشتی وروسته باید وکتل شی |
| **د وینی متوسط لوړ فشار** | ۱۷۹-۱۶۰ | ۱۰۰-۱۰۹ | هر ۱ میاشت وروسته باید وکتل شی |
| **د وینی شدید لوړ فشار** | تر ۱۸۰ لوړ | تر ۱۱۰ لوړ | هر ۱ اونی وروسته باید وکتل شی |

## د وینی د اساسی لوړ فشارپه پتوجنیزیس کی لاند نی عوامل اغیزی لری

ا رثی عوامل، محیطی عوامل ( د بیلګی په ډول د ما لګی ډ یر خوړل)، د سمپا تیك عصبی سیستم زیا ت فعا لیدل، د رینین - انجیو تینسین سیستم ، د سود یوم په اطراح (Natriuresis) کی خرا بی ، د حجری د داخل سودیوم او کلسیوم د بیلانس خرابوالی.

**هغه عوامل چه د وینی د اساسی لوړفشارلپاره زمینه برابروی:**

(c) ketabton.com: The Digital Library


چاغوالی، د مالګی زیات خوړل، د الکهولو اوسګریټو استعمال، د فزیکي فعالیت کموالی، د درد ضد درملو خوړل، د پوتا شیم کم خوړل. (۱)

## د وینی د ثانوی لوړ فشارپه پتوجینیزیس کی لاندنی عوامل اغیزی لری

داستروجن استعما ل، د پښتورګو د نسج ناروغی، د پښتورګو د اوعیو ناروغی، لمړنی هیپرالدوستیرونیزم او Cushing's syndrome. فیوکروموسیتوما ، Coarctation of the aorta او د امیدواری سره یوځای دوینو لوړفشار. (۱)

**نوراسبا ب :** په وینه کي د کلسیم زیاتوالی، اکرومیګالی، د درقیه غدی فرط یا تفریط فعالیت.

## کلینیکی لوحه

**الف :** اعراض : د وینی خفیف اومتوسط لوړ فشار د ډیروکلونو لپاره بی عرضه وی.ډ یرمعمول عرض یعنی سردردی ډیره وصفی نه وی خو د اوکسیپیتا ل ناحیی درد چه د سهار پلوه زیا ت وی او د ورځی په اخیروکی له منځه ځی ډیروصفی وی . (۳)

که د وینی فشار په فوری ډول لوړ ولاړ شی د خوب وړلو ، ګنګستیا ، د لیدلو د خرابی او د زړه بدوالی او کانګو سره به یو ځا ی وی چه هیپرتینسیف انسفا لو پاتی ورته ویل کیږی. (۴)

د فیوکروموسیتوما په ناروغانو کی څرنګه چه ډیر نوراپی نفرین افرازیږی نو د وامداره لوړ فشارلری او یا کیدای شی چه د حملو په ډول وی.د زجرت ، د زړه د تپش ، خولی کیدلو ، خثافت ،رعشی ، او د زړه بدوالی او کانګو حملی منځته راځی چه د د قیقو او یا ساعتو لپاره دوام کوی. د لمړنی ا لدوستیرونیزم ناروغا ن د عضلاتو ضعفیت، پولی یوریا، او د شپی لخوا د بولو زیاتیدل د هیپو کا لیمیا له کبله لری.

که د وینو فشار د زیا ت وخت لپاره لوړوی د چپه بطین دهیپر تروفی سبب کیږی چه د ډ یا ستولیکی عدم کفایي سره به یو ځای وی.جهدی عسرت تنفس او د شپی له پلوه اشتدادی نفس تنګی به ولری. [۷]

که د و ینی فشار د اوږده مهال لپاره لوړوی، په شدید ه درجه وی او یا په سریع ډول لوړولاړسی د لاندنیو نتایجو سبب کیږی:

قلبی عدم معاوضه:د جهد په وخت کی نفس تنګی، دشپی له پلوه د ادرار زیاتیدل، ټوخی ، کمزوری، د کبدی احتقان له کبله د بطن د راسته علوی مربع د ردونه. (۴)

د شبکی تغیرات: سکوتوما ، د رویت مختل کیدل او حتی ړندیدل. (۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مرکزی عصبی سیستم اعراض:د سهارلخوا د سردرد، ګنګسی، د سردروندوالی، سرخرخیدل، دغوږو برنګس،اوسنکوپ. (۷)

د پښتورګو خرابوالی: اولیګیوریا، هیماتوریا، د دماغی حالت تغیرات، د وزن بایلل او کمزورتیا.

**ب: علایم** :د اعراضو په ډول ، فزیکی علایم هم د لوړفشار په علت ، د هغه په دوام اوشدت او پر مهمواعضاوو باندی دهغه د درجی له مخی توپیر مومی.

په لمړنی معاینه کی په د واړو لاسونو او پښو کی د وینو فشاروکتل شی،چه په مستقیمه توګه د شریان په داخل کی اویا په غیرمستقیمه توګه د یوه مناسب کف ترترلو وروسته د براکیال او یا رادیال شریا ن دجس اویا اصغا په وسیله سره اندازه کیږی.

د شبکی په معاینه کی د وریدونو د قطرترنیمایي د شریانو د قطرکمیدل، د مسی یانقره ای خطونو تشکل ، اګزودات ، خونریزی او د حلیمی پاړسوب که منځته راغلی وی خراب انذار ښئي.

د زړه او شراینوپه معاینه کی: د چپه بطین غټیدل د چپه بطین د ضربی یا heave سره لوړاو دوامداره هیپرتینشن راښئي.په زړوخلګوګی د ابهر د کلسیمک سکلیروز له کبله سیستولیک اجکشن مرمراورید ل کیدای شی.

د نبض په معاینه کی د لوړو اوکښتو طرفونو نبض سره پرتله شی ترڅو د ابهر موضعی تنګښت په ګوته کړل شی، ټوله لوی محیطی نبضونه جس شی ترڅو د ابهر څیریدل او اتیروسکلیروزیس رد کړل شی.

د پښتورګود شریانو په تنګښت کی د خیټی برویت هم شتون لری. (۲)

**ج : لابراتوار اونورمتممه معاینا ت**

د وینی په لوړ فشار اخته ناروغانوکي باید لاندی معاینات لکه د هیموګلوبین اندازه، د تشو متیازو معاینه، د پښتورګو وظیفوی ټستونه، د سیروم د پوتا شیم اندازه، د سیروم د ګلوکوز اندازه، او په پلاسما کي د لیپیدونو اندازه و کتل شی. (۱)

**د صدررادیوګرافی:** د وینی په غیراختلاطی لوړ فشار کی اړینه نه ده.

**الکتروکاردیوګرافی:**که ناروغی دوامداره اوشدیده وی په Tموجه او ST سګمنټ کی بدلون لیدل کیږی.

د وینی په لوړ فشار اخته ټولو ناروغانوکي باید لاندی معاینات ترسره شی ( ۷ )

- د ادرار معاینات د وینی، پروتین او ګلوکوز لپاره
- د وین یوریا،الکترولیتونه او کریاتینین

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د وینی ګلوکوز
- د سیروم دHDL اندازه کول
- د ۱۲ لیډونو دECG اخستل

## په ځانګړو حالاتو کي باید لاندی معاینات ترسره شی: ( ۷ )

- د صدر راډیوګرافی تر څو د زړه غټ والی، د زړه عدم کفایه او د ابهر coarctation که شتون ولری، ولیدل شی.
- د وینی د فشار منظم اندازه کول
- د ایکو کارډیو ګرافی ترسره کول، تر څو د چپه بطین د هایپرټروفی په ګوته شی
- د پښتورګو التراسونډ تر څو د پښتورګو د ناروغیو په اړوند معلومات ترلاسه شی
- د پښتورګو انجیو ګرافی تر څو د کلیوی شریان تنګوالی په ګوته شی
- په ادرار کي د کتیکول امین تعینول تر څو دphaeochromocytoma اړوند معلومات ترلاسه شی
- د Cushing's سندروم دتشخیص لپاره د ادرار د کورتیزول او ډکزامیتازون ټسټ
- د ابتدایی الدوستیرونیزم د تشخیص لپاره د پلاسما د رینین او الدوستیرون تعین
- د خیټی MRI ، CT scan او التراسونډ

**د شبکي معاینه**: دوینی په لوړ فشار اخته ناروغانوپه شبکیه کي لاندی بدلونونه موندل کیږی:

**لمړی درجه:** په دی وخت کي د شبکیی اوعیه معوجه او شراین روښانه اوبریښندوکي معلومیږی چي ورته silver wiring ویل کیږی.

**د وهمه د رجه**: پر پورته بدلونونوبرسیره په هغو ځایوکي چي وریدونه پر شراینو برسیره وی په شراینوکي دفشار راوړلو علامه یا nipping لیدل کیږی.

**د ریمه د رجه** : پرپورته د واړو ډولوبدلونوبرسیره په شبکیه کي داور د لمبی په ډول flame-shaped خونریزی او هم د پاشلی پنبی په ډول اګزوډات لیدل کیږی چي د cotton-wool په نوم یادیږی.

**څلورمه د رجه** : پر پورته ټولو بدلونو برسیره د سترګی د عصب د قاعدی یا optic disc پاړسوب شتون لری چي ورته papilledema ویل کیږی. (۷)

## اختلاطات

که د وینی لوړ فشار تداوی نشی لاندنی اختلاطات منځته راوړی:

(c) ketabton.com: The Digital Library


د زړه ناروغی، د د ماغی اوعیو ناروغی ، د پښتورګو خرابوالی، د ابهر شریان څیریدل ، ا تیرو سکلیروتیک اختلاطات (۱)

## د رملنه

د درملنی هدف : د وینی د لوړ فشار د رملنه باید د و ینی ډ یاستولیك فشارتر ۹۰ ملی متر سیماب او سیستولیك فشار تر ۱۴۰ ملی متر سیماب کنبته وساتی.

د لوړ

خطر په لرونکو ناروغانو ( لکه د شکری ناروغان او د پښتورګی عدم کفایه ) کی د و ینی فشار د ۸۵/۱۳۰ ملی متر سیماب په شاوخوا کی باید وساتل شی.

## عمومی اهتمامات

د وزن کمول، د الکهولو چښل کم اومحدود کړل شی، د فز یکی فعا لیتونو اندازه ز یا ته کړل شی.

د مالګی خوراك کم کړل شی، په کافی اندازه سره پوتاسیوم وخوړل شی، په کافی اندازه سره کلسیوم اومګنیز یوم وخوړل شی ، د سګر یتو دڅکولو څخه ډډه وشی. په خوړو کی دمشبوع غوړیو او کولیسترول خوراك کم کړل شی.( ۱)

## فارمکولوژیکي درملنه

تر ۱۰۰ ډوله زیات د وینی د فشار کښته کونکي درمل شته، چي لاندی ورڅخه یادونه کیږی.

په (۲- ۲ ) نمره جدول کي د وینی د لوړ فشار د فمی در ملو اندازه ښودل شویده (٦)

| درمل | ورځنی اندازه (ملی ګرام) | د پیل اندازه (ملی ګرام) | |
|---|---|---|---|
| مدررات DIURETICS | | | |
| د تیازید مشفقات | | | |
| Chlorthalidone | ٦،۵ تر ۵۰ | ۱۲،۵ | |
| HCTZ | ٦،۵ تر ۵۰ | ۱۲،۵ | |
| Indapamide | ۱،۲۵ تر ۵ | ۱،۵ | |
| Metolazone | ۲،۵ تر ۵ | ۲،۵ | |
| لوپ ډ یوریتیکونه | | | |
| Bumetanide | ۰،۵ تر ۲ | ۱ | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| درمل | ورځنۍ اندازه (ملی ګرام) | د پیل اندازه (ملی ګرام) |
|---|---|---|
| Ethacrynic acid | ۲۵ تر ۱۰۰ | ۲۵ |
| Furosemide | ۲۰ تر ۱٦۰ | ۲۰ |
| Torsemide | ۲،۵ تر ۲۰ | ۵ |
| د پوتاشیم ساتونکي ډ یوریتیکونه | | |
| Amiloride | ۵ تر ۲۰ | ۱۰ |
| Eplerenone | ۲۵ تر ۱۰۰ | ۲۵ |
| Spironolactone | ٦،۲۵ تر ۴۰۰ | ٦،۲۵ |
| Triamterene | ۲۵ تر ۱۰۰ | ۳۷،۵ |
| د β-BLOCKERS مشتقات | | |
| Acebutolol | ۲۰۰ تر ۸۰۰ | ۲۰۰ |
| Atenolol | ۲۵ تر ۱۰۰ | ۲۵ |
| Betaxolol | ۵ تر ۲۰ | ۵ |
| Bisoprolol | ۲،۵ تر ۲۰ | ۲،۵ |
| Carteolol | ۲،۵ تر ۱۰ | ۲،۵ |
| Metoprolol | ۵۰ تر ۴۵۰ | ۵۰ |
| Metoprolol XL | ۵۰ تر ۲۰۰ | ۵۰ |
| Nadolol | ۲۰ تر ۳۲۰ | ۴۰ |
| Penbutolol | ۱۰ تر ۸۰ | ۱۰ |
| Pindolol | ۱۰ تر ٦۰ | ۱۰ |
| Propranolol | ۴۰ تر ۱۸۰ | ۴۰ |
| Propranolol LA | ٦۰ تر ۱۸۰ | ٦۰ |
| Timolol | ۲۰ تر ٦۰ | ۲۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| درمل | ورځنۍ اندازه (ملی ګرام) | د پیل اندازه (ملی ګرام) |
|---|---|---|
| د β-/α-BLOCKERS مشتقات | | |
| Carvedilol | ٦،٢٥ تر ٥٠ | ٦،٢٥ |
| Labetalol | ٢٠٠ تر ٢۴٠٠ | ٢٠٠ |
| د CALCIUM-CHANNEL BLOCKERS مشتقات | | |
| د Dihydropyridines مشتقات | | |
| Amlodipine | ٢،۵ تر ١٠ | ٢،۵ |
| Felodipine | ٢،۵ تر ٢٠ | ٢،۵ |
| Isradipine CR | ٢،۵ تر ٢٠ | ٢،۵ |
| Nicardipine SR | ٣٠ تر ١٢٠ | ٣٠ |
| Nifedipine XL | ٣٠ تر ١٢٠ | ٣٠ |
| Nisoldipine | ١٠ تر ۴٠ | ١٠ |
| د Non-dihydropyridines مشتقات | | |
| Diltiazem CD | ١٢٠ تر ۵۴٠ | ١٨٠ |
| Verapamil HS | ١٢٠ تر ۴٨٠ | ١٨٠ |
| د ACE نهیه کونکي | | |
| Benazepril | ١٠ تر ٨٠ | ٢٠ |
| Captopril | ٢۵ تر ١۵٠ | ٢۵ |
| Enalapril | ٢،۵ تر ۴٠ | ۵ |
| Fosinopril | ١٠ تر ٨٠ | ٢٠ |
| Lisinopril | ۵ تر ٨٠ | ۴٠ |
| Moexipril | ٧،۵ تر ٣٠ | ٧،۵ |
| Perindopril | ۴تر ١٦ | ۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| درمل | ورځنۍ اندازه (ملی ګرام) | د پیل اندازه (ملی ګرام) |
|---|---|---|
| Quinapril | ۵ تر ۸۰ | ۴۰ |
| Ramipril | ۲،۵ تر ۲۰ | ۲،۵ |
| Trandolapril | ۱ تر ۸ | ۲ |
| د ANGIOTENSIN RECEPTOR BLOCKERS مشتقات | | |
| Candesartan | ۸ تر ۳۲ | ۱٦ |
| Eprosartan | ۴۰۰ تر ۸۰۰ | ۴۰۰ |
| Irbesartan | ۱۵۰ تر ۳۰۰ | ۱۵۰ |
| Losartan | ۲۵ تر ۱۰۰ | ۵۰ |
| Olmesartan | ۵ تر ۴۰ | ۲۰ |
| Telmisartan | ۲۰ تر ۸۰ | ۴۰ |
| Valsartan | ۸۰ تر ۳۲۰ | ۱٦۰ |
| د α-BLOCKERS مشتقات | | |
| Doxazosin | ۱ تر ۱٦ | ۱ |
| Prazosin | ۱ تر ۴۰ | ۱ |
| Terazosin | ۱ تر ۲۰ | ۱ |
| Phenoxybenzamine | ۲۰ تر ۱۲۰ | ۲۰ |
| د CENTRAL SYMPATHOLYTICS مشتقات | | |
| Clonidine | ۰،۲ تر ۱،۲ | ۰،۲ |
| Clonidine patch | ۰،۱ تر ۰،٦ په اونی کي | ۰،۱ په اونی کي |
| Guanabenz | ۲ تر ۲۳ | ۲ |
| Guanfacine | ۱ تر ۳ د خوب پر وخت | ۱ |
| Methyldopa | ۲۵۰ تر ۱۰۰۰ | ۲۵۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| درمل | ورځنۍ اندازه (ملی ګرام) | د پیل اندازه (ملی ګرام) |
|---|---|---|
| Reserpine | ۰،۰۵ تر ۰،۲۵ | ۰،۰۵ |
| د DIRECT VASODILATORS مشتقات | | |
| Hydralazine | ۱۰ تر ۲۰۰ | ۲۰ |
| Minoxidil | ۲،۵ تر ۱۰۰ | ۲،۵ |
| د FIXED-DOSE COMBINATIONS درملونه | | |
| Amiloride/HCTZ | ۵۰/۵ | ۵۰/۵ |
| Amlodipine/benazepril | ۱۰-۲۰/۲،۵-۵ | ۱۰/۲،۵ |
| Atenolol/chlorthalidone | ۲۵/۵۰-۱۰۰ | ۲۵/۵۰ |
| Benazepril/HCTZ | ٦،۲۵-۲۵/۵-۲۰ | ٦،۲۵/۲۰ |
| Bisoprolol/HCTZ | ٦،۲۵/۲،۵-۱۰ | ٦،۲۵/۲،۵ |
| Candesartan/HCTZ | ۱۲،۵-۲۵/۱٦-۳۲ | ۱۲،۵/۱٦ |
| Enalapril/HCTZ | ۲۵/۵-۱۰ | ۲۵/۵ |
| Eprosartan/HCTZ | ۱۲،۵-۲۵/٦۰۰ | ۱۲،۵/٦۰۰ |
| Fosinopril/HCTZ | ۱۲،۵/۱۰-۲۰ | ۱۲،۵/۱۰ |
| Irbesartan/HCTZ | ۱۲،۵-۲۵/۱۵۰-۳۰۰ | ۱۲،۵/۱۵۰ |
| Losartan/HCTZ | ۱۲،۵-۲۵/۵۰-۱۰۰ | ۱۲،۵/۵۰ |
| Olmesartan/HCTZ | ۱۲،۵/۲۰-۴۰ | ۱۲،۵/۲۰ |
| Spironolactone/HCTZ | ۲۵/۲۵ | ۲۵/۲۵ |
| Telmisartan/HCTZ | ۱۲،۵-۲۵/۴۰-۸۰ | ۱۲،۵/۴۰ |
| Trandolapril/verapamil | ۱۸۰-۲۴۰/۲-۴ | ۱۸۰/۲ |
| Triamterene/HCTZ | ۲۵/۳۷،۵ | ۲۵/۳۷،۵ |
| Valsartan/HCTZ | ۱۲،۵-۲۵/۸۰-۱٦۰ | ۱۲،۵/۱٦۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د وینی د لوړ فشار د درملنی اصول

### لمړی انتخاب

- د ACE نهیه کونکي درمل یا د angiotensin II آخذو ضد درمل یا د کلسیم د چینل بلاک کونکي درمل یا په کمه اندازه د تیازید ډیوریتیکونه ( یوازی په هغو ناروغانوکي چي عمریی تر ٦٥ کلونو زیات وی).

### که د وینی د فشار هغه اندازه چي غواړو پلاس را نغله، نو بیا

- د ACE نهیه کونکي درمل + د کلسیم د چینل بلاک کونکي درمل + په کمه اندازه د تیازید ډیوریتیکونه

### که بیاهم د وینی د فشار هغه اندازه چي غواړو پلاس را نغله، نو بیا

- که د ACE نهیه کونکي درمل استعمالوی نوورسره د angiotensin II آخذو ضد درمل هم علاوه کړی او په ضمن کي یو بل درمل هم ورسره یوځای کړی
- د وینی په غیر اختلاطی لوړ فشار کي د Beta – Blocker درمل د لمړی خط درملو په ډول نه توصیه کیږی،ځکه د شکری په ناروغی د اخته کیدو خطر زیاتوی.
- له دی کبله چي د تیازید ډیوریتیکونه هم د شکری په ناروغی د اخته کیدو خطر زیاتوی، ځکه نو په هغو ناروغانوکي چي د ګلوکوز په مقابل عدم تحمل لری او یا په میتابولیک سندروم اخته وی، باید په ډیر احتیاط و کارول شی.

### د وینی خبیث لوړ فشار Malignant hypertension

د وینی خبیث لوړ فشار هغه سندروم ته ویل کیږی چي د وینی په لوړ فشار اخته ناروغ کي په ناڅاپی ډول زیات لوړ ولاړسی او یا داچي په روغ شخص کي په ناڅاپی ډول ډ وینی فشار ډیر لوړ شی.

د پتولوژی له نظره، په دی ناروغی کي د کوچنیو اوعیو نکروزی التهاب، د شراینو ترمبوز او د اوعیو په جدار کي د فبرین تراکم چي ورته فبرینوېید نکروزوایی، رامنځته کیږی.

د کلینیک له نظره، ناروغی معمولاً د وینی د لوړ فشار په شتون کي د حیاتی غړو د بیړنی او پرمختللی تخریب لکه دشبکي دریمه یا څلورمه درجه آفات، د پښتورګو تخریب یا پروتین یوریا، اویا د وینی د لوړ فشار له کبله د ماغی ماؤفیت ، سره وصفی کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ناروغی د تشخیص په منظور د ناروغ په تاریخچه کي باید د یوشمیر درملو لکه MAOنهیه کونکي، امفیتامین اویا کوکائین پوښتنه ترسره شی.

په دی ناروغانوکي باید درملنه په ډیر احتیاط ترسره او یود م د ناروغ فشار کښته یا نورمال حالت ته را ونه کرځول شی، ځکه کیدای شی د دماغی اسکیمیا او یا د پښتورګو یا اکلیلی شراینو د دوران کموالی سبب شی.

د درملنی ابتدایی هدف دادی چي د وینی فشار باید د ۳۰ دقیقو څخه بیا تر ۲ ساعتو پوری تر ۲۵ سلنه او یا تر ۱۶۰/ ۱۰۰-۱۱۰ ملی متر سیماب راټیټ نشی. د دی هدف لپاره معمولاً د وریدی درملو د تطبیق څخه کار اخستل کیږی.

هغه ناروغان چي د وینی په خبیث لوړ فشار اخته ولی د ماغی آ فات یی نه وی ورکړی، د هغوی فشار باید د دقیقو نه بلکه په کراره د ساعتو په موده کي راټیټ کړل شی. چي د دی هدف لپاره نوباید دی ناروغانوته د لنډ تا ثیر لرونکي درمل لکه captopril ، clonidine یا labetalol په وقفوی ډ ول د خولی دلاری ورکول شی.

د چپه بطین عدم کفایه کیدای شی را منځته ، او که تداوی نشی،نو د میاشتو په موده کي مړینه را منځته کیږی. که یی درسته درملنه ونشی نو یوازی ۲۰ سلنه ناروغان د یوه کال لپاره ژوندی پاته کیدای شی.

اکثر ناروغان چي د بیړنیو مرستو ځانګی ته د وینی د لوړ فشار له کبله مراجعه کوی معمولاً یا خپل درمل په درسته توګه نه خوری اویا داچي درسته درملنه یی نه ده شوی. له دی کبله نوباید د ۷۲ ساعتو نو لپاره دی ناروغانوته د خولی دلاری منظم د وایی رژیم توصیه ، او په دی منظور ښه ترین درمل labetalol تشکیلوی چي د ۲۰۰ تر ۳۰۰ ملی ګرامه هر ۲ یا ۳ ساعته وروسته ورکول کیږی، او وروسته بیا د ا اندازه د ورځی ۲ ځلی ته را ټیټیږی. که چیری β-blocker درمل مضاد استطباب وی نوبیا د clonidine څخه کار اخستل کیږی،چي په ابتدا کي د ۰،۱ تر ۰،۲ ملی ګرامه پیل او بیا هر یو ساعت وروسته ۰،۱ ملی ګرام ورکول کیږی. کله چي ناروغ رخصت شو نوباید دا درمل د ورځی ۲ ځلی په پورته ذکرشوی دوز ورته توصیه شی.

د ACE د نهیه کونکو د جملی څخه چي ژر تا ثیر لری یو هم Captopril دی چي د وینی لوړ فشار د ۱۵ تر ۳۰ دقیقو په موده کي را ټیټوی، دا درمل باید لمړی ځل په واړه دوز یعنی د ۶،۲۵ ملی ګرامه څخه پیل، اووروسته و ۲۵ ملی ګرامه ته لوړیږی، چي کیدای شی هر ۱ یا ۲ ساعته وروسته تکرار او وروسته بیا د ۲۵ تر ۷۵ ملی ګرامه د ورځی دوه ځلی ورکول شی. (۴،۶،۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ناروغی انذار خراب او د وینی لوړ فشار عموماً د ژوندی پاتی کیدو چانس کموی او هم د مړینو سبب کیږی. مړینه معمولاً د اختلاطاتو په ځانګړی توګه د زړه د عدم کفایی، دماغی سکتی او یا د پښتورګو د عدم کفایه په نتیجه کي را منځته کیږی.

د وینی د لوړ فشار مناسب کنترول کولای سی چي په لاندی ډول په یو شمیر اختلاطاتو کي کمی را ولی، چي عبارت دی له:(۹)

۱- په د ماغی سکته کي د ۳۵ تر ۴۰ سلنه کمښت.

۲- د اکلیلی شراینو په ناروغیو کي د ۲۰ تر ۳۰ سلنه کمښت.

۳- د زړه په احتقانی عدم کفایه کي د ۵۰ تر ۶۰ سلنه کمښت.

۴- د زړه د ناروغیو ځخه په مړینه کي ۲۰ سلنه کمښت.

په( ۲- ۳ ) نمره جدول کي د وینی د لوړ فشار د بیړنی حالت د کنترول لپاره د زرقی درملو اندازه او نور خصوصیات ښودل سویدی (٦)

| د درمل نوم | د تاثیر موده | اندازه | احتیاط |
|---|---|---|---|
| د اوعیو توسع ورکونکي زرقی درمل | | | |
| Sodium nitroprusside | بیړنی | د ۰،۲۵ تر ۱۰ میکروګرامه/کیلو/دقیقه د وریدی انفیوژن په ډول | د وامداره استعمال یی د تیوسیانیټ د تسمم سبب کیږی |
| Nitroglycerin | ۲تر۵ دقیقی | د ۵ تر ۱۰۰ میکروګرامه/ دقیقه د وریدی انفیوژن په ډول | د سردرد، تکي کارډیا او تحمل |
| Nicardipine | ۱تر۵ دقیقی | د ۵ تر ۱۵ میکروګرامه/ ساعت د وریدی انفیوژن په ډول | تر د وامداره استعمال وروسته د وینی د فشار ټیټوالی |
| Fenoldopam | ۱تر۵دقیقی | د ۰،۱ تر ۰،۳ میکروګرامه/کیلو/دقیقه د وریدی | د سردرد، |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| احتیاط | اندازه | د تاثیر موده | د درمل نوم |
|---|---|---|---|
| تکي کارډیا، د سترگی د داخلی فشار زیلتوالی | انفیوژن په ډول | | mesylate |
| د وینی د فشار زیات را ټیټول،تکي کارډیا او د صدري دردونو شدیدول | د ۵- ۱۰ ملی گرامه د وریدی بولس دوز په ډول، یا د ۱۰ – ۴۰ ملی گرامه عضلی، تکرار یی هر ۴ یا ٦ ساعته وروسته | ۱۰ دقیقی تروریدی زرق وروسته | Hydralazine |
| د وینی د فشار زیات را ټیټول، په هغو ناروغانوکي چي د دواړو طرفو کلیوی شرائنو تنگوالی ولری د پښتورگو حاده عدم کفایه | د ۰،٦۲۵ تر ۱،۲۵ ملی گرامه د وریدی بولس دوز هر ٦ ساعته وروسته | ۱۵تر٦۰ دقیقی | Enalaprilat |
| د اد رینرجیک آ خذو زرقی نهیه کونکي | | | |
| د قصباتو سپزم، د زړه بلاک، | د ۲۰ تر ۸۰ ملی گرامه کرار وریدی زرق په ۱۰ دقیقوکي،یا د ۰،۵ تر ۲ ملی گرامه په دقیقه کي د وریدی انفیوژن په ډول | ۵تر۱۰ دقیقی | Labetalol |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| د درمل نوم | د تاثير موده | اندازه | احتياط |
|---|---|---|---|
| | | | اورتوستاتيک هايپوتنشن |
| Metoprolol | ۵تر۱۰ دقيقې | ۵ ملی ګرامه وريدی زرق په ۱۰ دقيقوکي دری ځلی | د قصباتو سپزم، د زړه بلاک، د زړه عدم کفايه، او د کوکائين څخه پيداشوی د زړه د احتشا زياتوالی |
| Esmolol | ۱تر۵ دقيقې | ۵۰۰ ميکروګرامه/کيلو وريدی زرق په ۳ دقيقو کي ، وروسته د ۲۵ تر ۱۰۰ ملی ګرامه/کيلو/دقيقه د وريدی انفيوژن | د قصباتو سپزم، د زړه بلاک، د زړه عدم کفايه |
| Phentolamine | ۱تر۲ دقيقې | د ۵ تر ۱۰ ملی ګرامه د وريدی بولس دوز هر ۵ تر ۱۵ دقيقې وروسته | تکي کارډيا، اورتوستاتيک هايپوتنشن |

## د څپرکي لنډيز

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وینی لوړ فشار چي تقریباً ۴/۱ برخه د نړی د نفوس ،په ځانګړی توګه غربی هیوادونو ، مصابوی، د زړه د زیاتو ناروغیو، او پښتورګی د عدم کفایه، یو عمده خطری عامل بلل کیږی. د وینی د لوړ فشار د دقیق تعین لپاره باید د وینی فشار په ۲۴ ساعته کي څوځلی او په بیلو حالاتو کي و کتل سی. د وینی په لوړ فشار اخته ناروغانوکي د عصری معایناتو د جملی څخه یو هم د حیاتی غړو لکه د چپه بطین هایپر تروفی، او د پښتورګود میکرو البومین یوریا،د مصابیت معلومول تشکیلوی.

د وینی د لوړ فشار د ثانوی اسبابو تشخیص هم باید په پام کي وی،ځکه د ناروغی د ښه تشخیص او درملنی لپاره اړینه ده تر څو ورسره مل قلبی او نوری ستونزی هم و پوهیدل سی.

د وینی د لوړ فشار تر تشخیص وروسته د یو شمیر اړینو اهتماماتو لکه د ژوند د ډول بدلون، د منظموتمرینو ترسره کول، دوزن کمول او د صحی غذا خوړلو برسیره باید فارمکولوژیکي درملنه هم پیل سی، ځکه د درملو استعمال کولای سی د یوشمیر اختلاطاتو لکه دماغی سکته، د پښتورګو او زړه عدم کفایه، دزړه د اکلیلی شراینو د ناروغیو او د شکری په ناروغی د اخته کیدو مخه ډبوی.

د وینی د لوړ فشار عصری درملنه معمولاً د وه درمل یوځای توصیه کوی تر څو وکولای سی په عادی ناروغانوکي د وینی فشار تر ۹۰/۱۴۰ ملی متر سیماب کښته او د شکری او د زړه په ناروغیو اخته ناروغانوکي تر ۸۰/۱۳۰ ملی متر سیماب کښته وساتی.

د وینی د لوړ فشار پر درملو برسیره اسپرین او ستاتین هغه وخت ناروغ ته علاوه کیدای سی چي ترلس کلنی درملنی وروسته د زړه په ناروغیو د اخته کیدو کچه تر ۲۰ سلنی زیاته اټکل سی.

## د څیړکي اړونده پوښتنی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱- صحیح جمله په ص او غلطه په غ سره په نښه کړی؟**

**۱- ۱ : د ACE نهیه کونکو درملوپه اړوند**

الف: نوموړی درمل د انجیو تنسینوجن تبدیل په انجیوتنسی ۱ باندی کموی.

ب: ټوخی د جانبی عرض په ډول په دی درملو کي د انجیوتنسین ۲ درملو په پرتله کم دی.

ج: د لمړی دوز تر تطبیق وروسته هایپوتنشن په هغه ناروغانوکي چي مخکي د یوریتیک اخستل غیر معمول دی.

د: د رد ضد غیر ستیروئیدی درملو یو ځای تطبیق د پښتورگو د عدم کفایي چانس زیاتوی.

**۱- ۲ : د وینی د ثا نوی لوړ فشار عمده علت عبارت د ی له:**

الف: Persistent Ductus Arteriosus.

ب: Primary hyperaldosteronism.

ج: Acromegaly.

د: Thyrotoxicosis.

**۱- ۳ : د وینی د لوړ فشار اختلاطات عبارت دی له**

الف: د شبکي میکرو انوریزم.

ب: د ریوی شریان تنگوالی.

ج: د ماغی سکته.

د: سب دورل خون ریزی.

**۱- ۴ : د وینی د لوړ فشار په معایناتوکي:**

الف: د هایپرکلیمیک میتابولیک اسیدوزس شتون پرهایپر الدوستیرونیزم د لالت کوی.

ب: د اد رار معاینه د وینی، گلوکوز او پرټین لپاره اړینه ده.

ج: د الکترولیتونو د غیر نورمال توب عمده دلیل د ډیوریتیک درملو استعمال دی.

د: د کلیوی شریان د تنگوالی د تشخیص لپاره Excretion Urographyگټوره معاینه ده.

**۱- ۵ : د وینی خبیث لوړ فشار هغه وخت ویلای سو چي د وینی لوړ فشار او:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف: د زړه دوهم آ واز برجسته او لوړوی.

ب: د heaving apex beatشتون.

ج: په شبکه کي Soft Exudatesاو خونریزی موجوده وی .

د: د پښتورګو یا زړه عدم کفایه موجوده وی.

**۱-٦ : د وینی د خبیث لوړ فشار په بیړنی درملنه کي:**

الف: څخه هدف دادی چي د ناروغ سیستولیک فشار په ٦٠ د قیقو کي نورمال سی.

ب: د ورید دلاری درملنه ته د خولی تر د رملنی ګتوره ده.

ج: د او عیو توسع ورکونکي درمل د دی لپاره چي afterloadکم کړی باید توصیه سی.

د: که د کلیوی شریان پر تنګوالی شکمن یاست نود ACE نهیه کونکي درمل استطباب لری.

**۱-۷ : د وینی د خفیف یا متوسط لوړ فشار په درملنه کي:**

الف: د انذارو د ښه والی په منظور د وزن کمول د سګریټو د پریښودلو په پرتله زیات ارزښت لری.

ب: که د زړه یا پښتورګو ناروغی شتون ولری، نو درملنه چندان ګټوره نه وی.

ج: هغه ناروغان چي عمر یی تر ٧٠ کلونو زیات وی اغیزمنه درملنه ورته شتون نلری.

د: د درملنی مؤثریت د د ماغی سکتی د خطر په کمولوکي د زړه د ناروغیو د خطر د کمولو په پرتله زیات دی .

**۱-۸ : د وینی د لوړ فشار په فارمکولوزیکي درملنه:**

الف: د تیازاید مرکبات تر یوی اونی تطبیق وروسته اعظمی اثرات ښئی.

ب: د ACE نهیه کونکي درملو تطبیق کیدای سی د هایپر کلیمیا سبب سی.

ج: د تیازاید مرکبات کیدای سی هایپو یوریسیمیا را منځته کړی.

د: د بیټا بلاکر درملو تطبیق کیدای سی د پلاسمأ د کولستیرول اندازه زیاته کړی.

**۲- د وینی د لوړ فشار په اړوند یوازی درسته جمله په نښه کړی:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف: یوازی د وینی د سیستولیک فشار لوړ والی د اندازو له کبله ارزښت نلری.

ب: په زیاتو ناروغانوکي د پلاسما د رینین اندازه نورماله وی.

ج: د نړی د کاهلانو ۱۵ سلنه د وینی اساسی لوړ فشار لری.

د: د وینی په لوړ فشار اخته یوازی ۱۵ سلنه ناروغان د وینی ثانوی لوړ فشار لری.

**۳ سوال: دوینی دلوړفشار عینی اختلاطات ولیکي ؟**

**۴سوال : د وینی د ثانوی لوړ فشار اند وکراینی اسباب ولیکي ؟**

**۵- خالی ځایونه په مناسبو کلماتو ډک کړی؟**

د وینی د لوړ فشار مناسب کنترول کولای سی چي د زړه د ناغیو ښخه د مړینی په شمیر کي (
) سلنه کمښت را ولی.

د وینی د لوړ فشارله کبله د شبکي څلورمه درجه اختلاط ته (                    ) وایی.

**۶- درست ځواب په نښه کړی؟**

د شبکي په د ریمه درجه اختلاط کي لاندی بدلونونه لیدل کیږی

الف: Silver Wiring        ب: nipping

ج: Papilodema        د: cotton-wool exudates and flame-shaped bledding



(c) ketabton.com: The Digital Library


## دریم څپرکی

## په کاهلانوکي د زړه ولادی آ فات

| |
|---|
| د زړه ولادی غیر سیانوتیکي ناروغی چي د راسته څخه وچپه ته شنټ شتون ولری. د زړه ولادی غیر سیانوتیکي ناروغی چي شنټ شتون نلری. د زړه ولادی سیانوتیکي ناروغی چي د ریوی دوران کم والی ورسره مل وی. د زړه ولادی سیانوتیکي ناروغی چي د ر یوی دوران زیاتوالی ورسره مل وی. |

**د څپرکي مقدمه**

د زړه ولادی آ فات په هرو زرو ژوند یو ولاد تونوکي ا ته ۸/۱۰۰۰ تنه مصابوی.

د طبابت په پرمختلوسره اوس د داخله، اطفالو او قلبی وعایی جراحی په برخه کي زیات پرمختګونه راغلی او حتی د یوشمیر مغلقو ولادی آ فاتو چي مخکي یی درملنه ناشونی وه د ژوندی پاته کیدو چانس زیات شویدی، یعنی ۸۰ سلنه د دی ناروغانونارمل ژوند ته دوام ورکوی او ژر ده چي په ولادی آ فاتو اخته کاهلانو شمیر به تر ماشومانوزیات سی. که څه هم درسته احصائیه پلاس کي نسته، ولی بیاهم په برطانیه کي د کاله ۱٦۰۰ په ولادی آ فاتو اخته ناروغان پیژندل کیږی چي یوازی ۸۰۰ یی ډاکتر ته مراجعه کوی.(۴،۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## Congenital Heart Disease in the Adult

**تعریف**: د تعریف له مخی داناروغان د جراحی حالت په پام کي نیولوسره پر دریو برخوویشل کیږی:

۱- هغه ګروپ ناروغان چي جراحی عملیات ورته نشی ترسره کیدلای،یا ورته ګټه نلری

۲- هغه چي جراحی عملیات ورته ترسره اوګټمن دی

۳- هغه ګروپ ناروغان چي فزیولوژیکي روغوالی مومی

دزړه ولادی ناروغی کیدای شی چي غیر سیانوتیک اویا سیانوتیک ګروپونوباندی و ویشل شی، چي سیانوتیک ډول یی معمولاً د هغه شنټ په ذریعه چي دراسته څخه چپ طرف ته وی را منځته کیږی.

مورنی یا ولادی آفات یا native lesion هغه اناټومیکي آ فاتوته ویل کیږی چي د ولاد ت په وخت شتون ولری، او کسبی آ فات بیا هغه آ فات په برکي نیسی چي په طبعی ډول را منځته او یا داچي د جراحی عملیات په ذریعه تولید شویوی.

هر ولادی آ فت کولای شی چي پر بل آفت باندی اثر واچوی، د بیلګی په توګه، د VSD فیزیولوژیک اثرات که په یوازی ډول رامنځته شی یوشان او که د ریوی شریان د تنګوالی سره وی، نوبل ډول اثرات لری. که ولادی آ فات په یوازی ډول د شنټ یا بندښت په شکل شتون ولری نو دساده آفاتویا simple lesion په نوم یادیږی، ولی که دوه یا تر دوه زیات آ فات په یوه ناروغ کي شتون ولری نو ورته مغلق آ فات یا complex lesion وایی.(٦)

**اسباب:** د زړه د ولادی ناروغیو اسباب اکثراً نا معلومه وی، ولی یو شمیر مل ستونزی پیژندل شویدی چي د دی ناروغیو په منځته راتلوکي ونډه اخلی، اوعبارت دی له:

د امید واری په دوران کي په rubella انتان باندی د مور اخته کیدل، چي اکثراً د persistent ductus arteriosus، pulmonary valvular اوarterial stenosis سبب کیږی.

په الکهولو د مور اعتیاد (septal defects) سبب کیږی.

د مور لخواد درملو او شعاع استعمال.

د مور جنیتیکي ناروغی.

د کروموزومونو نقصان، چي یو شمیر سندرومونه را منځته کوی.

**اپیدیمیولوژی:** په ۹۰ سلنه ناروغانوکي،د زړه ولادی آ فات څو عامله لرونکي وی، یوازی د ۵ تر ۱۰ سلنه یی د ابتدایی جنتیک عواملو لکه د یوه کروموزوم یا یوه موټنټ جن په ذریعه را منځته شویوی. د کروموزومی بدلونو د جملی هغه عمده ستونزه چي را منځته کیږیVSD تشکیلوی، چي په ۹۰ سلنه ناروغانوکي د ۱۳ یا

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۸کروموزوم د تراي زومی ځخه منځته راځي. په ۵۰ سلنه هغه ناروغانوکي چي Down syndrome یا د ۲۱ کروموزوم تراي زومی لري د اندوکارډ د پوښ او یا پردی نقصان لیدل کیږی.
په (45,X) Turner's syndromeاخته ناروغانوکي ډیر عمده او زیات لیدل کیدونکي نقصان د ابهر شریان coarctation ، تنګوالی اوASD دی،حال داچي په tetralogy of Fallotاخته ۱۵ سلنه ناروغانوکي د 22q11کروموزوم deletion لیدل کیږی. د همدغه22q11 کروموزوم غیر نورمال حالتونه د یوزیات شمیر سندرومونو د منځته راتلو سبب کیږی چي عمده یی د DiGeorge syndrome په نامه یا دیږی. (۵)

**وقوعات اوشیوع:** د نړی په سطحه د زړه د ولادی ناروغیو کچه یوازی ۱ سلنه اټکل سویده، چي پیښی یی په نارینه وو کي د ښځو په پرتله زیاتی لیدل کیږی.(۵)
د امریکا په متحده آ یالاتوکي د زړه د ولادی آ فاتو اندازه په هرو ۱۰۰۰ ژوندی ولادتونوکي ۸ تعین شویدی، او یا داچي په کال کي ۳۲۰۰۰ نوی زیږیدلی ماشومان د زړه د ولادی آ فاتو سره زیږی. د ناروغی شیوع هم په عمومی نفوس کي زیاته ، او په ځانګړی توګه په لویانوکي د مغلقو او شدیدو ناروغیو اندازه مخ په زیاتیدو ده. د دی ناروغانو۲۰ سلنه د ژوند په لمړی کال مری، ولی په لویانوکي شیوع په هرو ۱۰۰۰ تنوکي ۴ اټکل شویده، فعلاً، د امریکا په متحده آ یالاتو کي د زړه د ولادی ناروغیو ۹۰۰۰۰۰ناروغان شتون لری.
په ۲ سلنه ناروغانوکي د ابهر شریان Bicuspid والو، چي په لویانوکي د زړه د ډیرو عمده ولادی ناروغیو ځخه ده،او د نیمو جراحی عملیاتو نو پیښی تشکیلوی،شتون لری. په لویانوکي ،د زړه د ولادی ناروغیو د ۳۰ تر ۴۰ سلنه پیښی ASDs تشکیلوی،حال داچي دا سلنه د ASD لپاره کمه او د ۱۵ تر ۲۰ سلنه ده. په لویانوکي،د زړه د سیانوتیکو ناروغیو د جملی ځخه بله عمده ناروغی Tetralogy of Fallot تشکیلوی.(٦)

**په ( ۳-۱ ) جدول کي د زړه د ولادی ناروغیو وقوعات او شیوع ښودل شویده** (۷)

| آ فات | سلنه |
|---|---|
| د بطینی حجاب نقیصه Ventricular septal defect | ۳۰ |
| د اذینی حجاب نقیصه Atrial septal defect | ۱۰ |
| د شراینو نقیصه Patent ductus arteriosus | ۱۰ |
| د ریوی شریان تنګوالی Pulmonary stenosis | ۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| د ابهر اوښتنه | Coarctation of aorta | ۷ |
| د ابهر تنګوالی | Aortic stenosis | ٦ |
| فلوټ ترالوژی | Tetralogy of Fallot | ٦ |
| د غټواوعیو یوپربل اوښتنه | Complete transposition of great arteries | ۴ |
| نور آ فات | Others | ۲۰ |

د زړه په ولادی ناروغیو اخته ناروغانواعراض اوعلایم: د زړه ولادی ناروغی باید ژرترژره تشخیص شی، څکه په لمړیو کي د درملنی پایلی ښی او دقناعت وړوی. یوشمیر اعراض اوعلایم په ټولو ناروغیوکي ګډ لیدل کیږی، چي عبارت دی له:

- مرکزی سیانوزس:چي دراسته څخه و چپه طرف ته دشنټ په شتون کي را منځته او د سیستمیک او ریوی دوران د ګډیدو له سببه پیداکیږی،عمده ناروغی یی Fal lot's tet ralogy ده چي د زړه د سیانوتیکو ناروغیو په نوم یادیږی.

**د مرکزی مزمن سیانوزس طبی اختلاطات**

الف: هیماتولوژیګ

- د سرو کرویاتو کتله زیاتیږی
- د سرو کرویاتو یو په بل بدلون زیاتوالی مومی
- د وینی غلظت زیاتوالی مومی

**ب: هیموستازس**

- د مویه صفیحات کمیږی
- د دمویه صفیحاتو دندی کمیږی
- د وینی د علقه کیدونکو فکتورونو عدم کفایه

**ج: میتابولیک**

- د یورات تولید زیاتیږی
- په صفراوی کڅوړه کي د کلسیم بلیروبینات ډبری جوړیږی

**د : کلیوی**

- د ګلومیرولونو د فلټریشن اندازه کمیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د کریاتینین اندازه کمیږی
- پروتین یوریا منځته راځی
- د یورات کلیرنس کمیږی

**و: اورتوپیډیک**

- هایپرټروفیک استیو پاتی منځته راځي
- سکولیوزس

**ز: پوستکي**

- د گوتو کلا بنگ
- اکنی

**س: انتانی**

- د ماغی آبسی گانی (۴)

د ریوی شریان د فشار زیاتوالی: چي داهم د چپه خخه وراسته ته د غټ شنټ د شتون نمایندگی کوی، چي معمولا ناروغی یی د Eisenmenger په نوم یا دیږی.شتون یی اکثراً د خرابو انذارو درلودونکي وی.

د گوتو Clubbing:د زړه په هغو ولادی ناروغیو کي چي د وامداره سیانوزس ورسره مل وی،لیدل کیږی.

د Paradoxical embolismشتون پر دی دلالت کوی چي د راسته او چپه زړه د دوران تر منځ اړیکي شتون لری، ځکه دا امبولی گانی معمولاً د سیستمیکو وریدونوخخه و سیستمیکو شریانی دوران ته داخلیږی.

پولی سیتیمیا Polycythaemia چي عموماً په ثانوی ډ ول د مزمنی هایپوکسیمیاله لکبله را منځته او د ترمبوتیکو حملاتو لکه د ماغی سکتی خطر زیاتوی.

سنکوپ: په هغه صورت کي د راسته بطین خخه و چپه ته شدی بندښت شتون ولری، منځته راځی.

ځوانان اوکاهلان چي د زړه په ولادی آ فاتو اخته وی، د هغو د وامداره انومالی گانو چي لری یی او یا جراحی عملیات له سببه ،یو شمیر ځانگړی اعراض او علایم لری چي عبارت دی له:

د انډو کارډ التهاب endocarditis ، دزړه د والونو د آ فاتو پرمختگ، اذینی او بطینی اریتمیاوی ، ناخاپی مړینه او د راسته زړه عدم کفایه. (۵)

**۳-۲ جدول : د زړه د ولادی آ فا تو تصنیف** (۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library


| غیر سیانوتیکي | سیانوتیکي |
|---|---|
| د شنټ سره With shunts<br>• Atrial septal defect<br>• Ventricular septal defect<br>• Patent ductus arteriosus | د شنټ سره With shunts<br>• Fallot's tetralogy<br>• Trans position of great vessels<br>• Severe Epstein's anomaly |
| د شنټ پرته Without shunts<br>• Coarctation of the aorta<br>• Congenital aortic stenosis | د شنټ پرته Without shunts<br>• Severe pulmonary stenosis<br>• Tricuspid atresia<br>• Pulmonary atresia |

## د زړه ځانګړی نقصانونه Specific Cardiac Defects (۱)

په لاندی جدول کي د زړه ولادی ناروغی په دريو برخو، ساده ، متوسطی او مغلقو باندی ویشل سویدی. ساده ناروغی وهغو ناروغیو ته ویل کیږی چي آ فت یو وی او شنټ یا د والونو نقیصه ورسره موجوده وی. متوسطی ناروغی پر هغو ناروغیو اطلاق کوی چي نقیصه د یوی څخه زیاته وی او مغلق آ فات معمولاً هغو آ فاتوته ویل کیږی چي څو آ فتونه سره یوځای وی او وعایی نقیصه زیاته شتون لری.

۳-۳ جدول: د وخامت د درجی له مخی د زړه د ولادی ناروغیو تصنیف (۱)

| په لویانوکي د زړه سا د ه و لادی ناروغی Simple Adult Congenital Heart Disease |
|---|
| **Native disease**<br>Uncomplicated congenital aortic valve disease<br>Mild congenital mitral valve disease (e.g., except parachute valve, cleft leaflet)<br>Uncomplicated small atrial septal defect<br>Uncomplicated small ventricular septal defect<br>Mild pulmonic stenosis |
| **Repaired conditions**<br>Previously ligated or occluded ductus arteriosus<br>Repaired secundum or sinus venosus atrial septal defect without residua<br>Repaired ventricular septal defect without residua |
| په لویانوکي د زړه متوسطی و لادی ناروغی<br>Intermediate Complexity Congenital Heart Disease |
| Ostium primum or sinus venosus atrial septal defect |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| |
|---|
| Anomalous pulmonary venous drainage, partial or total |
| Atrioventricular canal defects (partial or complete) |
| Ventricular septal defect, complicated (e.g., absent or abnormal valves or with associated obstructive lesions, aortic regurgitation) |
| Coarctation of the aorta |
| Pulmonic valve stenosis (moderate to severe) |
| Infundibular right ventricular outflow obstruction of significance |
| Pulmonary valve regurgitation (moderate to severe) |
| Patent ductus arteriosus (non-closed)—moderate to large |
| Sinus of Valsalva fistula/aneurysm |
| Subvalvular or supravalvular aortic stenosis |
| **Complex Adult Congenital Heart Disease په لویانوکي د زړه مغلقی و لادی ناروغی** |
| Cyanotic congenital heart diseases (all forms) |
| Eisenmenger's syndrome |
| Ebstein's anomaly |
| Tetralogy of Fallot or pulmonary atresia (all forms) |
| Transposition of the great arteries |
| Single ventricle; tricuspid or mitral atresia |
| Double-outlet ventricle |
| Truncus arteriosus |
| Fontan or Rastelli procedures |

**د زړه ولادی غیر سیانوتیکي ناروغی چي د راسته څخه وچپه ته شنټ شتون ولری.**

**۱- د بین الاذینی حجاب نقص Atrial Septal Defect (ASD)**

اعراض او علایم: دا حالت اکثراً په لمړی ځل په لویوالی کي تشخیص کیږی، او په لویانو کي د زړه د ولادی آ فاتو تقریباً ۳/۱برخه تشکیلوی. په ښځو کي د نارینه وو په پرتله ۲- ۳ ځلی زیات لیدل کیږی. دوه عمده ډولونه یی شتون لری چي د ostium secundum او ostium primum په نامه یا دیږی.د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړی آ فت شتون د چپه څخه راسته ته د شنټ د تولید سبب ګرځی، چي د راسته زړه output زیاتوالی مومی. تر ۳۰ کلنی وروسته معمولاً د ریوی اوعیو مقاومت زیات او د pulmonary hypertension د منځته راتلو سبب کیږی. اذینی اریتمیا،په ځانګړی توګه اذینی فبریلیشن، په دی مرحله کي معمول دی.په لویانوکي د راسته زړه عدم کفایه او اذینی فبریلیشن کیدای شی د ناروغی لمړی تظاهرات وی. فزیکي علایم عموماً د راسته بطین د فشار د زیاتوالی علایم تشکیلوی، همداراز د راسته بطینheave اکثراً جس کیږی.



۳- ۱ شکل (**د بین الاذینی حجاب نقص**)[۵]

## لابراتواری معاینات

د صدر په راډیو ګرافی کي کیدای شی ریوی شریان متبارزاو ریوی مارکنګ شتون ولری. راسته بطین غټ معلومیږی.

پهECG کي کیدای شی یو ه اندازهRBBB د( راسته بطین د توسع له کبله)او right axis deviation ولیدل شی.


پهEchocardiogram کي هم اکثراً غیر نورمال حالت لکه د راسته بطین غټ والی او د ریوی شریان توسع اوهم د بین البطینی پردی غیر نورمال حرکات لیدل کیږی. د دوران غیر نورمال حالت کیدای شی چي پهcolour Doppler معاینه کي و موندل شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**درملنه**: یو وصفیASD (هغه چي ریوی جریان تر ۵۰ سلنه پکي زیات شویوی) باید د ۱۰ کلنی تر مخه او یا په ځوانی کي سمدستی تر تشخیص وروسته ترمیم شی. داسی فکر کیږی چي که ناروغی شدیده نه وی کیدای شی چي د ځوانی په مرحله کي پخپله ترمیم شی، ولی مطالعاتو ثابته کړیده چي اکثراً دا شنټونه پیشرفته کیږی، ځکه نو جراحی ترمیم یی ښه دی. که د ریوی هایپرټنشن د تولید ترمخه جراحی عملیات ترسره شی، ښه نتیجه ورکوی.

یوازی دASD شتون د endocarditis د مخنیوی په منظور و وقایوی انتی بیوتیکو ته اړتیانلری، او یوازی هغه وخت وقایوی انتی بیوتیک توصیه کیږی چي د سامی آ فات ورسره مل وی.




۳

- ۲ شکل د ASD بیل ډولونه(۴)

## پتوفزیالوژیکي بد لونونه

د چپه خخه وراسته ته د شنټ شتون

د شنټ له کبله د ریوی شریان توسع

د ریوی والو خخه د زیات جریان د تیریدو له کبله د مرمر اوریدل


د stroke volume زیاتوالی (۵)

## ۲- د بین البطینی حجاب نقص Ventricular Septal Defect(VSD)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بين البطينى حجاب نقص يا VSD دزړه د ولادى آ فاتو د جملى څخه يو عمده آ فت دى چي په هر ۵۰۰ ژونديو ولادتونوكي يو ماشوم په اخته وى. ناروغى كيداى شى په يوازى ډ ول او يا دنورو ولادى آ فاتو سره يوځاى و ليدل شى. په دى آ فت كي د چپه بطين فشار د راسته بطين په پر تله زيات وى، ځكه نو وينه د چپه څخه راسته بطين ته زياته داخليږى او د ريوى دوران زياتوالى مومى چي په پايله كي دا زياتوالى د عمومى دوران سره يوشانته والى پيداكوى،چي دى حالت ته Eisenmenger complex ويل كيږى. په وروسته كي دا شنټ حتى معكوس حالت يعنى د راسته څخه وچپه ته بدليږى، چي په ناروغ كي د محيطى سيانوزس د منځته راتلو سبب كيږى.



۳-۳ شكل (د بين البطينى حجاب نقص)(۵)

**اعراض اوعلايم**: كه آ فت كوچنى وى چي په 'maladie de Roger'نامه ياديږى، اكثراً پرته له اعراضو وى، او په ۹۰ سلنه پيښنو كي تر ۱۰ كلنى پورى پخپله ترل كيږى. له بده مرغه په يوشمير پيښنوكي چي آ فت پخپله هم روغوالى وومى، بياهم كيداى شى په ناروغ كي د ابهر والو عدم كفايه او د انډوكارډ التهاب رامنځته شى.د ناروغى په متوسط شكل كي ناروغ د ستړيا،او سالنډى څخه شكايت كوى، چي زړه غټ او د زروى ضربان برجسته معلوميږى.د ستر نم په چپه او كښتنى برخه كي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکثراً thrill systolicجس او هم یو لوړ ا وخیریدونکي وصف درلودونکي مرمراوریدل کیدایشی. که آ فت ډیر پراخه وی نو د ریوی هایپرټنشن سبب کیږی.

**لابراتواری معاینات** : په واړه آفت کي په X-rayاو ECG کي کومه ستونزه نه لیدل کیږی، یوازی د غټ آ فت په شتون کي په X-rayکي ریوی شریان برجسته او که Eisenmenger's complex تشکل کړیوی نو د ریوی هایپرټنشن علایم یا'pruned' pulmonary arteriesلیدل کیږی. که متوسط یا غټ آ فت شتون ولری نو دزړه غټوالی هم لیدل کیدای شی.

**په ECG کي د راسته او چپه بطین هایپرټروفی موندل کیږی.**

د 2-D echocardiographyاو CW Doppler معاینی په ذریعه کولای شو چي د آ فت اندازه، موقعیت اوهم هیموډینامیک بدلونونه ترلاسه کړو.

**درملنه** : متوسط او غټ آفت د مخه تر دی چي ریوی هایپرټنشن تأ سس وکړی باید د جراحی عملیی په ذریعه ترمیم شی او هم په ټولو پیښو کي د Infective endocarditis وقایوی درملنه توصیه کیږی.(۵)


**۳- ۴ جدول : په VSD اخته ناروغانوکي پتوفزیا لوژیکي او اصغایی موندنی (۵)**

| |
|---|
| **د زړه آ وازونه او مرمرونه** |
| **Diastole** **Systole**<br><br>**I** **Illllllllllill)**<br>**S1** **S1 S2** |
| **د سترنم په چپه او کښتنی برخه کي خشن پان سیستولیک مرمراوریدل کیږی، چي ورسره مل سیستولیک تریل او heave هم شتون لری.**<br>**کیدای شی د ریوی هایپرټنشن علایم هم و موندل شی.** |
| **پتوفزیالوژی** |
| **د چپه څخه وراسته ته د شنټ موجودیت**<br>**کله چي چپه بطین تقلص کوی، یوه اندازه وینه و ابهر شریان او یوه اندازه یی د سوری د لاری و راسته بطین ته داخلیږی،چي پر راسته بطین او ریوی شریان اثر اچوی.**<br>**په وړه VSDکي چي د maladie de Roger 1'په نوم هم یادیږی، کله کله کیدای شی چي لوړ او اوږده سیستولیک مرمرد تولید سبب و ګرځی.**<br>**په متوسطه VSDکي کیدای شی چي لوړ او خیریدونکي وصف لرونکي پان سیستولیک مرمر واوریدل شی.** |

(c) ketabton.com: The Digital Library




**په غټه VSDکي چي Eisenmenger's complex تشکل کوی کیدای شی چي ریوی هایپر ټنشن موجوداونرم سیستولیک مرمر واوریدل شی.**




**۳- ۴ شکل د VSD بیل ډولونه(۴)**

**۳- د Patent Ductus Arteriosus(PDA) ناروغی**

په دی ولادی آ فت کي ریوی شریان د خپل دوښاخه کیدو په برخه کي د نازله ابهر سره و subclavian شریان ته نژدی یو ځای شویوی.



**۳- ۵ شکل (PDA)(۵)**

ناروغی په ښځوکي د نارینه وو په پرتله زیاته او کله کله د مور د rubella انتان سره مل وی. په دی ناروغی کي که ونه تړل شی نو په دوامداره توګه د ابهر شریان او ریوی شریان ترمنځ شنټ را منځته کیږی، چي داشنټ و چپه زړه ته د ریوی وریدی دوران د زیاتوالی او په پایله کي د چپه بطین د حجم د زیاتوالی سبب کیږی.

که شنټ غټ وی نو د چپه زړه د شدید ی عدم کفایه او ریوی هایپرټنشن سبب کیږی. ۳/۱ هغه ناروغان چي عملیات نه وی ورته ترسره شوی تر ۴۰ کلنی پوری د زړه د عدم کفایه،ریوی هایپرټنشن یا انډوکارډیټ له کبله مری، حال داچي دا اندازه د عمر په زیاتیدو سره زیاته او تر ٦٠کلنی پوری و ۳/۲ ته جګیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اعراض او علایم: اکثراً د ژوند تر زیاته وخته او یا حتی ترهغه وخته چي د زړه عدم کفایه او یا د انډوکارډ التهاب تأ سس نه وی کړی، اعراض او علایم شتون نلری. عمده فزیکي علامه یی، د دوامداره او مشینری وصف درلودونکي مرمرشتون دی. اوپه جس محیطی نبض قوی او ډک وی.

په اصغا کي د لمړی ضلعی فاصلی او یا پر لمړی ضلع باندی دوامداره او مشینری وصف درلودونکي مرمر او ریدل کیږی، کیدای شی چي په همدی ناحیه کي تریل هم جس شی.

**لابراتواری معاینات**: که آ فت کوچنی وی نوپه X-ray کي کومه نقیصه نه لیدل کیږی، ولی اکثراً ابهر او ریوی شریان برجسته وی.

په ECG کي د دواړو چپه اذین او چپه بطین د هایپر ټروفی نسبی موجودی وی. که Eisenmenger's reaction تأ سس کړیوی نو دراسته بطین هایپرټروفی هم لیدل کیدای شی.

په echocardiogram کي چپه اذین او بطین دواړه متوسع ښکاریږی. د ناروغی په پرمختګ سره د راسته زړه بدلونونه زیات برجسته کیږی.

درملنه :د وخت تر مخه زیږیدلی ماشومان اکثراً د اندو میتاسین په ذریعه ،چي د پروستاګلاندین تولید نهیه کوی،او د ډکت د تړلوسره مرسته کوی، تداوی کیږی. په یو شمیر حالاتو کي کیدای شی چي قنات د جراحی عملیات او یا انجیو ګرافی په ذریعه د ډیر کم خطر سره و تړل شی. جراحی عملیات باید ژرترژره او د ۵ کلنی تر مخه ترسره شی، ځکه که ریوی هایپرټنشن تأ سس وکړی نوبیا جراحی عملیات کومه ځانګړی ګټه نلری.


## پتوفزیولوژیکي بد لونونه

د چپه څخه وراسته ته د شنټ شتون: د ابهر شریان څخه یو ه اندازه وینه د دی قنات د لاری تیره او ریوی شریان ته داخلیږی. د سیسټول او ډ یاسټول په دواړو مرحلوکي د قنات څخه د وینی جریان د مرمرسبب کیږی.

د ریوی شریان، چپه اذین اوچپه بطین توسع: کله چي د ریوی شریان هایپر ټنشن تأسس وکړی،نو مرمر ډیر خفیف او حتی اوریدل کیدای نشی، او محیطی سیانوزس منځته راځی. (۵)

## د زړه ولادی غیر سیانوتیکي ناروغی چي شنټ شتون نلری

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ابهر شریان اوښتنه یا د یوی برخی تنګوالی Coarctation of Aorta

د ابهر شریان و تنګوالی ته ویل کیږی،چي د ductus arteriosus او یا subclavian شریان په distal ناحیه کي رامنځته کیږی. نادراً کیدای شی چي د subclavian شریان په proximal ناحیه کي را منځته شی. پیښی یی په نارینه وو کي د ښځو په پرتله ۲ ځلی زیاتی لیدل کیږی. او اکثراً د Turner's سندروم سره مل وی. په ۸۰ سلنه پیښو کي د ابهر والو دوه لیفلیټه او تنګ

**۳-٦ شکل ( د ابهر شریان اوښتنه)** (۵)

یا په endocarditic مصاب وی. کیدای شی د دی ولادی آ فت سره یوشمیر نور ولادی آ فات لکه ductus arteriosus ،v s d ، د میترال د سام تنګوالی یا عدم کفایه او یا Willis انوریزم هم مل شتون ولری. د ابهر شریان زیات تنګوالی د کولترال اوعیو د تشکل سبب کیږی. د پښتورګو د جریان کموالی د وینی د فشار د زیاتوالی سبب کیږی، چي حتی تر جراحی عملیات وروسته هم د وام مومی.

**اعراض او علایم**: ناروغی د زیاتو کلونو لپاره پرته له اعراضو وی. د سردرد او د پوزی وینی کیدل (د وینی د لوړ فشار لکبله)او daudication او د لینګیو سوړوالی (په کښتنیو اطرافوکي د کم جریان لکبله) کیدای شی شتون ولری.


په فزیکي معاینه کي د پورتنیو اطرافو فشار لوړ ، او په کښتنیو اطرافو کي ځنډنی او ضعیفه نبض موندل کیږی.

په اصغا کي د سیستول په متوسط او آ خر کي د صدر د مخ او یا شا په خواکي مرمر اوریدل کیږی. د کولتیرال اوعیو د تشکل په صورت کي کیدای شی برویټ هم واوریدل شی.

## لابراتواری معاینات

(c) ketabton.com: The Digital Library


د صدر په X-ray کي کیدای شی چي ابهر شریان متوسع او دندانه لرونکي او هم rib notching ولیدل شی.




په ECG کي د چپه بطین هایپرټروفی موندل کیږی.
په Echocardiography کي کله کله co arctationاو نوری انومالی که شتون ولری، هم لیدل کیږی.
د CT او MRI په ترسره کولو سره ستونزه ښه واضح او هم د دوران د خرابوالی اندازه په ګوته کیدای شی.

**۳-۷ شکل د ابهر Coarctation یو ډول(۴**

**د رملنه:** درملنه هغه وخت استطباب لری چي د coarctation څخه د دوران فشار تر ۳۰ ملی متر سیماب زیاته شی. درملنه معمولاً جراحی عملیات په برکي نیسی، چي دcoarctation ناحیی قطع کیدل او د ابهر شریان نوک په نوک انستوموز ترسره کول دی.
که coarctation ډیر وسیع وی، نوو prosthetic vascular graftsته اړتیا لیدل کیږی. که جراحی عملیات د ماشوم توب په دوران کي ترسره شی،نو هایپرټنشن مکملاً له منځه ځی، ولی که دا عملیات د ځوانی یا کهولت په عمر کي ترسره شی، نوپه ۷۰ سلنه ناروغانوکي د پښتورګو د تخریب له کبله د وینی فشار لوړ پاتی کیږی. په دی ناروغانوکي د اتیروسکلیروزس او د ماغی سکتی خطر زیات وی.په یوشمیر مراکزو د Balloon dilatation څخه کار اخلی، ولی د انوریزم د تشکل خطر زیات دی.
په ماشوم توب کي د جراحی عملیات کامیابه او په ۸۳ سلنه ناروغانوکي تر ۲۵ کالو عمر اوږد ولای شی. که دا عملیات تر ځوانی (۲۰ تر ۴۰ کلنی) و ځنډول سی، نو د ۲۵ کالو لپاره د ژوندی پاته کیدو چانس ۷۵ سلنی ته راټیټ او که عملیات ترسره نشی، نو یوازی ۲۵ سلنه ناروغان تر ۵۰ کلنی ژوندی پاتی کیدای شی، حال داچي په ۳/۲ برخه ناروغانوکي تر ۴۰ کلنی وروسته د زړه عدم کفایه منځته راځی.

**پتو فزیالوژیکي موند نی**

- دCoarctation له سببه په صدري صاعده ابهر کي د دوران شدید بندښت منځته راځی
- له همدی کبله په ناحیه کي بیل کولترالونه تشکل کوی.(۵)

**د زړه ولادی سیانوتیکي ناروغی چي د ریوی دوران کم والی ورسره مل وی**

(c) ketabton.com: The Digital Library


## فلوټ تترالوژی Fallot Tetralogy

په دی ولادی آ فت کي څلور ولادی ستونزی شتون لری چي عبارت دی له:


۱- د دریوی شریان تنګوالی pulmonary stenosis

۲- د ابهر شریان په ذریعه د بین البطینی حجاب د تقصان زیاتوالی

۳- د بین البطینی حجاب نقصان

۴- د راسته بطین هیپرتروفی

په لاندی شکل کي ښودل سویدی.



**۳ - ۸ شکل ( فلوټ تترالوژی ) (۵)**

په دی آفت کي د راسته بطین د جریان په مقابل کي بندښت معمولاً سب والولر یا انفنډیبولر وی، ولی کیدای سی چي والولر، سپرا والولر اویا په ګډ ډول شتون ولری. د بین البطینی حجاب نقصان هم ډیر غټ او کثراً یی فوهه حتی د انهر شریان سره برابره وی. ناروغی د راسته بطین د فشار د لوړ والی سبب کیږی چي په نتیجه کي د بین البطینی حجاب د نقصان دلاری دراسته طرف څخه چپه طرف ته د شنټ د تولید او د وینی د جریان سبب کیږی.

اسباب: د امبریولوژی له نظره یی سبب د bulbar septum ، چي د ابهر صعودی برخه د ریوی شریان څخه بیلوی، غیرنورماله نمو تشکیلوی . آ فت په ۲۰۰۰/۱ ژوندیو ولادتونوکي منځته راځی او د ماشوم توب د دوری یعنی تر یو کلنی وروسته د سیانوز عمده سبب تشکیلوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اعراض او علایم: ماشوم معمولاً سیانوتیک وی ولی دا سیانوز په نوی زیږیدلی ماشوم کي نه لیدل کیږی، ځکه تر هغه وخته شنټ ښه تأ سس نه وی کړی او د راسته یطین فشار د چپه بطین د فشار سره مساوی یا زیات سوی نه وی. په هغه ماشومانوکي چي د ابهر تضیق یی سب والولر یا انفنډیبولر وی تر ادرینرجیک تنبهاتو وروسته تضیق زیاتوالی مومی او د ناروغه ماشوم سیانوزس ناځاپه تر ډوډی خوړلویا ژړا وروسته زیاتوالی مومی، اوحتی کیدای سی ماشوم اپنی پیداکړی او شعور دلاسه ورکړی، چي دا حمله د'Fallot's spells' په نامه سره یادیږی. په لو یو ماشومانو کي نوموړی حمله کمه ولی سیانوز ورځ په ورځ زیاتوالی مومی، چي ورسره مل د ودی کموالی، د ګوتو کلابنګ او پولی سیتیمیا هم موجوده وی. زیات ماشومان د ماشوم په دوران کي مری.

په فزیکي معاینه سره ناروغ سیانوز لری او په اصغأ باندی په ریوی محراق کي سیستولیک مرمر اوریدل کیږی ( د ریوی شریان تضیق). کیدای سی په نوی زیږیدلو ماشومانو او یا هغو ماشومانوکي چي آ فت یی خفیف وی سیانوز ونه لیدل سی چي ورته غیر سانوتیک فلوټ ترالوژی یا 'acyanotic tetralogy of Fallot' ویل کیږی.

تشخیص: په ECG کي د راسته بطین د هیپر تروفی نښی ښکاره ، او د صدر په رادیو ګرافی کي ریوی شریان ډیر کوچنی معلومیږی او زړه د بوټ شکل 'boot-shaped' یا coeur en sabot لری. اصلی تشخیص د Echocardiography په ذریعه وضع کیږی.

درملنه: اصلی درملنه جراحی مداخله تشکیلوی، چي ټوله شته نقصانات باید ترمیم سی. په ابتدایی ډول جراحی عملیه د ۵ کلنی تر مخه چي ریوی شریان ډیرهیپو پلاستیک شوی نه وی باید تر سره سی چي معمولاً ناروغ ته Blalock-Taussig شنټ ترسره او نور نقصانات یی ترمیمیږی.

انذار: تر مکمل ترمیم وروسته انذار ښه په ځانګړی توګه چي جراحی عملیه په وړکتوب کي تر سره سی. د شنټ د باقی پاته کیدو، د ریوی شریان د تضیق د عود او ریتم د آ فاتو د پوهیدلوپه منظور باید ناروغ د نژدی تعقیب سی. (۷)

## د ر یوی د سام تضیق PULMONIC VALVE STENOSIS

په بیلو درجو در یوی دسا م تضیق دزړه دولادی ناروغیو د ۱۰ سلنه په شاوخوا کی پیښنی را منځته کوی. در یوی د سام یا Infundibulum تضیق دوینو د جر یا ن په مقا بل کی مقاومت ز یا توی چي په نتیجه کی په راسته بطین کی فشارلوړ اود ر یوی وینی دوران محدودیږی.که شنت ورسره مل نه وی دشر یا نی وینی اشباع نا رمل وی، اوکه تضیق ډیر شدید وی دقلبی دهنی دکمښت له کبله محیطی سیا نوز یس منځته راوړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ګوتو دسرو نوپاړسوب یا Clubbing او پولی سیتیمیا اکثرا شتون نلری، ولی که Foramen ovale خلاص او یا د د هلیزونو ترمنځ د جدار نقصا ن شتون وبری نود راسته څخه و چپه ته د شنت له کبله Clubbing او پولی سیتیمیا منځته راتلای شی.

**اعراض او علایم**

خفیفی پیښبی ( دراسته بطین او ریوی شریان دفشارتوپیر تر ۳۰ ملی متر سیماب کم وی) اعراض اوعلایم نلری. متوسط ا و شدید تضیقات (چي د فشار توپیر د ۵۰ تر ۸۰ ملی متر سیماب او یازیات وی) د جهد په وخت کی دتنفس ستونزی ، سنکوپ ، صدری دردونه اوپه اخیرکی دراسته بطین عدم کفا یه منځته راوړی.

په جس سره parasternal lift شتون لری، یولوړ خشن سیستولیك مرمر اویوواضح تریل په چپه دوهمه اودریمه بین الضلعی مسافه کی دقص دهډوکی څنګ ته اوریدل کیدای شی، د ان فنډیبولم په تضیق کی نوموړی مرمر په دریمه اوڅلورمه بین الضلعی مسافه کی اوریدل کیږی.

په شدیدو پیښوکی دمرمر په وسیله دزړه دوهم اواز پټیږی.د ریوی جزء کمیږی، ځنډ یږی اویا له منځه ځی.په متوسطو پیښوکی دواړه جزوی داوریدلو وړوی.په شدیدو پیښوکی په راسته طرف کي د زړه څلورم آ واز S4اوریدل کیدای شی او په وریدی نبض کی د a لوړه موجه موجوده وی.

**تشخیص**

په ECG کی Right Axis Deviationیا Right Ventricular Hypertrophy لیدل کیږی،Peaked P wave دراسته اذین لوړ بار راپه ګوته کوی.

دصدرپه رادیوګرافی کی دزړه جسامت نارمل وی اویا یوواضح راسته اذین اوبطین لیدل کیږی.چه دا دافت په وخامت اړه لری.

په ایکوکاردیوګرافی کی اناتومیك بدلونونه او دراسته بطین جسامت او وظایف معلومیدای شی.ددوپلرپه وسیله په درسته توګه دفشارتوپیر تعینیږی چه دقلبی کتیتیریزیشن په وسیله تائیدیږی.

**درملنه**

هغه ناروغان چه دریوی دسام خفیف تضیق لری په نورماله توګه ژوند کولای شی.

دمتوسط تضیق لرونکی په ماشومتوب او نوی ځوانی کی بیله عرضه وی خوکله چه عمریي زیاتیږی اعراض پکښبی څرګندیږی.

شدید تضیق د انی مرګونو سره یوځای وی او کله چه ناروغان دعمر وشلمو اودیرشمو کلونوته رسیږی دزړه عدم کفایه پکښبی منځته راځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په عرض لرونکو ناروغانو اویاپه هغوکی چه دراسته بطین هیپرتروپی لری دافت واصلاح ته اړه سته .د Percutaneous ballon valvuloplasty طریقه موثره ثا بته شو یده او ا نتخا بی تداوی جوړوی.جرا حی تد ا و ی د ۲ تر ۴سلنه دعملیا تو وفیات لری اوپه اکثره وختونوکی داوږده مها ل لپاره ډیره ښه نتیجه ورکوی.

په نوو زیږ ید لو ما شوما نوکی دسیستمیك – ر یوی ا نا ستوموز منځته راوړل دکا فی ر یوی دورا ن د تا مین لپا ره ضروری دی.تر هغو چه دا کار سرته رسیږی په موقتی توګه د شر یا نی قنات د خلاص سا تلو په منظور (prostaglandin E1 (alprostadil د ۰،۱ تر ۰،۰۵ ملی ګرامه / کیلو/ دقیقه د ورید دلاری دژوندا نه د تامین لپاره اړین دی. ( ۱ )

## د څپرکي لنډيز

په دریم څپرکي کي په لویانوکي د زړه مهمی ولادی ناروغی او د هغو په تشخیص ، معایناتو او درملنه کي د پر مختللو پروسیجرونو یادونه سویده. دلته هڅه سویده تر څود هری ناروغ اړوند وقوعات، اسباب، معمول اعراض او علایم ، مورفولوژی، پتوفزیالوژی او حتی تصویر په ګوته سی. د ناروغیو د تشخیص لپاره دواړه Invasive او Non-Invasiveطریقی ، په ځانګړی توګه دوهم ډول متممه معایناتولکه MRIاو CTځخه هم یادونه سویده.

د ناروغیو عصری درملنه او هم هغه جراحی مداخلی چي د زیات وخت لپاره د با کیفیته ژوندی پاتی کیدو سبب کیږی هم یادی سویدی.

د زړه د ولادی آ فاتو عصری درملنه د دی عصر د کامیابه درملنو څخه یوه شمیرل کیږی. له دی کبله چي ۸۰ سلنه هغه ماشومان چي د زړه ولادی آ فات لری، د دی درملنوپه ذریعه د کهولت و عمر ته رسیږی، چي په نژدی وختوکي به تر ماشومانو د هغو لویانوچي د زړه ولادی ناروغی لری شمیر زیات سی. د زړه د ناروغیو پوهان اوس دا هڅه کوی تر څو د دی ناروغانو لپاره د ژوندی پاتی کیدو برسیره با کیفیته ژوند برابر کړی. له همدی کبله نو د لویانو او ماشومانو د جراحی د پوهانولپاره یوه ننګونه ده تر څو همدی هدف ته د رسیدو لپاره په ګډه او یودبل سره په مرسته کار وکړی.

## د څپرکي اړونده پوښتنی

**۱- صحیح جمله په ص او غلطه جمله په غ سره په نښه کړی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۱ - ۱ : د ریوی شریان د ولادی تنگوالی وصفی اعراض عبارت دی له:**

الف: سا لنډی او مرکزی سیانوزس.

ب: د زړه لوړ دوهم آ واز.

ج: د سترنم په چپه طرف کي د heaveاو هم سیستولیک تریل شتون.

د: د صدر په راډیوگرافی کي د ریوی شریان غټوالی.

**۱ - ۲ : په نوی زیږیدلو ماشومانوکي د مرکزی سیانوزس شتون د لاندی ولادی آ فاتو وړاندوینه کوی:**

الف: Persistent Ductus Arterioses.

ب: Coarctation of the aorta.

ج: Fallot's Tetralogy.

د: Atrial Septal Defect.

**۱ - ۳ : د Persistent Ductus Arterioses په اړوند لاندی جمله درسته ده:**

الف: وینه اکثراً د ریوی شریان څخه و ابهر شریان ته جریان مومی.

ب: په ماشوم توب کي ناروغ د زړه په عدم کفایه اخته کیږی.

ج: کله چي په کښتنیو اطرافو کي سیانوزس ولیدل سو نوباید شنټ ورته تطبیق سی.

د: د انډوکارډ دالتهاب د مخنیوی په منظورباید ناروغ ته وقایوی انتی بیوتیک ورکول سی.

**۱ - ۴ : د Coaractation of Aorta وصفی اعراض عبارت دی له:**

الف: د ابهر د بای کسپیډ والو سره مل وی.

ب: د سکپولا په ناحیه کي برجسته او جس کیدونکي کولترالونه شتون لری.

ج: د صدر په راډیوگرافی کي rib notchingموجود او فیمورال نبض ضعیف وی.

د: د زړه په گراف کي د راسته بطین ها یپر ټروفی ښکاریږی.

**۱ - ۵ : په Atrial Septal Defect کي:**

الف: ابتدایی شنټ اکثراً د راسته څخه چپه ته وی.

ب: د زفیر په مرحله کي د زړه د دوهم آ واز جلا والی یا سپلیټنگ زیاتوالی مومی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ج: آ فت معمولاً ثانوی یا دSecundum types ډول څخه وی.

د: جراحی عملیه تر څو چي شنټ پخپله ترل کیږی باید وځنډول سی.

**۱-٦ : د Persistent Ductus Arterioses په اړوند لاندی جمله درسته ده:**

الف: وینه اکثراً د ریوی شریان څخه و ابهر شریان ته جریان مومی.

ب: په ماشوم توب کي ناروغ د زړه په عدم کفایه اخته کیږی.

ج: کله چي په کښتنیو اطرافو کي سیانوزس ولیدل سو نوباید شنټ ورته تطبیق سی.

د: د انډوکارډ دالتهاب د مخنیوی په منظورباید ناروغ ته وقایوی انتی بیوتیک ورکول سی.

**۱-۷ : په واړه حجاب البطینی نقص کي:**

الف: عموماً late systolic مرمر اوریدل کیږی.

ب: زړه اکثراً غټ وی.

ج: د انتانی اندوکارډیت د اخته کیدو خطر شتون لری.

د: زیات ناروغان پرته له اعراضو وی.

**۱-۸ : په Fallot's tetralogy ناروغی کي:**

الف: د زیږیدنی په وخت کي د ګوتو کلابنګ او مرکزی سیانوزس موجود وی.

ب: د شهیق په مرحله کي د زړه دوهم آ واز لوړ اوجلا والی یا سپلیټنګ موجود وی.

ج: د زړه ګراف او د صدر رادیوګرافی نورماله وی.

د: د ریوی او ابهر شریان تنګوالی د بطینی حجاب د نقص سره مل وی.

**۵- خالي ځایونه په مناسبو کلماتو ډک کړی؟**

- د بین البطینی حجاب نقص په ۹۰ سلنه ناروغانوکي تر (                ) کلنی پوری خپله ترل کیږی.

د Coarctation of Aorta ناروغی په فزیکي معاینه کي د کښتنیو اطرافو نبض (                ) وی.

**٦- درست ځواب په نښه کړی؟**

**د بین البطینی حجاب نقص که کوچنی وی په لاندی نامه یادیږی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف: Essenmenger syndrome ب: 'maladie de Roger's

ج: 'maladie de Metral د: Pagets’ disease



(c) ketabton.com: The Digital Library


## خلورم څپرکی

## د زړه بینظمی یا ارریتمیا

دزړه دسیالوی سیستم انا ټومی.
د زړه برډی اریتمیا وی.
د ساینوس عقدی ددندو خرابوالی
د اذینی – بطینی عقداتو دسیالوی سیستم خرابوالی
د زړه تکي اریتمیا وی
پریماچور کمپلکس
تکي کارډیا
ساینوس تکي کارډیا
اذینی فبریلیشن
ادینی فلوتر
پریماچور سپرا ونتریکولر تکي کارډیا
پر اکساټیشن سندروم
بطینی تکي کارډیا
بطینی فلوتر
بطینی فبریلیشن

### د څپرکي مقد مه

لکه مخکي چي هم ذ کر سول د زړه او رګونو ناروغی د نړی په کچه د زیاتو وژونکو ناروغیو د جملی څخه دی، چي د دی ناروغیو د جملی څخه د زړه بینظمی یا ارریتمیاوی یو مهمه برخه تشکیلوی او هم په مستقیم ډ ول او یا د نورو ناروغیو د اختلاط په ډول د مړینو سبب کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د زړه د بینظمیو یو شمیر خفیفی او یا متوسطی وی چي په اسانی سره یی درملنه ترسره ولی یوشمیر یی شدیدی او که ناروغ ته پر وخت او زمان د رملنه ونه رسیږی نود مړینی سبب کیږی، چي زیاتی یی په بطینی ارریتمیا یعنی بطینی فبریلیشن او فلوټر اړه لری.

## د زړه بینظمی یا ارریتمیا وی

## Rhythm and Conduction Disturbances

## د زړه د سیالوی سیستم اناټومی

**د زړه ضربان په نورماله توګه د سا ینوسی عقدی څخه د یوی برقی سیالی په ازادیدو سره پیلیږی.وروسته بیا کله چه برقی جر یان دمخصوصو انتقالی انساجو په وسیله هلته ورسیږی اذینونه اوبطینونه په جلاجلا توګه ډ یپولارایزکیږی، سینوسی عقده دزړه دPacemaker په ډول کار کوی اوځانته خپل Rate لری چه د اتونوم عصبی سیستم لخوا تنظیمیږی، پاراسمپاتیک یا د واګوس فعالیت د زړه ضربان کراروی حال داچي سمپاتیك فعالیت هغه تیزوی.**

که سا ینوسی ریټ ډیر کرار شی، تر هغه کښته مرکز د پیس میکر دنده پرغاړه اخلی.چه هغه ته Escape ریتم وائي، چه کیدلای شی چه د AV node اویا د بطین څخه منشأ واخلی.

یوه اریتمی دزړه دبرقی فعالیت خرابیدل (تشوش) دی چه کیدای شی په حملی (Paroxysmal )او یا دوامداره(Continuous ) ډول را منځته سی.

که د زړه د ضربان اندازه تر ٦٠ ځلی په د قیقه کي کم وی برادی کاردیا او که تر ١٠٠ ځلی په دقیقه کی زیا ت وی د تاکی کاردی اصطلاح ورته استعمالیږی.

### د تاکی کاردیا په منځته راتلو کی لاندنی دوه میکانیزمونه اغیزه لری

- د اوتوماتیسیتی زیاتوالی Increased automaticity چه تاکی کاردیا دیوه اکتوپیك محراق او یا یوی ځانګړی حجری د تکراریدونکي خودبخودی د ډیپولاریزیشن په وسیله منځته راشی.
- بیا ننوتنه Re-entry: کله چه تاکی کاردی د یوه اکتوپیك محراق څخه پیل شی ولی وروسته بیا د یوه تړلی حلقی یا د Re-entry circuit په وسیله ادامه وومومی.اکثره تاکی کاردی ګانی د Re-entry له کبله وی.
- ار یتمی یا د بطین څخه لوړه Supra Ventricular (Sinus, Atrial or Junctional)او یا بطینی ( Ventricular) وی.په معموله توګه په ECG کي Supraventricualr rhythm یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنګ QRS مغلق منځته راوړی اوداد دی کبله چه بطینونه په نورمال ډول د AV node او Bundle of His له لاری ډ یپولارایز کیږی.


- د دی پر خلاف بطینی ریتم بیا یوه پراخه او بی شکله د QRSمجموعه منځته راوړی او داد دی کبله چه بطینونه دیوی غیر نا رمل لاری تنبه کیږی ( فعا لیږی).همدارنګه تر بطین لوړ ریتم کله کله پراخه اووسیع QRS منځته راوړی چه دا بیا په هغه وخت کی د Bundle Branch Block او یا داضا فی ا نتقا لی انسا جودموجودیت له کبله وی.

## د زړه بړدی اریتمیا وی : د سای‌نوس عقدی د د ندو خرابوالی

### ساینوسی اریتمیا SINUS ARRHYTHMIA

د تنفس په وخت کی دزړه د ضربان نوبتی بدلون ( سینوسی ریټ دشهیق په وخت کی ز یا ت اود زفیر په وخت کی کرار یږ ی) دنورمال اتونومیك عصبی فعالیت یوه نښه ده ، چه په کوچنیانو کی ډ یر ښکاره وی.

که د تنفس اود وضعیت د بدلون سره د زړه د ضربان دغه نارمل تغیرات په مکمل ډول موجود نه وی داداتونومیك نیوروپاتی یوه نښه ده.



### ساینوسی برادی کاردیاSINUS BRADYCARDIA

په نا ر مل خلګو کی د خوب په و خت کی او یا په سپورت کو نکو کی Sinus rate تر ٦٠ ځلی په د قیقه کی کمیږی.


### د هغی پتو لو جیك ا سبا ب په لا ندی ډو ل د ی

- د زړه حاده احتشأ
- د ساینوس عقدی ناروغی (sick sinus syndrome )
- د بدن د حرارت کموالی یا هایپو ترمیا
- د درقیه غدی د فعالیت کموالی یا هایپوتیروئیدیزم
- بندشی ژیړی (Cholestatic Jaundice )
- د داخل قحفی فشار لوړوالی

(c) ketabton.com: The Digital Library


- د رمل (beta adrenoceptor antagonist, digoxin, verapamil)

که په حا ده توګه براډ ی کارډ یا منځته راغلی وی او اعراض ولری په ور ید کی د۰،٦ ملی ګرامه اتروپین تطبیق ته ښه ځواب وائي.




## سابنوس تکي کارډی (SINUS TACHYCARDIA)

هغه حالت ته ویل کیږی چه Sinus rate تر ۱۰۰ واره په دقیقه کې ز یاد شی، او معمولا د تمرین ، هیجان او پتولوجیکو اسبابو په وسیله د سمپا تیك فعالیت د ز یا تیدو له کبله منځته راځی .

### پتولوجیک اسباب

- اظطراب
- تبه
- امیدواری
- کمخونی
- د زړه عدم کفایه
- فیو کروموسیتوما
- د درقیه غدی فرط فعالیت
- د رمل (( Beta adrenocetor agonists ( bronchodilators )

پرته له ما شوما نوپه لویانوکي دزړه ضر با ن په نادره توګه په دقیقه کي تر ۱٦۰ ځلی لوړیږی.



(c) ketabton.com: The Digital Library


## ساينوسي توقف (Sinus Arrest )

ساینوسی توقف د سیالی د جوړیدلو یوه ناروغی ده چه په اذینوکی دبرقی فعالیت دتناقص یانه شتون له کبله منځته را ځی اود Atrial standstill په نوم یادیږی. داذینی standstill په وخت کی اذ ینونه نه تنبه کیږی اویوه مکمله PQRST مجموعه دECG پر پاڼه باندی منځته نه راځی، پرته له دغه ورکی (Missing ) مجموعی یا Pause څخه نوره ECG نارمل وی.که یوه یادوی ضربی جوړی نشی atrial standstill ته sinus pause هم ویل کیږی اوکه دری یا ډیری ضربی جوړی نشی نو sinus arrest ورته وايي . Sinus arrest د third – degree SA blockسره نزدی ورته والی لری څکه نو Exit block هم ورته وایی.





Figure 6-7. Normal Sinus Rhythm with Sinus Arrest

## د زړه تکي اريتميا وی: اذی‌نی تکي اری‌تمی‌اوی ATRIAL TACHYARRHYTHMIAS

### پريماچور کمپلکس

**اذينی اکتوپيک ضربان ( اکستراسيستول،premature beats)**

اکستراسیستولونه معمولا کوم عرض نلری خو کیدای شی چه ناروغ د یوه ورك شوی ضربان یا یوه قوی ضربان احساس وکړی.

**په ECG کی تر وخت دمخه خونارمل QRS complex ليدل کيږی.**

تر هغه د مخه د P موجه، که ولیدل شی، مختلف شکلونه لری او دا څکه چه سیاله د غیرنورمال ځای څخه منشه اخلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## ا ذ ینی تا کی کا ر ډ یا Atrial Tachycardia


یوه ا کتو پیکه اذینی تاکی کا ردیا چه دا توما تیك فعا لیت د ز یا توا لی له کبله منځته را ځی ډیره نادره ده، خوکله کله بیا د ډیجیتا ل دتسسم له کبله منځته راځی.

**اسبا ب**

- روماتیزمی تبه
- د ډ یجیتل تسمم
- د درقیه غدی فرط فعالیت
- د میوکارډ التهاب
- د ادرینرجیک درملو استعمال او دزړه جراحی مداخلی.

په ECG کی اذ ینی ر یټ په د قیقه کي د ۱۴۰ تر ۲۲۰ وی، د P موجه غیرنارمل شکل لری او په اکثره پیښو کی په مختلفو د رجود اذینی بطینی بلا ك سره یوځا ی وی.( ۲ : ۱ ، ۳ : ۱ اونور)

تداوی ئي د اذینی فلوتر په ډول ده ، چه په لا ند نی بحث کی ئي یادونه کیږی. (٦)



## اذ ینی فبریلیشن Fibrillation

په دی ډول اریتمی کی اذینونه په سر یع ډول ضربان کوی خو دا بیا بی نظمه او غیرموثر وی، بطینونه په غیر منظم ډول ځواب وائي او یووصفی Irregularly irregular نبض منځته راوړی. په ECGکی

(c) ketabton.com: The Digital Library


د QRS نارمل لاکن غیرمنظمی مجموعی لید ل کیږی، د P موجی نه لیدل کیږی خوقاعد وی خط په غیرمنظمه توګه د f-waves ښئي.دهغو ۴۰۰ – ۵۰۰ فبریلیشنی سیالو د جملی څخه چه و AV nodeته رسیږی یوازی د ۱۰۰ – ۱۵۰ پوری ئی دا فرصت پیدا کوی چه بطینونه تنبه کړی.

**اسباب**

- د اکلیلی شراینو ناروغی ( د زړه حاده احتشأ)
- د زړه دسامی ناروغی ( د میترال د سام روماتیزمی ناروغی)
- ایډیو پاتیک (lone atrial fibrillation )
- د وینی لوړ فشار
- د د رقیه غدی فرط فعالیت
- د ساینو اتریل عقداتو ناروغی
- الکهول
- کارډیو میوپاتی
- د زړه ولادی ناروغی
- ریوی امبولی
- د پریکارډ ناروغی
- سینه او بغل

د اذینی فبریلیشن شروع د palpitationسبب کیږی اود heart failure د تشدید یا زیاتیدو سبب کیږی په هغوناروغانو کی چه زړه ئي غیرنارمل وی په خاصه توګه mitral stenosis یا دچپه بطین ضعیفه وظایف.اذ ینی فبریلیشن په اکثره وختونوکی بی عرضه وی په خاصه توګه په زړوخلګو کی.

د اذین غیر موثر تقلص چه کله دچپه اذ ین د توسع سره یوځای شی نو ستازیس ته زمینه برابروی او ترومبوز او سیستمیکه امبولیزم منځته راوړی.دترومبوامبولیزم خطر په اصلی ناروغی پوری اړه لری اوهغه دچپه اذین دجسامت او د ناروغ د سن سره زیاتیږی.

## د اذینی فبریلیشن د رملنه

د اذینی فبریلیشن تداوی د بطینی ریتم د کنترول، وساینوسی ریتم ته داذین راوستل او د سیستمیکی ترومبوامبولیزم دمخنیوی لپاره د انتی کواګولانت ورکولو څخه عبارت ده.

ډ یجیتال، بیتابلاکرونه یا د کلسیوم چینل بلاك کونکی درمل د AV node دلاری انتقال بطی کوی. که مؤثر نه شول نود اریتمیا درمل اویا کارډ یوورژن استعمالیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر کارډ یوورژن دمخه باید انتی کواګولیشن اجراشی.

د اصلی ناروغی درملنه ( تیروتوکسیکوزیس،ترجراحی وروسته صدرې انتانات) سینوسی ریتم منځته راوړی.(۴)

## اذ ینی فلوتر Atrial Flutter


اذینی فلوتریو ډول اریتمی ده چه په اذین کی د اکتوپیك محراق څخه منشه اخلې اودامحراق په یوه د قیقه کی ۲۵۰ – ۴۰۰ سیالی په دقیقه کی ازادوی. دفلوتر وصفی موجی چه د F- waveپه نوم یاد یږی، داری ددندانو یا غانبو په شکل پرکاغذ لیدل کیږی. بطینی ځواب متفاوت وی اودا په دی اړه لری چه څومره سیالی وبطین ته تیریږی چه د ۱: ۲ ،۱: ۳،۱: ۴ ، ۱: ۵ ، او ۱: ٦ په نسبت سره وی.

ا ذینی فلوتر په نورمال زړونو کی په نادره توګه لیدل کیږی.هغه ناروغان چه د زړه دسامی ناروغی( په ځانګړی ډول روماتیزمی )، دزړه اکلیلی ناروغی، د وینی لوړ فشار ، کارد یومیوپاتی، هیپرتایروئیدیزم ، هیپوکسیا، دزړه عدم کفایه ، د پریکارډ التهاب ، د میو کارډ التهاب ، ریوی ناروغی، ریوی امبولی لری اوتر قلبی جراحی وروسته منځته راځی.

اعراض اوعلائم ئی که بطنی ضربان سریع وې د اذ ینی تاکی کاردیا په ډول وی.

### د رملنه

- هغه د رمل چه دسیالی انتقال په AV node کی بطی کوی (لکه Digitalis، Beta Blockers ، Calcium Channel Blockers).
- د اریتمیا ضد درملو اضافه کول چه ریتم کرار کړی.
- په نسبتا کښته انرجی سره د کارډیوورژن تطبیق ( د ۵۰ ژول څخه پیل شی). (۴)



### پریماچور سپرا ونتریکولر تکي کارډیا PSVT

(c) ketabton.com: The Digital Library


د حملوی یا Paroxysmal تکي کارډ یاوو د جملی زیاته پیښیدونکي تکي کارډیا ده چي اکثراً په هغو ناروغانوکي چي د زړه ساختماني ناروغی نلری را منځته کیږی. د منځته را تلو عمده میخانیکیت یی reentry تشکیلوی.

## سریری لوحه

**اعراض اوعلایم:** اکثر ناروغ پرته د زړه د تیز ضربان څخه نو ر کوم اعراض نلری، ولی په لږ شمیر ناروغانو کي د صدر دردونه او سا لنډی، په ځانګړی توګه هغه ناروغان چي حمله یی د وامداره وی، را منځته کیږی. د ناروغی حمله په آ نی ډول پیل او هم ختمیږی او کیدلای سی د ثوڼانیو او یا حتی څو ساعتو لپاره د وام ومومی.

په ECG کي کیدای سی دزړه ضربان منظم او د ۱۴۰ تر ۲۴۰ ځلی په د قیقه ( اکثراً د ۱٦۰ تر ۲۲۰ ځلی په دقیقه ) کي وی. د P موجه اکثراً بیله ولی په زیاتو پیښوکي د QRS مغلق سره ګډه وی.

**د رملنه :** د زړه د سا ختماني ناروغیو په نه شتون کي ، خطر ډیر کم، او زیات حملات پخپله دریږی، ولی په هغه صورت کي چي د زړه عدم کفایه شتون ولری، ناروغ سینکوپ حملات ولری، او انجین ورته پیدا سویوی او یا د اکلیلی شراینو ناروغی ولری، نوباید هڅه ترسره سی چي حمله ژر تر ژره کنترول سی. چي په دی منظور دلاندی طریقو څخه کار اخستل کیږی.

**میخا نیکي اهتمامات:** یو زیات شمیر میتودونه شتون لری چي د ناروغی حمله کنترولولای سی، ځکه نو ناروغ باید هغه پخپله زده او د حملی په وخت کي ورڅخه کار واخلی. نوموړی مانوری د واګوس عصب د تون د زیاتوالی سبب کیږی او عبارت دی له Valsalva مانوره، د بدن او بازوګانو ټینګ نیول، د زنګانو منځ ته د سر کښته کول، ټوخی، پرمخ د یخو اوبو پاشل، او د تنفس بندولو څخه. د کروټیډ ساینوس مساژ باید د ډاکتر په ذریعه تر سره سی، ولی په هغه صورت کي چي ناروغ کروټیډ برویټ ولری، او یا د ( TIA(transient cerebral ischemic attacks حملی تاریخچه ولری باید ورته ترسره نسی. په هغه صورت کي چي استطباب ولری باید قوی، ثابت ولی آ رام مساژ لمړی د ۱۰ تر ۲۰ ثانیو پوری پرراسته کروټیډ ساینوس ترسره او که مؤثر نه وو نوبیا دی پر چپه طرف هم ترسره سی. ( باید په یوه وخت کي د واړو خواوو ته مساژ ورنکول سی). ناروغ ته باید دوامداره تر سره او یا هم اصغأ سی، ځکه کله چي ریتم نورمال او یا برډی کارډیا را منځته سول باید ژر تر ژره مساژ قطع سی. نوموړی مانوره په ۵۰ سلنه حملاتو ، په ځانګړی توګه په هغه ناروغانوکي چي ډیجیتل، adenosine

(c) ketabton.com: The Digital Library


او یا د کلسیم چینل بلاک کونکي درمل اخلی، کي مؤثره تمامیږی. نوموړی مانوره د واګوس عصب د تنبه دلاری په AV عقده کي د reentry میخانیکیت بند او د اریتمیا د ختمیدو سبب کیږی.

**د رمل:** که میخانیکي اهتمامات کار ورنکړی نو باید دوه هغه درمل چي په ۹۰ سلنه پیښو کي حمله ختموی اوریتم نورمالوی باید استعمال کړل سی. د ورید دلاری د adenosine استعمال که څه هم د تأ ثیر وخت یی ډیر کم او negative inotropic فعالیت یی هم کم دی ، په پیل کي ٦ ملی ګرامه د بولس دوز په ډول ناروغ ته ورکول کیږی. که د ۱ تر ۲ دقیقو وروسته ځواب ورنکړی، نوباید دوهم بولس دوز د ۱۲ ملی ګرامه په اندازه ورکول سی، او په تعقیب یی دریم دوز هم ورکول کیدای سی. له دی کبله چي د adenosine درمل half-life ډیر کم او تر ۱۰ ثانیی کم دی، نو درمل باید په چټک ډول د ۱ تر ۲ ثانیو په موده کي د ورید دلاری تطبیق سی. که څه هم درمل ښه تحمل کیږی، ولی یوازی په ۲۰ سلنه ناروغانوکي کیدای سی د مخ د سوروالی، او د صدري نا آ رامیو سبب سی. adenosine با ید بوډاګانو ته په ډیر احتیاط سره ورکول سی او هم هغه ناروغان چي استما لری باید احتیاط وکړی ځکه د قصباتوسپزم تشدیدوی.

د کلسیم د چینل بلاک کونکي درمل هم دAV بلاک د تولید او د reentrant د مخنیوی د تا ثیر له کبله مؤثریت لری. له دی کبله چي negative inotropic اثرات لری نو په هغو ناروغانوکي چي د زړه په عدم کفایه اخته وی باید په احتیاط سره تطبیق سی. verapamil باید د ورید دلاری د بولس دوز په څیر د ۲،۵ ملی ګرامه په اندازه تطبیق او کولای سو چي دوز یی د ۲،۵ یا ۵ ملی ګرامه په اندازه هر ۱ یا ۳ دقیقی وروسته تر ۲۰ ملی ګرامه اعظمی دوز پوری او یا ترڅو چي د وینی فشار او ریتم ستیبل کیږی، تطبیق کولای سو. که ناروغی عود وکړی نواضافه دوز هم ورکول کیدای سی. هغه ناروغان چي ریتم یی نورمال سو کولای سی verapamil د خولی دلاری د ۸۰ تر ۱۲۰ ملی ګرامه د ۴ تر ٦ ساعته وروسته واخلی، ولی که بطینی اریتمیا را منځته سویوی نوباید قطع سی. diltiazem د ورید دلاری د ۰،۲۵ ملی ګرامه/ کیلو د ۲ دقیقو په موده کي هم ناروغ ته تطبیق کیدای سی، او که ورته اړتیاوی دوهم دوز یی ۰،۳۵ ملی ګرامه/ کیلو او وروسته د انفیوژن په ډول د ۵ تر ۱۵ ملی ګرامه / ساعت تطبیق کیدای سی، ولی کولای سی د وینی د ټیټ فشار او یا میوکارډ د انحطاط سبب وګرځی. Esmolol چي د لنډ فعالیت درلودونکو بیټا بلاکر درملو د جملی څخه دی ، هم کیدای سی مؤثریت ولری، چي ابتدایی دوز یی د ورید دلاری ۵۰۰ میکرو ګرام / کیلو په یوه دقیقه کي پیل او ورسته د انفیوژن په ډول د ۲۵ تر ۲۰۰ میکرو ګرام / دقیقه ادامه ورکول کیږی. Metoprolol هم مؤثر

(c) ketabton.com: The Digital Library



درمل دی چي د ۵ ملی ګرامه د بولس دوز په اندازه په هرو ۵ دقیقو کي پیل او تر ۲ ځلی پوری تکراریدلای سی.

**کارډیو ورژن Cardioversion:** که ناروغ هیموډینامیک نورمال حالت ونلری او یا دا چي اډینوزین adenosineاو verapamil مضاد استطباب وی یا مؤثره تمام نسی، نوناروغ ته synchronized electrical cardioversion ، د ۱۰۰ ژول ښخه پیلیږی، مؤثره تمامیدلای سی. ولی په هغه صورت کي چي ناروغ د ډیجیتل تسمم ولری او یا شک ورباندی کیږی، باید د برقی کارډیو ورژن د تطبیق څخه ډ ډه وسی. ( ۲)

## پری اکساټیشن سندروم Preexcitation Syndromes

وهغهSupraventricular تکي کارډیا ته ویل کیږی چي د Accessory AV Pathways دلاری رامنځته سی، چي ښه بیلګه یی ا ذینی فبریلیشن دی. کیدای سی نوموړی محراقات ټول او یا یوه برخه یی په AV عقده کي شتون ولری، په دی صورت کي په ECG کي PR interval لنډ ولی د QRS مغلق نورمال وی اوورته Lown-Ganong-Levine سندروم وایی. معمولاً په دی ناروغی کي د Kent bundles د لاری د اذین اوبطین تر منځ مستقیم ارتباط را منځته کیږی، چي په دی صورت کي د Wolff-Parkinson-White سندروم په نامه یادیږی. په دی سندروم کي هم په ECG کي PR interval لنډ او د دلتا موجه ورسره مل وی چي د QRS مغلق په پیل کي لیدل کیږی. نوموړی دلتا موجه د preexcitation موجی په نوم یادیږی.

د Accessory pathways د لاری په یوازی ۰،۱ تر ۰،۳ سلنه ناروغانوکي اریتمیا منځته راتلای سی. په دی ډول اریتمیا وو کي د QRS مغلق تنګوالی او پراخوالی د سیالی په منشه اړه لری، که منشه د عقدی د لاری رامنځته سویوی نو د QRS مغلق تنګ او که د bypass tract دلاری را منځته سویوی نو د QRS مغلق پراخه وی. له دی کبله چي Accessory pathways په کمه اندازه عود کونکي ده ځکه نوهغه تکي کارډیاوی چي د دی لاری منځته راځی کیدای سی د نورو په پرتله زیاتی تیزی وی. په Wolff-Parkinson-White سندروم اخته ۳۰ سلنه ناروغانوکي اذینی فبریلیشن او یا فلټر منځته راتلای سی، او که دا حادثه زیاته تیزه وی نوحتی کیدای سی چي بطین ته و غځیږی او د بطینی فبریلیشن د منځته راتلو سبب سی.

**د رملنه :** په یوشمیر ناروغانو کي د دلتا موجه په ناڅاپی ډول په ECG کي موندل کیږی، حال داچي ناروغ هیڅ اعراض اوعلایم نلری. هغه ناروغان چي دزړه تکان، سرګرځیدل او سینکوپ ونلری، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځانګړی درملنی ته اړتیا نلری. او باید و پوهول سی که چیری یو د دغو اعراضو څخه ورته پیداسو باید سمدلاسه ډاکتر ته مراجعه وکړی. ولی هغه شمیرناروغان چي دنده یی نور هم د خطر سره مواجه کولای سی لکه پیلوټان یا د بسونو ډریوران باید ورته معاینات تکمیل سی تر څوو پوهیدل سی چي د وی د سینکوپ یا ناڅاپی مړینی د خطر سره مخ نه دی.

**د Ablation کتیتر تطبیق :** په دی ناروغانو انتخابی پروسه تشکیلوی. په پری اکسایټیشن سندروم اخته هغه ناروغان چي د اذینی فبریلیشن او یا فلټر حمله پر راغلی وی، باید په الکترو فیزیا لوژیک electrophysiologic لابراتوار کي معاینه او د RR سیکل اوږدوالی یی تعین سی، که دا اندازه تر ۲۲۰ ملی ثانیی کمه وی نو ناروغ لنډ ریفرکټوری refractory period شتون لری او دا ناروغان د ناڅاپی مړینی د زیات خطر سره مخ دی، نو ورته په وقایوی ډول ablation استطباب لری. په ۹۰ سلنه ناروغانوکي دا پروسه کامیابه ارزول سویده.

**طبی د رملنه**: که څه هم دا ناروغان باید د هغوی د ناروغی او حالت په پام کي نیولوسره تداوی سی، ولی باید په پام کي وی چي د یوشمیر درملو لکه ډیجوکسین، د کلسیم چینل بلاک کونکي، اوحتی بیټا بلاکرونو استعمال مضر او کولای سی چي بطینی ریټ زیات کړی. د اریتمیا ضد class Ia ، class Ic او class III انتخابی درمل دی، که ناروغ کومه هیموډینامیکه ستونزه ولری نوباید ورته برقی کارډیو ورژن cardioversion ورکول سی. د د وامداری درملنی په صورت کي باید د درملو د یوځای تطبیق څخه کار واخستل سی. ( ۲ )

## بطینی تکي کارډیا Ventricular Tachycardia

بطینی تاکی کاردیا یو ډول اریتمیا ده چه په بطین کی د یوه اکتوپیك محراق څخه منشه اخلی او په یوه دقیقه کی ۱۴۰ – ۲۵۰ پوری سیالی ازادوی.

داډول ریتم دenhanced automaticity یا reentry سره یوځای وی.

په ECGکی داډول ریتم دیوی سلسلی پراخو QRS مجموعو څخه عبارت دی چه rate یی تیز وی.

د Pموجه ورسره یوځای موجوده نه وی، او د QRS مجموعه اصلی شکل نلری او کله کله دندانی لری او دوام ئي ۰،۱۲ ثانیي یا زیا ت وی.

د QRSمجموعی سره مشابه وی ( Monomorphic ) خوکله چه شکل ئي فرق سره ولری دا ډول بطینی تاکی کاردیا پولی مورفیك بلل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر QRSوروسته غټېي د Tموجي چه د عمده QRS دمجموعي مخالف لوري لري منځته راځي.

**اسباب:** بطيني تاکي کارديا معمولا په هغوناروغانو کې چه د زړه ناروغي لري منځته راځي.

په عام ډول په هغو ناروغانو کې چه دميوکارد اسکيمي يا احتشاْء لري، کارديوميوپاتی، دمترال د سام پرولاپس، او دزړه احتقاني عدم کفايه ولري منځته راځي.

د ديجيتال تسسم، يوشمير درملونه لکه کينيدين، پروکائين امايد، دترسکليك انتي ديپريسانت، دالکتروليت تشوشات لکه هيپوکاليميا او هيپومگنيزيميا،داندوکارد ميخانيکی تنبه،اوتر ترومبوليتيك د رملني اوانجيو پلاستي وروسته د پرفيوژن بيرته تامين هم دهغه سبب کيږي.

**د رملنه**: که ناروغ نبض ولري د بطيني فبريليشن په ډول تداوي شي.


که ناروغ نبض ولري او عمومي وضع ئي سمه وي.

- د وريد دلاری دليدوکا ئين ورکول،
- که ريتم اصلاح نشو دوريد دلاری دپروکا ئين اما يد ورکول.
- که اصلاح نشو دپرفيوژن په ډول د Bretylium ورکول.
- که بياهم ريتم اصلاح نشو ، ناروغ ارا م کړل شي او کارديو ورژن په ترتيب د ۱۰۰ ، ۲۰۰ ، ۳۰۰ او ۳٦۰ ژول په قوت ورته اجرا شي.

**که ناروغ نبض ولری او عمومی وضع ئي خرابه وی:**


- ناروغ ارا م کړل شي.
- کارديوورژن د ۱۰۰ ژول اوبيا د۲۰۰ ، ۳۰۰ او ۳٦۰ ژول په قوت سره.
- د وائي تداوی په پورته ډول.
- د مزمنی متکرری بطيني تا کی کا ر د يا د رملنه
- دخولی دلا ری داريتميا ضد درمل ورکو ل.
- Implantable cardioverter defibrillator (ICD).

Ventricular tachycardia: wide QRS complexes, rate>150/min



Polymorphic ventricular tachycardia: changing QRS configuration.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بطینی فبریلیشن Ventricular Fibrillation

په بطینی فبریلیشن کی یو بینظمه ، بی ترتیبه برقی محراق د زړه کنترول پرغاړه لری.
بطینونه په کوم نظم سره ضربان نکوی او دهغه پر ځای بی نظمه او غیر موثر لړزیدل موجود وی. په ECG کی غیرمنظم اوګډوډ قاعدوی خط او دمختلف جسامت، شکل او لوړوالی لرونکی موجی لیدل کیږی. بطینی فبریلیشن د زړه د ناڅاپی مړینی یو ډیر غوره سبب دی. کله چه بطینی فبریلیشن منځته راشی بیا نو قلبی دهنه ، محیطی نبض او دوینو فشار موجود نه وی او ډیر ژر ناروغ شعور دلاسه ورکوی. سیانوزیس او صرعه منځته راځی او که ژر اریتمیا اصلاح نشی د مرګ سبب کیږی.
**اسباب:** د زړه دوصفی ناروغیو موجودیت لکه داکلیلی شرا ینو ناروغی، دمیوکارد اسکیمیا، او د میوکارد حاده احتشاْء.


### نور اسباب یی په لاندی ډول دی

کارډیو میوپاتی، د میترال والو پرولپس، د زړه ترضیضات، هیپو کسیا، د الکترولیتو بی موازینګی ( هیپر کلیمیا)، نا څاپی برقی شاک، درمل لکه ډیجیتل، کینیدین، پروکائین امیډ
**د رملنه:** د ناروغ نبض او وضعیت ارزیابی شی، که نبض موجودوی اویا دناروغ شعوری حالت سم وی بطینی فبریلیشن امکان نلری.دګراف اخیستلو د عملیي غلطی به وی.
که نبض ونلری او ناروغ شعور ونلری یوه پری کار دیال ضربه ورکړل شی.
د ۲۰۰ ژول په قوت سره ډ یفبریلیشن ورکړل شی او که موثر نسو د ۳۰۰ او۳٦۰ په قوت سره ورته تکرار شی.
ناروغ ته باید CPR پیل ، د ناروغ ورید خلاص او انتوبیشن ورته ترسره سی.
اپي نفرین ۱ ملی ګرام دورید دلاری ورته ورکړل شی او *CPRته ادامه ورکړل شی.
دورید دلاری یو یا یونیم ملی ګرام لیدوکائین پر هر کیلو ګرام وزن ورکړل شی اوCPR ته ادامه ورکړل شی.
د ورید دلاری ۵ ملی ګرامه Bretylium ورکړل شی اوCPR ته ادامه ورکړل شی او په ۳٦۰ ژول سره ډیفبریلیشن ورته وشی.


Ventricular flutter: undulating large waves, no QRS-t distinction

(c) ketabton.com: The Digital Library





Ventricular Fibrillation: irregular, bizarre and chaotic deflections



*CPR= Cardio Pulmonary Resuscitation

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د څپرکي لنډیز

په څلورم څپرکي کي د زړه د ناروغیو د عمده اوخطر ناکه ډول څخه چي د زړه بینظمی یا اررېتمیاوی دی یاد ونه سویده. د څپرکي په پیل کي په لنډ ډول د زړه د برقی انتقالی سیستم اناټومی او فیزیالوژی څخه یادونه سویده او وروسته بیا د معیاری کریکولم په پام کي نیولو سره هره ناروغی په مفصل ډول شرحه سوی، یعنی د ناروغی تعریف، اسباب، تشخیص، او درملنه ذکر سوی او په یوشمیر ناروغیو کي حتی اړونده ګراف هم ښودل سویدی.

د څپرکي په پیل سره د کریکولم سره سم لمړی برډی ا رریتمیاوی او د هغو بیل ډ ولونه تشریح او وروسته بیا په ترتیب سره د تکي ا رریتمیاوو څخه یادونه سویده. د څپرکي په جریان کي یو شمیر ځانګړی سندرومونه چي یا په برډی ا رریتمیا او یا تکي ا رریتمیا پوری اړه لری هم یادونه سویده. د تشخیص او د رملنی په برخه کي هڅه سویده تر څو د عصری تشخیصی وسایلو څخه یا دونه وسی او هم د عصری درملنی اصول په پام کي نیول سویدی او ورڅخه یادونه سویده.

د زیاتو ناروغیو د انذار و په اړوند هم یادونه سوی او هغه نا روغی چي خراب انذار لری او د مړینی سبب کیږی، هم یادی سویدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د څېرکي اړونده پوښتنې

**۱- صحیح جمله په ص او غلطه جمله په غ سره په نښه کړی.**

**۱-۱ : د بطیني تکي کارډیا اعراض عبارت دی له:**

الف: بطيني ریټ تر ۱٦۰/ د قیقه زیات.

ب: د زړه د لمړی آ واز شدت بیل بیل وی .

ج: د زړه د عد م کفایی شتون.

د: په ECG کي د QRS مغلق د وام تر ۰،۱۴ ثانیی زیات وی.

**۱-۲ : د زړه د ریتم په اړوند لاندی جملی درستی دی:**

الف: د خوب پر وخت ساینوس برډی کارډیا ،تر ٦۰/ دقیقه کم ریټ ، نورماله ده.

ب: د زړه په ګراف کي ساینوسی توقف داسی تعریف سویدی چي د Pموجی شتون چي QRS مغلق ورسره نه وی.

ج: د د واړو ساینوس برډی کارډیا او ساینوس تکي کارډیا د حملاتو موجو دیت پر Sick Sinus سندروم د لالت کوی.

د: د خود کاره عصبی سیستم د نیوروپاتی په شتون کي د شهیق په وخت د زړه حرکات کمیږی.

**۱-۳ : هغه ناروغ چي د اذیني- بطیني عقدی متکره re-entryتکي کارډ یا لری:**

الف: ا ډ ینوزین د وقایوی درملنی په ډول لمړی غوراوی بلل کیږی.

ب: د زړه ضربان یی اکثراً د ۱٦۰ تر ۲۲۰ / دقیقه وی.

ج: تر د وامداره حملی وروسته د پولی یوریا شتون وصفی علامه دی.

د: د حملی په دوران کي کیدای سی اعراض موجود او یا شتون ونلری.

**۱-۴ : ا ذیني فبریلیشن عبارت دی:**

الف: تر ۷۵ کلنی په پورته عمر کي په ۱۰ سلنه بوډا ګانو کي شتون لری.

ب: د DC-Cardioversionتر تطبیق وروسته اکثراً ډیر ژر په د وامداره سینوزل ریتم اوړی.

ج: د Sick Sinusسندروم یو معمولی عرض تشکیلوی.

د: په دی ناروغانوکي اکثراً بطیني ریټ حتی مخکي تر درملنی تر ۱۰۰/ دقیقه کم وی .

**۱-۵ : په ا ذ ینی فبریلیشن اخته ناروغ کي:**

الف: یوازی په آ سپرین سره درملنه د دماغی سکتی خطر نسی کمولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب: عضدی یا رډیل نبض په غیر منظم ډ ول غیر منظم وی.

ج: د اذینی سیستول د نه موجود یت له کبله د تمرین په وخت د زړه د دهانی جواب کمیږی.

د: د الکهولو زیات چښل یی کولای سی سبب و بلل سی.

**۱-٦ : بطینی اکتوپیک ضربانات :**

الف: په سټروک والیم کي کلینیکي ښکاره کموالی را منځته کوی.

ب: که اعراض ولری نو د زړه پر ناروغیو دلالت کوی.

ج: که په ثانوی ډ ول د زړه د ناروغیو په وسیله رامنځته سویوی، نو د تمرین په وخت ورکیږی.

د: که د زړه تر احتشأ وروسته ولیدل سی نوباید د ا رریتمیا ضد درملو په وسیله تدا وی سی.

**۱-۷ : په بطینی تکي کارډیا کي:**

الف: سبب یی اکثراً د زړه ناروغی وی.

ب: د حملاتو د تکرار د مخنیوی لپاره امیو دارون ګټور تمامیږی.

ج: د کروټید ساینوس مساژ کولای سی په ګذری ډول د زړه ضربان کرار کړی.

د: که د زړه عدم کفایه ورسره مل وی نوباید د cardioversion څخه ډ ډه وسی.

**۱-۸ : په بطینی فبریلیشن اخته ناروغ کي:**

الف: هغه چي په د رملنه جواب نه ورکوی، باید د عمیقی هایپو کلیمیا و خواته پام واړول سی .

ب: عضدی یا رډیل نبض تیز او خیطی وی.

ج: د DC- Shockد تطبیق ترمخه باید ناروغی د زړه د ګراف په وسیله تأ یی سی.

د: په لیګنوکائین سره بیړنی درملنه د cardioversionد تطبیق اړتیا کموی.

**۱-۹ : د زړه د اررتیمیا درملنه:**

الف: د درملو د مؤ ثریت د معلوملو لپاره اعراض یوښه معیار دی .

ب: د څو د رملو یوځای ورکول د یو ه د رمل په پرتله ګټور دی.

ج: د سببی عامل درملنه کوم ځانګړی اثر نلری.

د: د الکهو لو لږ چښل کیدای سی توصیه سی.

**۱-۱۰ : د اررتیمیا ضد درملو د تصنیف په اړوند، لاند نی جمله درسته ده :**

الف: د لمړی کلاس درمل د fast sodium چینل نهیه کوی .

ب: د دوهم کلاس درمل beta-adrenoreceptor antagonists دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج: د دریم کلاس د رمل د action potential د اوږد والی سبب کیږی.

د: د څلورم کلاس درمل slow calcium چینل نهیه کوی.

**۲ سوال: ثابت بطینی ټکي کارډیا یاSustained VT کوم حالت ته ویل کیږي ویی لیکي ؟**

**۳ سوال : دAV نوډل ری انترانت ټکي کاردیا ددرملنی لپاره په میخانیکي مانوروکې یوه دلاندی مانوروڅخه ګډون نه لري ؟**

الف- دوالسلوا مانور — ب- دمټانواونوربدن کیکا ګل


ج - سابندول — د- دسږ واوبوڅښل

**۴- خالی ځایونه په مناسبو کلماتو ډک کړی؟**

- د اذینی فبریلیشن په ECG کي د (                ) موجی نه لیدل کیږی.
- سا ینوس توقف د (                              ) په نامه هم یا دیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم څپرکی

## د زړه عدم کفایه اوکورپلمونل

د زړه عدم کفایه
کور پلمونل

### دڅپرکي مقدمه

د زړه عد م کفایه هغه معمول کلینیکي سندرومونه دی چي د زړه د پمپ کولو د توان د کموالی له کبله را منځته کیږی. لکه څرنګه چي سندروم د اعراضو او علایمومجموعی ته ویل کیږی، ځکه نو خپله د زړه عدم کفایه یو پوره تشخیص نه دی.

د زړه د عدم کفایه سندروم کولای سی چي د زړه د یوشمیر ساختمانی ناروغیو، د میخانیکي د ندو د خرابوالی او یا برقی سیالو د نه فعالیت له کبله را منځته سی، چي هر یو یی ځانته تشخیص او درملنی ته اړتیالری، چي له همدی کبله نو د زړه د عدم کفایی تشخیص او درملنی ته باید زیاته پاملرنه واړول سی.

د زړه د عدم کفایی زیات شمیر وصفی اعراض او علایم مستقیماً د زړه د ناروغیو لکبله نه را منځته کیږی او اکثراً په ثانوی ډ ول د بدن د نورو سیستمونو لکه پښتورګو یا عضلاتو د آ فاتو په څیر تظاهر کوی، چي معمولاً یی اثرات بیاهم ښه نه دی پوهیدل سوی.

له دی کبله نو ویلای سو چي د زړه د عدم کفایی پتوفزیالوژی مغلقه او حتی تر اوسه ښه نه پیژندل سوی پروسه ده. له همدی سببه ده چي د زړه د عدم کفایی یو واحد تعریف شتون نلری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زړه عدم کفایه
# Heart Failure

## تعریف

د زړه عدم کفایه یو مغلق سندروم دی چي کولای سی د زړه د ساختمانی او یا وظیفوی آ فاتو لکبله منځته راځی ، او د زړه هغه توان چي باید د فیزیولوژیکي اړتیا لپاره وینه پمپ کړی، کموی.
د زړه عدم کفا یه هغه وخت منځته راځی چه زړه و نشی کولا ی چه داسی قلبی د هنه تا مین کړی چه دبد ن د میتابولیکو ضرورتونو لپاره کافی وی اویاد بد ن ضرورتونه پوره کړلا ی شی.
د احتقان یا Congestive اصطلاح هغه وخت استعمالیږی چه دریوی او سیستمیك دوران د حجم د زیاتوالی اعراض او علایم شتون ولری ، په وصفی ډول د سوډ یوم او اوبو د احتبا س له کبله ، او د نیوروهورمونا ل میکا نیزمونو فعا لید ل چه د قلبی عدم کفایي لپاره وصفی دی منعکسوی.

## اسباب

- د ا کلیلی شرا ینو ناروغی.
- د وینی لوړفشار
- د زړه دسامی ناروغی
- لمړنی کاردیومیوپاتی ( فامیلی یا ایدیو پاتیك)
- د میوکارد وظیفوی تشوش چه په ثانوی ډول دانتانی، میتا بولیکو، اندوکرینی، تغذیوی، یا توکسیکو ( لکه الکهول یا انتراسیکلین ) اسبابو له کبله منځته راغلی وی.
- د منضم نسج اوپریکارد ناروغی
- عصبی عضلی او اوتوامیون ناروغی
- ارتشاحی ناروغی( امایلوئیدوزیس، هیموکروماتوزیس، سارکوئیدوزیس)
- د زړه ولادی ناروغی.

## پتو فزیالوژی

قلبی دهانه د Preload( د دیاستول په اخیر کی د بطین په داخل کی دوینی حجم اوفشار)، د Afterload (د شراینومقاومت ) او د میوکارد دتقلصیت په وسیله تامینیږی.
د زړه عدم کفایه د نیوروهورمونال بدلونو دمجموعی سره مل وی ، چه د-Renin angiotensin_aldosterone axis اود sympathetic nervous systemفعالیدل په برکی نیسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په لمړیوکی دا بد لونونه دقلبی وظایفو دتامین سره په Preload یا After load کی د بدلونو او دمیوکارد دتقلصیت د زیاتیدلو په وسیله کمك کوی.خوپه اخیرکی په مخالف لوری کی عمل کوی ا و قلبی دهانه دمحیطی وعایي مقاومت دزیات او غیر لازمی زیاتوب په وسیله کموی او یوه معیوبه حلقه منځته راځی، داځکه چه په قلبی دهانه کی کمښت دنورونیوروهورمونال فعالیتو او دمحیطۍ وعایي مقاومت دزیاتوب سبب کیږی.

دریوی اومحیطی اذ یما پیل د لوړ شریانی فشار له کبله ده چه داوبو او مالګی داحتباس په ذریعه د پښتورګود پرفیوژن د کمښت او د ثانوی الدوستیرونیزم له کبله منځته راځی.(۵)

**هغه عوامل چي د زړه عدم کفایه شد یده او یا ورته زمینه برابروی**

ټول هغه عوامل چي د میوکارډ فعالیت زیات کړی کیدای سی دشته عدم کفایی د شدت او یا نوی عدم کفایی د را منځته کیدو سبب سی، چي ډیر معمول یی د زړه اریتمیاوی، کمخونی، د درقیه غدی فرط فعالیت، امیدواری، چاغوالی، د اندو کارډ انتانی التهاب، د سږو التهاب او د زړه د عدم کفایی د درملنی بدلون، تشکیلوی. د دی عواملو له کبله د بیا بستر کیدو چانس زیا ت او د ۳ تر ٦ میاشتو په موده کي د ۲۹ تر ۴۷ سلنی ته رسیږی.

**د زړه د عدم کفایی معمول مساعد کونکي عوامل**

۱- ځواب نه ورکول ( تغذیه ، درمل)

۲- د وینی نه کنترولیدونکي لوړ فشار

۳- د میوکارډ احتشأ یا اسکیمیا

۴- د زړه ا رریتمیاوی

۵- د مایعاتو زیات تطبیق

٦- د سږو امبولی

۷- د سږو انتانات

۸- سیستمیک انتانات

۹- اندوکرینی ستونزی

۱۰- محیطی عوامل

۱۱- نا مکمله درملنه

۱۲- روحی فشارونه

۱۳- د وینی ضایعه ( کمخونی) (۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د زړه دعدم کفایی ډولونه

دزړه عدم کفایه په څوطریقوسره تصنیف او توضیح کولای شو

١- حاده اومزمنه عدم کفایه Chronic and acute heart failure

٢ - چپه او راسته عدم کفایه Left- and right-sided heart failure

٣- د لوړی یا کښتی د هانی لرونکي عدم کفایه High-output and low-output heart failure

۴- مخته اووشاته عدم کفایه Backward and forward heart failure

۵- سیستولیکه او د یاستولیکه عدم کفایه Diastolic and systolic heart failure

**حاده اومزمنه عدم کفایه (Acute and chronic heart failure)**

دزړه عدم کفایه کیداشی چه په انی ډول، لکه دمیوکارد په احتشاء کی، اویا په تدریجی توګه، لکه دزړه په پرمختلونکو دسامی ناروغیو کی، منځته راشی.

که دزړه وظایف په تدریجی توګه کم شی، یوتعداد معاوضوی تغیرات ( لمړی لمبر جدول) منځته راځی. که څه هم په لمړی سرکی داتغیرات قلبی وظایف تامینوی، خوهرڅومره چه ناروغی مخته ولاړه شی، په مخالف لوری کی عمل کوی.

دزړه دمعاوضوی عدم کفایي اصطلاح هم کله کله ددی لپاره استعمالیږی چه داسی یوناروغه راته ښئي چه قلبی وظایف یي کم شوبواوپه هغوی کی توافقی تغیرات ( adaptive changes) دواضح قلبی عدم کفایي دمنځته راتګ مخه نیسی. یوه ډیره کوچنی پیښه لکه انتان کولای شی چه دواضح قلبی عدم کفایي منځته راتګ ته سرعت ور کړی.

۵- ١ جدول: د زړه په عدم کفایه کي معاوضوی بدلونونه

| | |
|---|---|
| موضعی بدلونونه | - د جوف غټیدل<br>- د میوکارد هیپرتروپی<br>- د زړه د ضربان زیاتیدل |
| عمومی بدلونونه | - د سمپاتیك عصبی سیستم فعالیدل<br>- د renin-angiotensin-aldosterone system فعالیدل<br>- د انتی دیورتیك هورمون ازادید ل<br>– د Natriuretic peptides ازادیدل ( اذینی او دماغی natriuretic peptides ) [ ANP and BNP ]. |

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د چپه او راسته زړه عدم کفایه (Left, right and biventricular heart failure)**

د زړه چپه طرف هغه اصطلاح ده چه دچپه اذین ، چپه بطین آودمترال او ابهر د دسامونو د وظیفوی واحد لپاره استعمالیږی، او راسته زړه دراسته اذین، راسته بطین،دتریکوسپید اوریوی دسامونو څخه جوړ شویدی.

**د چپه زړه عدم کفایه:** په دی حالت کی د چپه بطین دهنه کمه وی او د چپه اذین اوریوی وریدفشار زیاد وی.که د چپه اذین فشار په حاد ډول لوړ شی دریوی احتقان او ریوی اذیما سبب کیږی،خو که په تدریجی ډول دچپه اذین فشار لوړ ولاړشی دریوی اوعیو د رفلکسی تقبض سبب کیږی، کوم چه دریوی لوړفشار په بیه ناروغ د ریوی اذ یما څخه ساتی.

**د راسته زړه عد م کفایه:** په دی حالت کی د راسته بطین دهنه د راسته اذین د فشار له کبله کښته راځی.دراسته زړه دیوازنی یا تنها عدم کفايي اسباب عبارت دی د مزمنی ریوی نا روغی ( cor pulmonale)، multiple emboli او د ریوی دسام دتضیق څخه.

**د ټول زړه عد م کفایه:** دچپه اوراسته زړه عدم کفایه کیدای شی چه منځته راشی داځکه چه دناروغی پروسه ( لکه dilated cardiomyopathyیا ischemic heart disease ) دواړه بطینات متاثره کوی اویا د دی کبله چه د چپه زړه ناروغی د چپه اذ ین د فشار دمزمن لوړوالی، ریوی هیپر تینشن او دراسته زړه دعد م کفايي سبب کیږی.

**مخته اووشاته دزړه عدم کفایهForward and backward heart failure )**

د زړه دعدم کفا يي په یوشمیر ناروغا نو کی عمده ستونزه غیر کا فی قلبی دهنه وی ( Forward failure) ولی په یو شمیر نوروکی بیا نارمل او یا نارمل ته نزدی قلبی دهنه شتون لری اوورسره وصفی د مالگی او اوبو احتباس لری backward failure چه د ریوی یاسیستمیك احتقان سبب کیږی .

**د یاستولیکه او سیستولیکه عدم کفایه (Diastolic and systolic heart failure)**

د زړه عد م کفایه کیدای شی چه دمیوکارد ناقص تقلص له کبله منځته راشی، خو کیدای شی چه همدارنگه دبطین د ضعیف ډکیدلو او د لوړ filing pressure په وسیله منځته راشی چه دغیرنارمل بطیینی رخاوت ( diastolic dysfunction) له کبله را منځته کیږی. دااخیری پیښه په معمول ډول په هغو ناروغانوکی چه دچپه بطین هیپرتروپی لری پیداکیږی او د زړه د ناروغیو په ډیرو شکلونو په ځانگړی توگه هیپرتینشن ، اود زړه په اسکیمیکوناروغیو کی منځته راځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د زړه سیستولیك او دیاستولیك وظیفوی تشوش په اکثره وختونوکی په یوه وخت کی منځته راځی په ځانګړی توګه په هغو ناروغانوکی چه داکلیلی شراینو ناروغی لری.

**د لوړی دهنی لرونکی عدم کفایه (High out put failure)**

هغه حالات چه د ډیری لوړ ی قلبی دهانی سره یوځای وی کله کله د زړه دعدم کفایي سبب کیږی،په داسی حالتونوکی به د زړه دعدم کفایي یو بل سبب لکه تیروتوکسیکوزیس ، د وینی میکروبی کیدل، شدیده کمخونی ، بیری بیری ، د Paget's ناروغی، میالوما ، امید واری هم شتون ولری.

**اعراض اوعلایم :** د بطیناتو وظیفوی تشوش په ځینو حالاتو کی بیله عرضه وی.

د زړه دعدم کفایي هغه اعراض چه د ناکافی قلبی دهنی له کبله منځته راځی لکه ستړیا، د تمریناتو د ظرفیت کمیدل، اود تمرکزاودماغی وظایفوکمیدل. د ناروغه نهایات ساړه ، اودوینو فشار یي ټیټ وی ،ضعیف کلیوی پرفیوژن چي د اولیګوریا او یوریمیا سبب کیږی.

هغه اعراض چه داحتقان له کبله منځته راځی لکه اورتوپنی، جهدی عسرت تنفس،د شپی له پلوه شدیده سالنډی Paroxysmal Nocturnal Dyspnea،د بطن انتفاخ، د زړه بدوا لی،اود مایعاتو ا حتباس ( حبن ، پلورا ل ایفیوژن اومحیطی اذیما)، په ولاړو یا حرکت کونکو ناروغانو کی اذیما د بجلکو په شاوخوا کی وی ، ولی په بستر کی محکومو ناروغا نو کی د ورنو او ساکروم په شاوخوا کی را ټولیږی.

دناروغی د پیل ډول او سیریي باید معلوم کړل شی.

دناروغی اسباب او تشدیدونکی عوامل باید معلوم کړل شی.

**۵- ۲ جدول: د نیویارک د زړه د ناروغیو د ډلی یا NYHA تصنیف**

| | |
|---|---|
| **ناروغ نورمال فعالیت لری، او حتی د جهد په وخت کي اعراض نلری** | **Class I** |
| **په ناروغ کي د عدم کفایی اعراض شتونلری او په کمه اندازه یی فزیکي فعالیتونه محدود سویوی** | **Class II** |
| **د ناروغ فزیکي فعالیتونه زیات محدود ولی د استراحت په وخت کي آ رام وی** | **Class III** |
| **د استراحت پر وخت هم ناروغ اعراض اوعلایم لری او انذار یی خراب وی** | **Class IV** |

**فزیکی معاینات**

**د چپه طرف دعدم کفایي علایم**

– د ا سترا حت په وخت کی تا کی کاردیا یا تاکی پنیا.

– د زروی یو غیر نارمل ضر بان (غټ شوی، منتشر ، بی ځایه شوی، دوامداره ).

– په سیستولیکه عدم کفایه کی یو S3 gallop، د کروتیدد upstroke دحجم کمیدل ( low pulse pressure) او ساړه نها یات لیدل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



– په د یا ستولیکه عدم کفایه کی به hypertension یا S4 gallop پیداکړلای شی.
– که ډکوونکی فشار په حاد ډول لوړشو یوی وصفی را لونه په دواړو سږوکی اور یدل کیږی.
– په مزمنه عدم کفایه کی په ا کثره و ختو نو کی دسږو سا حی پا کی وی او شدید تنفسی اوازونه اور یدل کیږی.
– پلورا ئي ا نصباب ( pleural effusion ) که شتون ولری نودو طرفه به وی او یا په را سته کی به تر چپه خوا ډیروی.

د د واړوخواوو ( biventricular) او یا راسته طرف دعدم کفایي علایم عبارت دی د:دوداجی ورید دفشار لوړتلل،دراسته بطین ضربه( lift) یاsubxyphoid tap، دP2 لوړیدل ( pulmonary hypertension) ،دراسته بطین ګالوپ، هیپاتو جیګولاررفلوکس (reflux)،تکانیدونکی یاسخته هیپاتومیګالی،حبن،او داطرافو اذیما.



که د راسته طرف د عدم کفایي علایم یوازی شتون ولری او دچپه طرف علایم موجود نه وی دریوی اوعیو دلمړنیو یا ثانوی ناروغیو و خواته فکر کیږی.

په یوه ناروغ کی چه هرڅومره اعراض او علایم ډ یروی په هغومره اندازه د زړه دعدم کفایي تشخیص پکی په درست ډول وضع کیدای شی. ډیر زیات وصفی علایم عبارت دی د:دوداجی وریدونو دفشار لوړیدل، د دریم آ واز شتون ، وچپه خواته دزروی دضربان بیځایه کیدل،



ریوی رالونه چه په ټوخی سره له منځته ولاړنشی.اومحیطی اذیما چه دوریدی بی کفایتی له کبله نه وی.

مزمنه قلبی عدم کفایه کله کله دوزن دواضح ضیاع سره یوځای وی ( cardiac cachexia) او علتونه یي هم داشتها کمیدل ، دمعدی- معایي احتقان له کبله د جذب کمیدل، دکښته قلبی دهنی له کبله ضعیف نسجی پرفیوژن،او دنه حرکت کولو له امله د اسکلیتی عضلاتو اتروفی دی.

**۵ ـ ۱ شکل ( د وداجی اوعیه توسع او پیتنګ اذیمأ) (۴)**

(c) ketabton.com: The Digital Library


## درملنه

د زړه دعدم کفایي په د رملنه کي باید لاندی اصول په پام کي ونیول سی

- د ناروغی داصلی علت تشخیص اوتداوی
- د زمینه برابرونکواو تشدیدونکوعواملو پیژندنه اوتداوی
- د زړه د ضربان دتعداد کنترول.
- د زړه دتقلص اودهنی زیاتول
- د سیستمیکووریدونو داحتقان کمو ل دپرلود دکمولو په وسیله.
- دافترلودکمول اودقلبی دها نی زیاتول.
- د زړه دکارکمو ل د داسی عواملو په وسیله چه پریلود او افترلود ترتاثیر لاندی راولی.
- جراحی لکه دزړه پیوند.

## د زړه د مزمنی عدم کفایي درملنه

### ۱ - عمومی ا هتمامات

– د فزیکی فعالیتونو محدودول او دناروغ تسکین ( لنډ مهاله قد م وهل او اببازی دزړه په مزمنه عدم کفایه کی کمك کوی)

– اکسیجن

– غذايي رژیم او دسودیوم ، دډیروالکهولو اودمالګی اوسودیوم داحتباس ورکونکی در ملو( لکه NSAIDs )دمصرف کمول

– داصلاح وړ اسبابو لکه دسامی افات،دمیوکارد اسکیمی،دوینی لوړ نه کنترولیدونکی فشار،اریتمی ګانی ،دالکهولو او درملو په وسیله منځته راغلی د میوکاردانحطاط، د زړه د داخل شنتونه، او دلوړی دهنی لرونکی حالتونو درملنه.د د یاستولیکی عدم کفایي د اصلاح وړ سببونه عبارت دی د پریکارد ناروغی، دهیپرتینشن له کبله د چپه بطین هیپرتروپی .

– کله چه دامعلومه شوه چه کوم داصلاح وړسبب شتون نلری نوهغه کارونه چه په لاندی کی ذکر کیږی ورته وشی.

۵- ۳ جدول: د زړه په عدم کفایه اخته ناروغانو عمومی اهتمامات (۷)

| | |
|---|---|
| پوهاوی | • ناروغ ته باید د ناروغی د سیر، درملنی او د ځان سره د مرستی په اړوند پوره پوهاوی ورکول سی |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | |
|---|---|
| تغذیه | • ښه تغذیه او که چاغ وی باید وزن کم کړی<br>• په شدیده عدم کفایه ناروغان باید مالګه کمه کړی، او اضافه پر شیانومالګه وانه چوی |
| سګریټ | • سګریټ اوچلم باید پریښودل سی |
| تمرین | • باید په منظم ډول تمرینونه تر هغه اندازی چي ناروغ یی تحمل کولای سی تر سره کړی |
| واکسین | • ناروغ باید په منظم ډول دInfluenzas او pneumococcal واکسین تطبیق کړی |

## ۲- د وایي د رملنه

### مزمنه سیستولیکه عدم کفایه

**الف: درینین انجیوتینسین الدوستیرون نهی کونکی درمل**

- د ACEنهی کونکی درمل د سیستولیکی عدم کفایي دتداوی اساس جوړوی ، او که واضح مضاداستطباب یي شتون ونلری باید ناروغ ته ورکړل شی. نوموړی درمل د لږدوز څخه پیل او کرار کرار یی دوز باید زیات شی. کپتوپریل ( د ۶،۲۵ ملی ګرامه تر ۱۲،۲۵ ملی ګرامه) پیل او بیادی ۵۰ ملی ګرامه د ورځی ۳ ځلی ته لوړ کړل سی. ینالاپریل هم د ۱۰ تر ۱۵ ملی ګرامه د ورځی ۲ ځلی ورکول کیدای سی.

**- د angiotensin II آخذو نهیه کونکي**

**- سپیرونو لکتونspironolactone ( د ډ یوریتیکو په برخه کي ورڅخه یادونه سویده).**

**ب - دیجیتا ل:** په سراپا ناروغانوکی لوډنګ دوز ته اړتیا نشته ، کاهلانوته ۰،۲۵ ملی ګرامه او ماشومانواو بوډاګانوته ۰،۱۲۵ ملی ګرامه دورځی پیلیږی.

**ج – دیورتیکونه:** هغه وخت ناروغ ته ورکول کیږی چه دسیستمیك احتقان اعراض اوعلایم ولری. د یورتیکونه د احتقان اعراض د سود یوم اواوبود زیات اطراح له کبله کموی. معمولاً دتیازید ، لوپ او دپوتاسیوم ساتونکی دیورتیکونو څخه کار اخستل کیږی.

**د مزمنی دیاستولیکی عدم کفایي تداوی:**باید په ناروغ کي داکلیلی شراینو دناروغنو او د وینی د لوړ فشاراسباب ولټول او تداوی شی.د کلشیم د چینل بلاک کونکي درمل، beta-blockers او ACE نهیه کونکي درمل ونه ټوله مؤثردی ځکه د بطین هیپرتروپی کموی.دیوریتیکونه داحتقانی اعراضو دکمښت لپاره استعمالیږی. ولی دیری لود زیادکمیدل ( دنتریت او دیورتیك په وسیله)قلبی دهانه کموی اواعراض شدیدوی ځکه نو باید په احتیاط سره ورکړل سی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵- ۴ جدول: په بوډا ګانو کې د زړه عدم کفایه (۷)**

| | |
|---|---|
| **وقوعات** | د عمر په تیریدو سره یې پیښې زیاتوالی مومي او په ۸۰ کلنې کې د ۵ تر ۱۰ نفوس په اخته کیږي |
| **عمده اسباب** | د اکلیلي شراینو ناروغي، د وینې لوړ فشار، او د زړه د والونو ناروغي |
| **د ډیاستول د دندو خرابوالي** | اکثراً متبارزې وي، په ځانګړې توګه په هغو ناروغانوکې چې د وینې لوړ فشار لري |
| **د ACE نهیه کونکي درمل** | اعراض له منځه وړي او د مړینو کچه کموي، ولې په بوډاګانوکې د ځوانانو په پرتله د وینې فشار زیات ټیټوي او د پښتورګو د فعالیت د کموالي سبب کیږي |
| **د Loop diuretics استعمال** | اکثراً ورته اړتیا لیدل کیږي، ولې په هغو ناروغانوکې چې د ادرار **incontinence** ولري او یا دپروستات په ضخامه اخته وي ښه نه تحمل کیږي. |

**۵- ۵ جدول : د زړه په احتقانی عدم کفایه اخته ناروغانوکې د درملو استعمال( ۵)**

| درمل | ابتدایی/ اعظمی( اندازه) | احتیاط |
|---|---|---|
| د ACE نهیه کونکي او angiotensin II receptor antagonists | **Captopril**<br>**۶،۲۵ ملی ګرامه ۳ ځلی/ ورځی**<br>**د ۲۵ تر ۵۰ ملی ګرامه ۳ ځلی/ ورځی**<br>**۶،۲۵ Enalapril**<br>**۲،۵ ملی ګرامه ۲ ځلی/ ورځی**<br>**د ۱۰ ملی ګرامه ۲ ځلی/ ورځی**<br>**Ramipril**<br>**۱،۲۵ تر ۲،۲۵ملی ګرامه / ورځی**<br>**د ۲،۵ تر ۵ ملی ګرامه / ورځی**<br>**Candesartan**<br>**۴ ملی ګرامه / ورځی**<br>**۳۲ملی ګرامه / ورځی**<br>**Valsartan**<br>**۸۰ ملی ګرامه / ورځی**<br>**۳۲۰ ملی ګرامه / ورځی**<br>**Losartan**<br>**۵۰ملی ګرامه / ورځی**<br>**۱۰۰ملی ګرامه / ورځی** | فشار تر ۹۰ ملی متر سیماب کم وی، مه یې ورکوی.<br>په COPDاخته ناروغانو کې باید احتیاط وسی او په حاده عدم کفایه کې تر څو چې ناروغ ستیبل کیږي، مه یې ورکوي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| د Beta-blockers درملونه | **Bisoprolol**<br>۱،۲۵ ملی ګرامه / ورځی<br>۱۰ ملی ګرامه / ورځی<br>**Carvedilol**<br>۳،۱۲۵ ملی ګرامه / ورځی<br>۵۰ ملی ګرامه / ورځی<br>**Nebivolol**<br>۱،۲۵ ملی ګرامه / ورځی<br>۱۰ ملی ګرامه / ورځی | |
| مدررات یا Diuretics | **Furosemide**<br>۲۰ تر ۴۰ ملی ګرامه / ورځی<br>۲۵۰ تر ۵۰۰ ملی ګرامه / ورځی<br>**Bumetanide**<br>۰،۵تر ۱ ملی ګرامه / ورځی<br>۵تر۱۰ ملی ګرامه / ورځی<br>**Bendroflumethiazide**<br>۲،۵ملی ګرامه / ورځی<br>۱۰ ملی ګرامه / ورځی<br>**Metolazone**<br>۲،۵ملی ګرامه / ورځی<br>۱۰ ملی ګرامه / ورځی<br>شدیده عدم کفایه | په ناروغ کې باید د پښتورګو دندې وڅارل سی، او هیپوکلیمیا او هیپو مګنیزیمیا و پلټل سی |
| د Aldosteroneضد درمل | **Spironolactone**<br>د ۱،۵ تر ۲۵ ملی ګرامه / ورځی<br>د ۵۰ تر ۲۰۰ ملی ګرامه / ورځی<br>که ناروغ ACE نهیه کونکي درمل اخلی باید لږ ورکول سی<br>**Eplerenone**<br>۲۵ملی ګرامه / ورځی<br>۵۰ ملی ګرامه / ورځی | دندی وڅارل سی، او هیپرکلیمیا و پلټل سی او که ناروغ spironolactone اخلی باید gynaecomastia ته هم پام واړول سی |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| کله چې ناروغ امیو دارون درمل استعمالوی باید په احتیاط تطبیق سی | **Digoxin**<br>**د ۰،۱۲۵ تر۰،۲۵ملی ګرامه / ورځی**<br>**(په بوډاګانو او دپښتورګو په ناروغیوکي باید اندازه کمه سی)** | Cardiac glycosides |
| | **Isosorbide dinitrate**<br>**د ۲۰ تر۴۰ملی ګرامه ۳ ځلی/ ورځی**<br>**Hydralazine**<br>**د ۳۷،۵ تر۷۵ملی ګرامه ۳ ځلی / ورځی** | موسع الوعایي یا Vasodilators |

۳ – جراحی تداوی: دزړه پیوند ، داکلیلی شراینو بیرته خلاصول، اونور په برکی نیسی.

۴ – مقاومه عدم کفایه او حاده عدم کفایه ځانګړو درملنو ته اړتیالری.

**۵-٦ جدول: د Framingham معیارات د زړه د احتقانی عدم کفایی تشخیص ( ۹)**

**غټ معیارات Major criteria**

- د شپی لخوا شدیده سالنډی Paroxysmal Nocturnal dyspnea
- د غاړی د وریدونو توسع
- د سږو په قاعده کي د رالونو اورید ل
- د زړه غټوالی
- د سږو حاده اذیما
- د زړه د دریم آ واز شتون
- د وریدی فشار زیاتوالی ( تر ١٦ ملی متر سیاب)
- د Hepatojugularریفلکس شتون

**واړه معیارات Minor criteria**

- د بجلکو پاړسوب
- د شپی لخوا ټوخی

(c) ketabton.com: The Digital Library


- د فزیکي فعالیت پر وخت سا لنډي
- د ینی غټوالی
- د پلورا انصباب
- تکي کارډیا ( تر ۱۲۰ ځلی / دقیقه زیات)

**غټ یا واړه معیارات Major or Minor criteria**

- د د رملنی په جریان کي د وزن بایلل ( په ۵ ورځو کي تر ۴،۵ کیلو زیات)
- د تشخیص لپاره د یوی غټی او ۲ وړو معیارونو شتون اړین دی

## د زړه ترانسپلانټیشن Cardiac transplantation

د زړه په شدیده عدم کفایه اخته هغه ناروغان چي ژوند ته ا دامه نسی ورکولای، دزړه د ترانس پلانټ لپاره کاندید دی. د زړه د ترانسپلانټ هدف د ژوند اوږدیدل او هم د ژوند د کیفیت زیاتوالی دی. عمده معیارات یی د پر مختللی عدم کفایه شتون دی یعنی ناروغ NYHA III–IV حالت کي وی، چي باید په ناروغ کي یو شمیر واضح اعراض لکه د یوی میاشتی په درملنه باندی د ناروغ په حالت کي ښه والی را نسی، قلبی د هانه ډیره کمه وی او یا داچي د زړه معنده عدم کفایه شتون ولری او ناروغ د ژوندی پاتی کیدو لپاره په دوامداره توګه inotropes درمل استعمالوی، او یا داچي ناروغ cardiogenic شاک ولری ولی عدم کفایه برګشت کونکي وی او ناروغ و میخانیکي تهویه ته اړتیا ولری، یا داچي په چټکي سره د خرابیدونکي عدم کفایه شتون چي په متوسع الوعایی او مدرر درملو ځواب ورنکړی، نو ورته د زړه د ترانسپلانټیشن استطباب اینبودل کیږی. له دی کبله چي د زړه ورکونکي یا donor ډیر کم دی ځکه نو اکثر ناروغان د انتظار په مرحله کي مری او بل داچي د donor دانتخاب لپاره هم یو شمیر پیچلی معیارونه په پام کي نیول سویدی چي له مخی یی هر donor ورته کاندید کیدای نسی او زیات رد کیږی. د زړه د ترانسپلانټ لپاره معمولاً هغه ناروغان کاندید وی چي باید نور حیاتی غړی یی جوړ اوپه زیاته پیمانه د ترانسپلانټ څخه ګټه ترلاسه کړی. (۴)

په ۱۹۹۴ کال کي ۴۵۰۰ د زړه ترانسپلانټه تر سره ولی دdonors د کموالی له کبله یی اندازه کال په کال کي په کمیدو ده. د وفیاتو اندازه یی د ۱۰ تر ۲۰ سلنه اټکل سویده.

**۵- ۷ جدول : د زړه د ترانسپلا ټیشن لپاره معیارات(۴)**

- د زړه هغه عدم کفایه چي د ٦ تر ۱۲ میاشتو په موده کي انذار خراب او د طبی او جراحی درملنی په مقابل کي معند وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- په NYHA functional class III or IV حالت کې قرار ولری.
- عمر یی د ٦٠ او ٦٥ کلونو ترمنځ وی.
- د ریوی او عیو مقاومت یی زیات یا لوړ وی.
- باید ناروغ خپله قوی هڅونه ولری او هم روحی او ټولنیزه حمایه ولری.
- ناروغ باید په سرطان، فعاله انتان، فعاله پیپتیک قرحات، د ٦ میاشتوپه موده کې ریوی احتشأ ، د شکری د ناروغی هغه شکل چې انسولین ته اړتیا ولری، د زړه د شدیدی عدم کفایه له کبله د پښتورګو یا ینی پر مخ تللی ناروغی، د محیطی او عیو پرمختللی ناروغی، اود او عیو په کولاجنی ناروغیو اخته نه وی او هم الکهول زیات استعمال نکړی او اعتیاد ونلری.

**٥- ٨ جدول: د زړه د ترانسپلانټیشن استطبابات او مضاد استطبابات**

| | |
|---|---|
| **استطبابات** | |
| **کارډیوجنیک شاک چې و میخانیکي تقویي یا لوړ دوزinotropic درملو ته اړتیا ولری** | |
| **پر اعظمی درملنی برسیره د زړه د عدم کفایی د اعراضو شتون یا Stage D** | |
| **ژوند تهدیدونکي عود کونکي اریتمیاوی چې پر اعظمی مداخلی او defibrillator پر تطبیق برسیره هم دوام ومومی** | |
| **عود کونکي انجینونه چې پکي revascularization را منځته سوی نه وی** | |
| **مضاد استطبابات** | |
| | **متبا دله درملنه** |
| **عمر چي تر ٦٥ کلونوزیات وی** | **ناروغ ته باید دایمی mechanical support اماده سی** |
| **فعاله او نوی سرطانی ناروغی** | **ناروغ ته باید دایمی mechanical support اماده سی** |
| **د شکری ناروغی چي د حیاتی غړو شدیده عدم کفایه ورسره مل وی** | **ناروغ ته باید دایمی mechanical support اماده سی** |
| **د FEV/FVCتناسب تر ۴۰ سلنی کم**<br>**FEV = forced expiratory volume;**<br>**FVC = forced vital capacity** | **ناروغ ته باید heart-lung transplantation په پام کي وی** |
| **دBMI اندازه چي تر ۲۰ کمه او یا تر ۳۵ زیاته وی**<br>**BMI = body mass index** | **که BMI تر ۳۵ لوړ وی باید تغذیه مناسبه او هم دوزن کمښت او دایمی mechanical support په پام کي وی** |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | |
|---|---|
| د ريوی شراينو نه معاوضه کيدونکي لوړ فشار | ناروغ ته بايد heart-lung transplantation په پام کي وی |
| نوری ناروغی لکه سيروزس، وعايی آ فات، اعتياد، د ينی C التهاب، HIV اوټپولنيز ی او يا عقلی ناروغی. | په دی حالاتو کي بايد هغه ډله چي ترانسپلانټ تر سره کوی تصميم ونيسی |

## د زړه د ترانسپلانټيشن اختلاطات (۷)

- په الو گرفت کي و عايی آ فات
- د وينی لوړ فشار
- هيپر کوليسټروليميا
- سرطان

## د سږو د حادی اذيما درملنه

### ۱ - لمړنی تقويوی د رملنه

د CPE لمړنی تقويوی درملنه عبارت ده داکسيجن دتطبيق څخه ترخودشر يانی اکسيجن فشار تر۶۰ ملی متر سيماب لوړکړی. که هيپرکاپنی ورسره مل وی او يا هم په نورولاروسره اکسيجنيشن نه تامينيدی نوميخانيکی تنفس استطبا ب لری.

دناستی وضعيت ( Sitting position) ر يوی وظايف سموی. ناروغ ته دبسترمطلق استراحت اوددرد اواضطراب تسکين دزړه د کاربارورکموی.

### ۲- فارما کولوژيکه درملنه

- مورفين سلفات (Morphine Sulphate ) : اضطراب کموی اور يوی او سيستميکو وريدونوته توسع ورکوی ،مورفين دوريد دلاری د ۲ تر ۵ ملی گرامه دخودقيقو په موده کی ورکول کيږی او په هرو ۱۰ يا ۱۵ د قيقوکی ترخو چه تاثيرات يي منځته راځی تکرار يدای شی.

- فروس امايد ( Furosemide) : دوريدونو پراخونکی ماده ده چه که دوريدونودلاری ورکړل سی د دقيقو په موده کی مخکی له دی چه ديورتيك تاثير يي خرگند شی ريوی احتقان کموی . لمړنی دوز يي دوريد دلاری د ۲۰ تر ۸۰ ملی گرامه دی چه په خود قيقو کی بايدتطبيق شی او دناروغ دځواب سره سم يی اندازه زياته او اعظمی اندازه يی تر ۱۶۰ملی گرامه په خودوزونو سره ورکول کيږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نیتروگلیسیرین ( Nitroglycerine) : دوریدونوتوسع ورکونکی تاثیر لری اودفروس امايد تاثیرات هم زیاتوی. دور ید دلاری ورکړه يې دخولی او transdermal ترلاری ښه ده ، ځکه چه په سریع ډول تاثیرکوی.

- نیتروپروساید (Nitroprusside ) : دحادی CPEپه تداوی کی یوه موثره کمکی دواده ، په هغه CPEکی چه د دسامونو د حا د بیرته راگرځیدنی او یا د وینی د لوړ فشار له کبله منځته راغلی وی استعما لیږی. د نتروپروساید داندازی دمعلومولو په منظور دریوی اوسیستمیك شریانونو کتیتیریزیشن باید په پام کې وی.

- اینوتروپیك درمل (Inotropic agents): لکه دوبوتامین یا phosphodiesterase inhibitors د CPEد هغو ناروغانو په لمړنی تداوی کې چه په عین حال کی د وینی ټیټ فشار یا شوك لری گټور دی.

- نیز یر ي تاید (Nesiritide): دیوه IV bolus دوزپه ډول ورکول کیږی چه وروسته بیا د IV infusion په ډول سره تعقیب کیږی.دادزړه filling pressure د اوعیو دتوسع په وسیله کموی اوپه غیرمستقیم ډول د زړه د هانه زیاتوی.که دفروس امایدسره یوځای ورکړل شی Natriuresis او Diuresis منځته راوړی.

## د سږو د ناروغیو له کبله د زړه ناروغی

## PULMONARY HEART DISEASE

## (Cor pulmonale)

د کورپلمونال اصطلاح دراسته بطین هیپرتروپی اوپه ځینوختونوکی عدم کفایې ته استعمالیږی کوم چه دریوی ناروغی او موجودی هیپوکسیا یا دریوی اوعیو دناروغیو له کبله منځته راغلی وی. دهغه کلینیکی لوحه په لمړني اصلی ناروغی او پرزړه باندی دهغه دتاثیراتو دواړو پوری اړه لری .

حاد کورپلمونال دراسته زړه و strain یا overload ته ویل کیږی چه په ثانوی ډول د حاد ریوی لوړ فشار له کبله چه په ځانگړی ډول د کتلوی امبولیزم په وسیله منځته راغلی وی ، رامنځته کیږی.

مزمن کورپلمونال دراسته بطین په هیپر تروفی او توسع سره متصف دی چه په ثانوی توگه د ریوی لوړ فشار له کبله منځته راځی او دهغه سبب به دریوی نسج اویا دریوی اوعیوی سیستم ناروغی وی.

**اسباب**

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مزمن کورپلمونال عمده سبب COPD دی چه د مزمن برانشیت یا امفیزیما په نتیجه کی منځته راغلی وی ولی حاد کو ر پلمونا ل عمده سبب ریوی امبولی تشکیلوی.
معمول اسباب یي عبارت دی له ریوی فبروزس، پنوموکونیوزس، کیفوسکولیوزس، د ریوی دوران د فشار لوړوالی، دریوی امبولی ګانوکلینیکی او تحت کلینیکی متکررحملات ، شستوزومیازس، د Pickwickian سندروم او میتا ستا تیك سرطانونه.

## کلینیکی لوحه

**اعراض او علایم :** د معاوضوی کورپلمونال عمده اعراض مزمن ټوخی چي بلغم ورسره وی ، د جهد په وخت کی نفس تنګی ،ویزنګ ،ستړیا اوضعفیت تشکیلوی .کله چه ریوی ناروغی دراسته بطین عدم کفایه منځته راوړی پورته اعراض شدید کیږی ، او پاړسوب او د راسته لوړی ځلورمی دردونه هم ور اضافه کیږی .
د کورپلمونال علایم عبارت دی د سیانوزس ، Clubbing ،د غا ړی د وریدونو پاړسوب، د راسته بطین heave یا Gallop یا دواړه ،د شرصوفیه ناحیی نبضان ، غټ او سخت کبد اوپاړسوب.

## لابراتواری موندنی

د کورپلمونال په هغو ناروغانوکی چه په ثانوی ډول د COPD له کبله منځته راغلی وی په اکثره وختونوکی پولی سیتیمیا شتون لری. دشریانی وینی داکسیجن اشباع تر ۸۵ سلنه کمه ولی په شریانی وینه کي د کاربن ډای اکسایډ سویه Pco2 کیدای شی لوړه وی.

## الکتروکاردیوګرافی او دصدر رادیوګرافی

په ECG کی right axis deviation موجود او د P موجه جګه لیدل کیږی. په V6 کی د S موجه عمیقه وی.په ریوی امفیزیما اخته ناروغانوکي Right Axis Deviation موجوداو نوری موجی کښته ولټاژ لری. دراسته بطین ښکاره هیپرتروفی دابتدایی ریوی لوړ فشار د پیښو پرته ډیره کمه لیدل کیږی. په ECG کی دمیوکارد داحتشاء په ډول ښښی لیدل کیږی : د Q موجی په Lead II ، lead III او aVF کی دزړه دعمودی موقعیت له کبله موجودی وی، خو دمیوکارد دسفلی برخی د احتشأ په خیر پراخی او وسیع نه وی . Supra ventricularا رریتمیا ډیره وی خو وصفی نه ده.
د صدرپه رادیوګرافی کی دسږو د پرانشیم د ناروغیو شتون یا نه شتون معلومیږی او یوبارز یا غټ سوی راسته بطین او ریوی شریان لیدل کیدای شی.

## متممه معاینات

(c) ketabton.com: The Digital Library


د سږو وظیفوی تستونه په معمول ډول دسږو داصلی ناروغی دتثبیت په هکله کمك کوی، په ایکو کاردیوګرام کی به دچپه بطین نارمل جسامت او وظایف او دراسته بطین توسع موجوده وی ، د Perfusion lung scans په نادره توګه ارزښت لری ،خوکه منفی وی دریوی امبولی دردولو په هکله چه دکورپلمونال یو تصادفی سبب دی ، کمك کوی. دریوی امبولی دتشخیص لپاره ریوی انجیوګرافی یو ډیرغوره میتود دی خودامیتودپه هغو ناروغانوکی چه ریوی لوړ فشار لری دلوړو خطرونوسره مل وی.

## تفریقی تشخیص

د لاندی ناروغیو سره باید ترسره سی

- د سږو ترمبو امبولیکي ناروغی
- د سږو مزمنی بندشی ناروغی یا COPD
- د سږو د پرانشیم آ فات
- عصبی-عضلی آ فات چي د هایپوونټلیشن سبب کیږی لکه د لمفوسیتونو ضد سیروم
- د اوعیو کولاجن آ فات لکه SLE(Systemic Lupus Erythematosus) او CREST(Calcinosis cutis, Raynaud's Syndrome, Esophageal dysfunction, Sclerodactyly, teleangectasia
- د سږو د وریدونو آ فات
- د سږو ابتدایی لوړ فشار

## د رملنه

تر هرڅه لمړی د ناروغی علت باید معلوم او تداوی سی. اکسیجن ، دمالګی اواوبو محدودول ، او د یوریتیکونه دتداوی اصلی ټکی دی ، دیجیتالیس دراسته زړه په عدم کفایه کی ترهغو چه اذینی فبریلیشن نه وی موجود کوم خاص ځای نلری.

په لاندنیو ځوټکوکی د هغه ډول cor pulmonale دتداوی څخه چه د COPD په وسیله منځته راغلی وی یادونه کیږی

**۱- ا نتی بیو تیك :** د هوا يي طروقو بند ښت کموی ، حاد تنفسی ا نتان چه په اکثره و ختونوکی د راسته بطین دعدم کفا يي تشد یدونکی دی ، باید ژر او په درسته توګه سره تداوی شی.

**۲- اکسیجن:** داسترا حت او د جهد او خوب پرمها ل اسنا خی هیپوکسی با ید د ا سنا خی تهو يي دسمولو په وسیله سره ا صلاح شی، چه دا کار د هوا يي طروقو د بند ښت د رفع کولو او د شهیقی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوکسیجن دغلظت دمعقول ازدیا د په وسیله سره سرته رسیدای شی. په هغو ناروغا نوکی چه COPD لری داوږده مها ل لپاره داوکسیجن ورکول کمك کوی او در یوی شر یا نوفشار او در یوی اوعیو مقاومت ورکموی .

**۳- مؤسع القصبی د رمل :**( لکه Intravenous aminophylline ،oral Theophylline، اوبیتا ادرینرجیك اگونیست درمل لکه terbutaline او pirbuterol) .

**۴- مد ر رات:** د یور یتیکونه اذیما له منځه وړی. لوپ د یور یتیکو نه با ید په ډیرا حتیاط سره ا ستعما ل شی دا ځکه چه د میتا بو لیك ا لکا لوز یس سبب کیږی او هغه بیا تنفسی فعالیتونه مختل کوی.

**۵- ډ یجیتال:** کله چه درا سته بطین واضح عدم کفایه موجوده وی ډ یجیتا ل په ډیر ا حتیاط سره استعما ل شی او یوا زی هغه وخت چه د cor pulmonale سره مل د چپه بطین عدم کفایه موجوده وی استعما لیدای شی.

**٦- فلیبوټومی:** که هیما توکر یت د ۵۵ تر ٦٠ سلنه لوړ سی په لږ مقدار فلیبو تو می په نظرکی ولرل شی.

**۷- مؤسع الوعایی درمل :** د نیتر یك اوکسا ید ا نهیلیشن او دیرو ستا سیکلین ا نفیوژن د ر یوی لوړ فشار د کمو لو په منظور هغه مواد دی چه ترا رز یا بی او خیړنی لا ند ی دی.

**انذار**

معاوضه شوی کورپلمونال لکه اصلی ریوی ناروغی داسی انذارلری. کله چه د زړه داحتقانی عدم کفایي علایم منځته راغلل ، په منځنی کچه دژوند توقع د ۲- ۵ کلونو پوری ده .ولی که دناروغی سبب غیراختلاطی امفیزیما وی نوموړی ناروغان داوږده مهال لپاره ژوند ی پاتیدای شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ځپرکي لنډيز

د زړه عدم کفايه يومعمول کلينيکي سندروم دی او دا اصطلاح هغه وخت په کار وړل کيږی چي و انساجوته په کافی اندازه اکسيجن ونه رسيږی، چي عمده علت يی د زړه د پمپ کولو د قوی کموالی او په نادره توګه د زړه نه بهر نوری ناروغی تشکيلوی.

نوموړی سندروم په سالنډی،د تمريناتو په محدوديت او دمالګو اواوبو په احتباس، چي پاړسوب را منځته کوی، وصفی کيږی. د زړه عدم کفايه د زړه د زياتو ناروغيو له کبله منځته راتلای سی عمده يی د ميوکارډ او دزړه د والونو ناروغی ويلای سو. په دی سندروم کي د چپه بطين د عضلی تخريب معمولاً د وينی د لوړ فشاراو يا د اکليلی شراينو د ناروغيو ( د زړه حاده احتشأ) او يا دواړوله کبله را منځته کيږی،چي په پايله کي کيدای سی نوموړی ناروغی د چپه بطين د سيستوليکو دندو او يا ډياستوليکو دندو د خرابوالی سبب سی.

په دی ځپرکي کي د ناروغی د تشخيص په منظور د بيلو معايناتو يادونه سويده او اصلی هدف يی دادی تر څو دزړه اصلی ناروغی چي د زړه د عدم کفايی سبب سويده په ګوته او هم د ناروغی شدت،او يا ورسره مل نورحالات که شتون ولری ترلاسه سی. د دی معايناتو له رويه د ناروغی د درملنی په اړوند تصميم نيول کيدای سی. د دی معايناتو د جملی څخه د زړه د ۱۲ ليډونو ګراف، ډوپلرايکوکارډيوګرام، د وينی روتين او بيوشيميکي معاينات اړين شميرل کيږی. له دی کبله چي د ناروغی پتو فزيالوژی بياهم ښه نه ده پيژندل سوی، ولی مؤثره او پرځای د رملنه کولای سی چي په لنډ وخت کي نوموړی پتوفزيالوژيک بدلونونه مهارکړی تر څو ناروغ د کيفيت څخه ډک ژوندانه ته دوام ورکړای سی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د څپرکي اړونده پوښتنې

**۱- صحیح جمله په ص او غلطه جمله په غ سره په نښه کړی.**

**۱-۱ : د زړه د شدیدی عدم کفایی اعراض عبارت دی له :**

الف: سټریا .

ب: د وزن کموالی.

ج: د اپی ګستریک نا حیی درد.

د: د شپی لخوا د اد رار زیاتوالی.

**۱-۲ : د زړه د هغه عدم کفایی چي د سږو اذ یما ورسره مل وی په درملنه کي :**

الف: د مورفین تطبیق د angor animi او سالنډی د کموالی سبب کیږی .

ب: د ورید دلاری د فروز امیډ تطبیق پری لوډ او افټر لوډ دواړه کموی .

ج: که د وینی سیستولیک فشار تر ۱۴۰ ملی متر سیماب کم وی باید نایتریت ورنکول سی.

د: د ACE نهیه کونکي درمل پری لوډ زیات او افټر لوډ کموی.

**۱-۳ : د زړه د عدم کفایی پیژندل سوی اختلاطات عبارت دی له :**

الف: ها یپو نتریمیا .

ب: کمخونی .

ج: د ینی د دندو د ټستونو کموالی.

د: نا څاپی مړینه.

**۱-۴ : د زړه په مزمنه دوطرفه عدم کفایی کي :**

الف: د انجیوتنسین ۲ تطبیق د پښتورګو څخه د مالګو او اوبو په کنټرول کي ونډه اخلی .

ب: د انتی ډ یوریټیک هورمون زیاتوالی د اذیماً غټ لامل ګڼل کیږی .

ج: د اذین څخه نتری یوریتیک پیپتیدونه آ زادیږی.

د: ها یپو نتریمیا اکثراً د ټول بدن د سوډیم پر کموالی دلالت کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۱-۵ : د زړه د مزمنی عدم کفایی په درملنه کي :**

الف: د وینی علقه کیدل خراب ځکه نو ترمبوامبولیک خطر زیاتیږی .

ب: هغه درمل چي بطینی اریتمیا اراموی، انذار هم ښه کوی .

ج: ډیجوکسین یوازی هغه وخت مؤ ثره دی چي اذینی فبریلیشن شتون ولری.

د: د ACE نهیه کونکي درملو په وسیله درملنه په روغتون کي د بستر پاتی کیدو وخت کموی.

**۱-٦ : د زړه د مزمنی عدم کفایی په درملنه کي :**

الف: د وینی علقه کیدل خراب ځکه نو ترمبوامبولیک خطر زیاتیږی .

ب: هغه درمل چي بطینی اریتمیا اراموی، انذار هم ښه کوی .

ج: ډیجوکسین یوازی هغه وخت مؤ ثره دی چي اذینی فبریلیشن شتون ولری.

د: د ACE نهیه کونکي درملو په وسیله درملنه په روغتون کي د بستر پاتی کیدو وخت کموی.

**۱-۷ : د زړه د مزمنی عدم کفایی په درملنه کي :**

الف: د وینی علقه کیدل خراب ځکه نو ترمبوامبولیک خطر زیاتیږی .

ب: هغه درمل چي بطینی اریتمیا اراموی، انذار هم ښه کوی .

ج: ډیجوکسین یوازی هغه وخت مؤ ثره دی چي اذینی فبریلیشن شتون ولری.

د: د ACE نهیه کونکي درملو په وسیله درملنه په روغتون کي د بستر پاتی کیدو وخت کموی.

**۱-۸ : د زړه د مزمنی عدم کفایی په درملنه کي :**

الف: د وینی علقه کیدل خراب ځکه نو ترمبوامبولیک خطر زیاتیږی .

ب: هغه درمل چي بطینی اریتمیا اراموی، انذار هم ښه کوی .

ج: ډیجوکسین یوازی هغه وخت مؤ ثره دی چي اذینی فبریلیشن شتون ولری.

د: د ACE نهیه کونکي درملو په وسیله درملنه په روغتون کي د بستر پاتی کیدو وخت کموی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۱- ۹ : د زړه د مزمنی عدم کفایی په درملنه کې :**

الف: د وینی علقه کیدل خراب ځکه نو ترمبوامبولیک خطر زیاتیږی .

ب: هغه درمل چې بطینی اررېتميا اراموی، انذار هم ښه کوی .

ج: ډيجوکسين یوازی هغه وخت مؤ ثره دی چې اذینی فبریلیشن شتون ولری.

د: د ACE نهیه کونکي درملو په وسیله درملنه په روغتون کې د بستر پاتی کیدو وخت کموی.

**۱- ۱۰ : د زړه د مزمنی عدم کفایی په درملنه کې :**

الف: د وینی علقه کیدل خراب ځکه نو ترمبوامبولیک خطر زیاتیږی .

ب: هغه درمل چې بطینی اررېتميا اراموی، انذار هم ښه کوی .

ج: ډيجوکسين یوازی هغه وخت مؤ ثره دی چې اذینی فبریلیشن شتون ولری.

د: د ACE نهیه کونکي درملو په وسیله درملنه په روغتون کې د بستر پاتی کیدو وخت کموی.

**۲ سوال: د سږو د حادی قلبی اذیما قلبی لاملونه ولیکې ؟**

**۳ سوال - د CHF په درملنه کې لاندې درمل ورکولای شو:**

الف: نایتریت ب: دیورتیک

ج: ACE نهی کوونکي د: ټول صحیح دي.

**۴ سوال- د زړه دعدم کفایي ډيرې پيښې د لاندی لامل له امله منځ ته راځی تر ټولو غوره يې په نښه کړی**

الف- د زړه اسکیمیکې ناروغی ب- د دسامونو عدم کفایه

ج- کمخونی د- پورتنی ټول صحیح دی

**۵ سوال : د کیڼ زړه په عدم کفایه کې لاندې پيښې رامنځ ته کيږی غلطه جمله په نښه کړی؟**

الف- د کیڼ بطین دهانه کمیږی ب- په ریوی وریدونو کې فشار پورته کيږی

ج-د کیڼ ازین د فشار تدریجی لوړوالی دسږو د ازیما مخنیوی کوی

د- د سږو د رګونو تنګوالی د اذیما لامل کيږی

(c) ketabton.com: The Digital Library


**٦ سوال: د ١٠٠٪ اکسجن تطبیق د کورپلمونل په درملنه کې لاندی اغیزلری:**

الف: د سږو هایپوکسیک وعایي تقبض کموی   ب : د سږو هایپوکسیک وعایي تقبض زیاتوي   ج: پورتنی دواړه صحیح دی   د: پورتنی دواړه غلط دی

**٧ سوال : د سږو هغه وعایي ناروغی ولیکي چي د کورپلمونل سبب کیږی ولیکې**

**٨ سوال: د کیڼ زړه په عدم کفایه کي لاندې پیښې رامنځ ته کیږی غلط جمله په نښه کړی؟**

الف- د کیڼ بطین دهانه کمیږی   ب- په ریوی وریدونو کې فشار پورته کیږی   ج-د کیڼ ازین د فشار تدریجی لوړوالی دسږو د ازیما مخنیوی

د- د سږو د رګونو تنګوالی د اذیما لامل کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږم څپرکی
## د زړه دعضلی آفات اوالتهاب

| |
|---|
| **د زړه دعضلی آ فات**<br>**د زړه دعضلی التهاب** |

**د څپرکي مقد مه**

کارډیو میو پاتی د زړه د عضلی هغوناروغیو ته ویل کیږی چي د زړه د دندو د خرابوالی سره مل وی. نړیوال روغتیایی سازمان او د زړه د ناروغیو نړیوالی ټولنی د کارډیو میوپاتی ۵ ډوله تعریف کړیدی، چي عبارت دی له، ډایلیټډ، هایپرټروفیک، ریسټرکټیو، ا رریتموجنیک او هغه شکل چي په هیڅ کلاس پوری نه وی تړلی.

د specific cardiomyopathy اصطلاح هغه وخت کارول کیږی چي نوموړی ناروغی د یو ډول ځانګړو او سیستمیکو ناروغیو سره مل وی. د کاردیو میوپاتی لمړی ډول یا متوسعه کارډیو میوپاتی Dilated cardiomyopathy چي پیکښي د چپه بطین غټوالی او د تقلصی توان کموالی شتون لری،کیدای سی چي راسته بطین هم مصاب کړی. نوموړی شکل د کارډیو میوپاتی معمول شکل دی چي تر ۹۰ سلنه زیاتی پیښی تشکیلوی، او معمولاً د زړه په عدم کفایه سره پیلیږی، ولی په ۵۰ سلنه پیښوکي کیدای سی پرته له اعراضو سیر وکړی او یا تشخیص نسی.

که طبی لیټراتور ته ځیر سو نو لیدل کیږی چي په ۱۸ میلادی سلنه کي واضح سویده چي د زړه د عضلی ناروغی کیدای سی د بغوټ یا mumps وروسته را منځته سی. همداراز په ۱۹۲۹ میلادی کي د انفلوینزا په ناروغانو او په ۱۹۲۰ کي د میوکارډ التهاب د انټیرو ویروسونوپه ځانګړی ډول د پولیو

(c) ketabton.com: The Digital Library


میا لیټس د ویروس سره مل و موندل سول. د میوکارډ التهاب د میوکارډ التهابی آ فاتوته ویل کیږی، چي کیدای سی د Dilated cardiomyopathy سبب سی. د میوکارډ التهاب کیدای سی چي د یوزیات شمیر انتاناتو ( بکتریاوو،پرازیتونو،فنګسونو) ،د درملو د عکس العمل او اوتوامیون ناروغیو له کبله را منځته سی.(۱۱)

## د زړه دعضلی آفات

## Cardiomyopathies

**تعریف**

و یو ګروپ هغو ناروغیو ته چي په ابتدایی ډول د زړه عضله مصابوی، ولی ولادی، د زړه د والونو، د وینی د لوړ فشار، د اکلیلی شراینو او پریکارډ پوری تړاو نلری،ویل کیږی. د بیلګی په توګه د میوکارډ منتشر فبروز، چي د میوکارډ زیاد سکار هم ورسره مل وی او د میوکارډ د احتشأ له سببه را منځته شویوی او دچپه بطین دندی یی زیانمنی کړیوی د ischemic cardiomyopathy په نوم یا دیږی. له دی کبله نو فعلاً د cardiomyopathy کلمه یوازی د استعمال وړ نه ده او معمولاً د هغه ابتدایی آفت چي د cardiomyopathy سبب شویوی نوم هم ور سره علاوه کیږی. (۱)
نوموړی اصطلاح په لمړی ځل په ۱۹۳۷ میلا دی کال د Sobernheim لخوا وکارول سول. باید په پام کي وی چي د میوکارډ ا التهاب اصطلاح یوازی د میوکارډ پر حاد التهاب دلالت نکوی او ټول هغه ناروغی چي حتی مزمن سیر هم ولری په برکس نیسی. په ۱۹۹۵ کال د WHO/ISFC کاری کمیټی لخوا یوه نوی اصطلاح د DCM په تصنیف کي علاوه سول چي د التهابی کارډ یومیوپاتی یا inflammatory cardiomyopathy' (DCMi) په نوم و یادول سول چي هدف یی د میوکارډ التهاب د زړه د نورو آ فاتو سره شتون په ګوته کوی.(۴)

**تصنیف (۱)**

**الف : سببی تصنیف**

### ۱- د میو کارډ ابتدایی مصا بید ل

ایډیو پاتیک

فامیلی

د انډو میوکارډ ایوزینوفیلیکي ناروغی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انډو میوکارډ فبروزس

۲- په ثانوی ډول د میو کارډ مصابیدل

- **انتانی**

د میوکارډ ویروسی التهاب

د میوکارډ بکتریایی التهاب

د میوکارډ فنگسی التهاب

د میوکارډ پروتوزوایی یا پرازیتی التهاب

د میوکارډ میتوزوایی التهاب

د میوکارډ سپیروکیتل التهاب

د میوکارډ ریکتسیل التهاب

- **میتابولیک**
  - فامیلی ذخیروی ناروغی
  - د گلایکوجن ذخیروی ناروغی
  - موکوپولی سکرایدوزس
  - هیموکروماتوزس
  - د Fabry's ناروغی
- **د کمبنت ناروغی**
  - د الکترولینو کمبنت
  - تغذیوی کمبنت
- **د منظم نسج آ فات**
  - Systemic lupus erythematosus
  - Polyarteritis nodosa
  - Rheumatoid arthritis
  - Progressive systemic sclerosis
  - Dermatomyositis
- **ارتشاحات او گرانولوماوی**
  - امیلوئیدوزس

(c) ketabton.com: The Digital Library


- سارکوئیدوزس
- سرطانونه

- **عصبی-عضلی آ فات**
  - عضلی ډستروفی
  - میوټونیک ډستروفی
  - Friedreich's ataxia
- **حساسیتی او توکسیک عکس لعملونه**
  - الکهول
  - تشعشعات
  - درملونه
- **تر ولادت وروسته د زړه ناروغی**

**ب: کلینیکي تصنیف**

**۱- توسعی یا احتقانی کا رډ یو میو پاتی Dilated(Congestive) Cardiomyopathy :** دچپه او راسته بطین غټوالی،د سیستولیکو دندو کمښت،د زړه احتقانی عدم کفایه، اریتمیا او امبولی.

**۲- رسټرکټیو کارډیو میو پاتی Restrictive ( Obliterative) Cardiomyopathy :** د انډو میوکارډ سکار او یا د میوکارډ ارتشاح چي د چپه او یا راسته بطین د ډکیدلو دندی یی مختلی کړیوی.


**۳- ضخا موی کارډیو میوپاتی Hypertrophic Cardiomyopathy :** د چپه بطین غیر متناظره ضخامه،چي د جدار په پرتله سپټم زیات مصابوی، او کیدای شی چي د داخل بطینی سیستولیک فشار بدلون، پرته له دی چي د چپه بطین جوف توسع موندلی وی، ورسره مل وی.(۱)

**۱- توسعی یا احتقانی کا رډ یو میو پاتی Dilated(Congestive) Cardiomyopathy**

د ناروغی شیوع ۱ په ۲۵۰۰ پيښنوکي ښودل سویده او اوصاف یی د بطیناتو توسع او د سیستولیکو دندو خرابوالی دی، حال داچي د جدار ضخامه شتون نلری. (۵)

مهم ډ ول یی فامیلی شکل یا Familial DCM دی چي په ښکاره ډول د اوتوزومل ډومینانټ بدلون موجود او کیدای سی په ناروغ کي تر ۲۰ زیات غیر نورمال loci او جینونه شتون ولری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦- ١ شکل ( فامیلی پیراډایم )[٥]

بل یې سپوراډیک ډ ول یا Sporadic DCM دی چې د یوشمیر زیاتو حالاتو څخه را منځته کیدای سی، چي په لاندی ډول ورڅخه یادونه کیږی. (٥)

- **د میوکارډ التهاب:** د Coxsackie،adenoviruses، erythroviruses، HIV، ویروسونه، بکتریاوی، فنګسونه، مایکو بکتریاوی او پرازیتونه ( د Chagasناروغی) یی سبب کیدای سی.
- **زهریات یا توکسینونه:** الکهول، شیموتیراپی او فلزات لکه کوبالټ، سرب، سیماب او ارسینیک).
- اوتو امیون اسباب
- انډوکرینی اسباب
- عصبی-عضلی اسباب[٥]

## اعراض او علایم

ناروغی کیدای سی د زړه د عدم کفایي، د زړه د اررېتمیاوو، ترمبو امبولیزم یا ناڅاپي مړینی په ډول تظاهر وکړي. ولی د نیکه مرغه د هغه ناروغانو چي اعراض او علایم نلری د نږدی دوستانو معاینات، مخکي تر دی چي ناروغی پورته اختلاطات ورکړی، په مخ په زیاتیدونکي ډول تشخیصیږی. د ناروغی په کلینیکي څیړنو کي هیڅ وخت باید کورنی تاریخچه د یاده ونه ایستل سی. (٥)

## لا براتواری معاینات

د صدر راډیو ګرافي یا Chest X-Ray: زړه په عمومی ډ ول غټ معلومیږی.

د زړه ګراف یا ECG کي کیدای سی منتشر او غیر وصفی د ST سګمنټ او د T موجی بدلونونه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وليدل سی. ساينوس تکي کارډيا او اريتمياوی لکه اذينی فبريليشن،بطينی پريماچور تقلصات، يا بطينی تکي کارډيا هم کيدای سی وليدل سی.

د Echocardiogram معاينه  کيدای سی د چپه او يا راسته بطين توسع او د تقلصی دندو کموالی وښئی.

د  Cardiac MR معاينه کولای سی د چپه بطين د دندو د خرابوالی نور اسباب لکه د زړه د پخوانی احتشأ شتون، په ګوته يا د ميوکارډ غير نورمال فبروز ښکاره کړی. نوموړی معاينه د ميوکارډ د ترمبوز د معلومولولپاره هم ګټوره ده.

د ا کليلی شراينو انجيوګرافی ، د اکليلی شرائنو د ناروغيو د معلومولو په منظور ، بايد په ټولو هغو کسانوکي چي د خطر سره مخ دی،په ځانګړی توګه ټول هغه کسان چي عمر يی تر ۴۰ کلونو زيات او يا کم وی  او اعراض يا د خطر عامل ولری، بايد ورته ترسره سی.

بيوپسی معمولاً استطباب نلری، که تر سره کيږی بياهم بايد متخصص شتون ولری. (۵)

**د رملنه**

د درملنی اساس د زړه د عدم کفايی درملنه تشکيلوی. هغه ناروغان چي د نيو يارک د زړه د ټولنی د تصنيف په دريمه يا څلورمه درجه کي وی بايد ورته  cardiac resynchronization درملنه او ICDsهم تر سره سی. د دی ناروغانولپاره ښه ترينه د رملنه د زړه پيوند تشکيلوی. (۵)

**۲- رسټرکټيو کارډ يو ميو پاتی Restrictive ( Obliterative) Cardiomyopathy (RCMs)**

د RCM ناروغی عمده خاصيت د ډياستوليکو دندو غير نورمال والی دی، ځکه په دی ناروغی کي د بطيناتو جدارونه په زياته پيمانه شخوالی لری چي همدا شخوالی د بطيناتو د ډکيدو د کموالی سبب کيږی. په وروستيو مرحلوکي سيستوليکي دندی هم خرابيږی. د ميوکارډ فبروز،هايپرتروفی يا ارتشاح ، د هره سببه چي وی، ناروغی منځته راوړی.

د ثانوی  RCMعمده علت د اميلو ئيدوزس ناروغی ده چي ميوکارډ هم مصابوی،ولی کيدای شی چي restriction په پيوند شوی زړه، هيموکروماتوزس، د ګلايکوجن تراکم، د اندوميوکارډ فبروز، سارکوئيدوزس، هايپر ايزينوفيليکو ناروغيو، سکليرو درما، د منصف تر شعاع او يا سرطانی ارتشاحاتو وروسته او يا داچي د ميوکارډ ارتشاح د هره سببه چي وی، را منځته سی.

په زياتو دغو حالاتو کي،په ځانګړی توګه هغه چي ميوکارډ مصابوی، د ميوکارډ فبروز او ترمبوز دی چي د بطيناتو د ډکيدو دغير نورمال مقاومت د زياتيدو سبب کيږی. ځکه نو په دی ناروغانوکي ترمبو امبوليک اختلاطاط زيات ليدل کيږی. (۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اعراض او علایم:** د بطيناتو د ډ کيدو ناتوانی د دی سبب کيږی ترڅو قلبی د هانه کمه او د ډ کيدو فشار لوړ ولاړسی، فلهذا،نو د تمريناتو غير تحمل او سالنډی يی متبارز عرض تشکيلوی. د د وامداره سيستميک وريدی فشارد لوړ والی له کبله په دی ناروغانوکي معمولاً ارتباطی پاړسوب،حبن،او غټه، حساسه او نبض لرونکي ينه شتون لری.

د غاړی وداجی وريدونه پړسيدلی او داخلی فشار يی لوړ او نورمال حالت ته نه کښته کيږی اوحتی د شهيق په وخت هم زيات وی چي ورته Kussmaul's علامه ويل کيږی. (۱)

د زړه آ وازونه خف او د يوی فاصلی څخه اوريدل کيږی، او دريم او څلورم آ واز معمولاً اوريدل کيږی. د زړه د زروی ضربان په اسانی سره جس او د ميترال دسام عدم کفايه شتون لری.

**لابراتواری معاينات**: په هغه ناروغانوکي چي د CM په ارتشاحی ډ ول اخته وی،پهECG کي اکثراً موجی کښته ولټيج لری، او د ST سګمنټ او T موجی غير وصفی بدلونونه او بيلی اريتمياوی کيدای شی را منځته شی.

په x-ray کي د پريکارډ کلسيفيکيشن ، چي پهconstrictive pericarditis کي شتون لری، د لته نه ليدل کيږی.

په ايکوکارډيوګرافی،CT او CMRI کي د بطيناتو د جدارونو ضخامت ښکاره ولی د بطيناتو حجم لږ کم او سيستوليک فعاليت نورمال وی، اذينات اکثراً متوسع وی. په Dopplerايکو کارډيو ګرافی کي ډياستوليکي دنده غيری نورماله وی.

د زړه په کتيترايزيشن کي د زړه دهانه کمه، د راسته او چپه بطين دواړو ډياستوليک فشار لوړترلاسه کيږی. د RCM او constrictive pericarditis ترمنځ توپير اړين دی، ځکه دوهم ډول په جراحی باندی جوړيږی. (۱)

**د رملنه:** د رملنه اکثراً نا اميده کونکي وی،يوازی د هيموکروماتوزس او Fabry's ناروغی په صورت کي درملنه نتيجه ورکوی. د دی لپاره چي د امبولی د تشکل خطر کم کړو نو د دوامداره انتی کواګولانت درملنی ته اړتيا ليدل کيږی. (۱)

### ۳- ضخا موی يا هايپر ټروفيک کارډيو ميوپاتی Hypertrophic cardiomyopathy (HCM)

هايپر تروفيک کارډيو ميو پاتی HCM د چپه بطين پر هايپر تروفی باندی دلالت کوی، په داسی حال کي چي جوف متوسع نه وی، او هم يی عمده سبب لکه د وينی لوړ فشار يا د ابهر تنګوالی شتون ونلری.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ناروغي د عمومي نفوس ۵۰۰/۱ مصابوي. د دې ناروغۍ دوه عمده ډولونه زيات ليدل کيږي، چې يوه يې د چپه بطين غير متناظره هايپر تروفي ده، چې اکثراً د بين البطيني پردې هايپرتروفي هم ورسره مل وي او دوهم يې ډيناميک ډول دی، چې د ابهر د فوهې او شا وخوا ساحې د تنګوالي سبب کيږي.

په دې ناروغۍ کې عمده پتوفيزيولوژيک آفت د ډياستوليکو دندو خرابوالی دی،چې د Doppler په معاينه کې په واضح ډ ول په ګوته او معمولاً د چپه بطين د end-diastolic فشار د لوړ والي سبب کيږي. د ا ډول هايپر تروفي د هغه ډول هايپرتروفي څخه چې د وينې د لوړ فشار يا د ابهر د تنګوالي په سبب منځته راځي، توپير لري، ځکه په دې ډ ول کې هايپر تروفي غير منظمه او اکثراً د چپه بطين بيلې بيلې برخې په ځانګړې توګه بين البطيني سپتم مصابوي. په يوشمير ناروغانوکي کيدای شي دا هايپر تروفي متناظره ، حال داچې په يوشمير نوروکي کيدای شي د بطين د جوف د متوسطې برخې د تنګوالي او يا د زړه د زروی او جدارونو د غير متناظرې هايپرتروفي سبب و ګرځي. د چپه بطين په هايپر تروفيکه برخه کې د ميوکارډ فبروز او هم د کوچنيو اکليلي شراينو د ضخيموالي سبب کيږي. (۱)

## جنيتيکي پاملرنې

په HCM اخته تقريباً نيمو ناروغانوکې د **autosomal dominant transmission** مثبته فاميلي تاريخچه شتون لري. په دې ناروغانوکې د ۱۱ بيلو جينونو چې د سارکوميريک پروتينو په ذريعه نښانې شويوي تر ۴۰۰ زيات موټيشنونه پيژندل شويدي، چې تقريباً تر ٦٠ سلنه زياتې پيښې تشکيلوي،چې

ډير عمده موټيشن يې پر ۱۴ کروموزوم باندې د **-myosin heavy chain gene** **cardiac** شتون دی. يوشمير نور موټيشنونه کيدای شي **myosin heavy chains** ، **cardiac troponins C, I,** ،او**T** ، **actin; myosin light chains**، **cardiac myosin-binding protein C** او**titin** مصاب کړي.

پورته ذکر شوي موټيشنونه خراب انذار لري. د **HCM** زياتې سپوراډيکې پيښې د بنفسه موټيشنو په ذريعه را منځته کيږي.

د **Echocardiographic** مطالعاتوثابته کړيده چې تر ۲۰ کلنۍ پورې، د هغو ناروغانو نيمايي برخه چې لمړۍ درجه قرابت سره لري د ناروغۍ پيښې پيکښې تظاهر کوي. بايد يادونه وکړو چې د دې ناروغانو په زياتو قريبانو کې د هايپرتروفي وسعت خفيف، اواعراض ډير متبارز نه وي.

له دې کبله چې د هايپرتروفي اوصاف د ماشوم توب په دوران کې ښکاره نه وي،ځکه نو د يوځل نورمال ايکو کارډيو ګرام ښودل د ناروغۍ پرنه شتون دلالت نکوي. ځکه نوبايد د ۱۲ کلنۍ څخه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰ کلنی پوری هر یو یا دوه کاله وروسته ایکو کارډیوګرافی ترسره شی، تر هغو چي د جنتیکو معایناتو په ذریعه د ناروغی تشخیص رد او یا وضع شوی نوی. (۱)

**جنتیکي معاینات:** که څه هم دا معاینات په روتین ډ ول نه ترسره کیږی، ولی د دی معایناتو په ذریعه د HCM جنتیکي سبب او د هغه جین موتیشن چي د سارکومیریک پرتینو په ذ ریعه نښانی شویوی، په ګوته شی. د دی معاینی په ذریعه د کورنی هغه غړی چي د HCM د زیات خطر سره مخ دی اومنظمو ایکو کارډیو ګرافی معایناتوته اړتیا لری، پیژندل کیږی. د دی معایناتو په ذریعه کولای شو د کورنی هغه غړی چي د ناروغی د خطر سره مخ نه دی هم په ګوته کړو. (۱)

**اعراض او علایم:** د دی ناروغی اعراض او علایم د یو ناروغ څخه بل ته زیات توپیر لری،زیات شمیر ناروغان اعراض نلری او خفیف اعراض لری، ولی کیدای شی چي په نزدی دوستانوکي ښکاره ناروغی شتون ولری. د بده مرغه، د ناروغی لمړی علامه کیدای شی د زړه نا څاپی دریدنه او مړینه SCD وی، چي په زیاتو ماشومانو اوځوانانوکي تر فزیکي فعالیت وروسته منځته راځی. همداراز په زیاتو سپورټ مینانوکي د SCD عمده علت هم HCM تشکیلوی، چي اکثراً د مسابقی پر وخت ورته پیداکیږی.

په اعراض لرونکو ناروغانوکي عمده عرض سالنډی تشکیلوی. ولی کیدای شی په ناروغ کي سنکوپ، صدري دردونو او سترېیا هم را منځته شی. (۱)

**فزیکي معاینات:** په زیاتو ناروغانوکي د زروی ضربان دوه یا دری ځلی جس او د زړه څلورم آ واز هم اوریدل کیدای شی. د ناروغی په ډینامیک ډ ول کي د نبض غیر نورمال بدلون هم جس کیدای شی. د obstructive HCMعمده عرض د سیستولیک مرمر شتون تشکیلوی،چي زیات خشن،ډ یاموند ډوله اودزړه تر لمړی آ واز سمدستی وروسته پیلیږی،چي د سترنوم په کښتنی چپه څنډه او زروه کي ښه اوریدل کیږی او یو holosystolic مرمردی چي د میترال د عدم کفایه د مرمرسره یوشانته والی لری. (۱)

**هیمو ډینامیک بدلونونه:** دری عمده میخانکیتونه د دی بدلونو د منځته راتلو سبب کیږی:

۱- د چپه بطین د تقبض زیاتوالی

۲- د بطیناتو د preload کموالی

۳- د ابهر شریان د afterload کموالی

(c) ketabton.com: The Digital Library


**لابراتواري معاينات:** په ECG کي د چپه بطين هايپرتروفي او د Q عميقه او پراخه موجه ليدل کيږي. که څه هم وروستی بدلون د زړه د زړی احتشأ نمايندګی کوی، ولی دلته معمولاً د بين البطينی جدار پر شديده هايپرتروفی دلالت کوی. په اکثره ناروغانوکي دواړه ،اذينی او بطينی ،اررېتميا ليدل کيږي.
د صدر راډيوګرافی اکثر نورماله، ولی په يوشمير پيښوکي کيدای شی زړه غټ معلوم شی.
د HCM د تشخيص عمده معاينه echocardiogram ده، چي د چپه بطين هايپرتروفی ښکاره،په ځانګړی توګه په بين البطينی جدارکي چي د نورو جدارونو په پرتله يی ضخامت ۱،۳ ځلی زيات شويوی. بين البطينی جدار کيدای شی چي د محدبی هنداری شکل غوره کړيوی،چي دا معمولاً د ميوکارډ د فبروز له کبله منځته راځی. په يو شمير ناروغانوکي د ميترال دسام عدم کفايه شتون لری. په HCM کي د چپه بطين جوف کوچنی، ولی د خلفی جدار حرکات يی د بين البطينی جدار په پرتله زيات وی.
د زړه MRI د ايکو کارډيو ګرافی په پرتله ښه او د موضعی هايپرتروفی او حتی فبروزس د موقعيت اړوند درست معلومات په ګوته کوی. (۱)
**درملنه:** له دی کبله چيSCD اکثراً د فزيکي فعاليت په دوران او يا تر فزيکي فعاليت وروسته منځته راځی،نو ناروغ بايد مسابقی او قوی فزيکي فعاليتونه proscribed کړی. د ډيهيډريشن مخه بايد ونيول شی، او ډيورتيک بايد په ډير احتياط وکارول شی.
په ۱ / ۳ يا ۱ / ۲ ناروغانوکي د Adrenergic blockersتطبيق د صدري دردونو د آراموالی او سنکوپ د له منځه تلوسبب کيږی، ولی د SCD مخه نشی نيولای. Amiodarone کولای سی چي د ژوند تهديدونکو اريتمياوو مخه ونيسی او يو شمير نا تائيد شوی پلټنی ښئي چي د SCD خطر هم کموی.
د کلسيم د چينل بلاک کونکي درمل لکه verapamil او diltiazem کيدای شی چي د چپه بطين د شخی د کموالی ،د لوړ ياستوليک فشار د کموالی اود فزيکي تمريناتو تحمل زياتوی.
په هغه ناروغانوکي چي د چپه بطين د خروج کم فشار ولری نو بايد د Digitalis ، diuretics ، nitrates ، calcium blockers ، او adrenergic agonists د ورکولو څخه ډ ډه وشی. په دی ناروغانوکي د الکهولو چښل هم زيان من تماميږی.
اذينی فبريليشن په دی ناروغانوکي خطر ناکه،ځکه نو ژرترژره بايد نورمال ريتم برقراره شی. د دی کار دترسره کولو لپاره کولای شو دadrenergic blocker يا ablation of the AV nodeاويا pacemaker د ايښودلوڅخه کار واخستل شی.
په ۴/۳ ناروغانوکي چي شديد اعراض ولری او په طبی درملنه ځواب ورنکړی، په ځانګړی توګه هغه چي د بين البطينی حجاب د هايپرتروپی له کبله يی داخل بطينی بندښت زيات شويوی د جراحی

(c) ketabton.com: The Digital Library


عملیات ترسره کول، د اعراضو په کمولوکي مرسته کوی. د بین البطینی حجاب احتشأ چي د بین البطینی حجاب په شریان کي د ایتانول الکهولو د تزریق په ذریعه تولیدیږی او د الکهول سپټل ablation په نوم یا دیږی،هم کولای شی د بندښت د کموالی او اعراضو د ښه والی سبب شی. ولی دا عمل یوازی د ځانګړی متخصص په ذریعه ترسره کیدای شی. په هغه ناروغانوکي چي دSCD لپاره د زیات خطر سره مخ وی، د ICD اچول استطباب لری. [۱]

انذار: په طبعی ډ ول د تاریخچه بیله، ځکه زیات شمیر ناروغان هیڅ اعراض اوعلایم نلری. اذینی فبریلیشن ډیر معمول عرض دی چي د ناروغی په وروستیو مرحلوکي منځته راځی، او شتون یی د نورو اعراضو د پیداکیدو او یا زیاتیدو سره مل وی. په تر ۱۰ سلنه کمو ناروغانوکي د اندوکارډ انتانی التهاب پیښیږی، ځکه نو په دی ناروغانوکي د اندوکارډیټ د مخنیوی درملنه یوازی هغه وخت توصیه کیږی چي ناروغ مخکي د اندوکارډیټ حمله تیره کړیوی.

د ۵ تر ۱۰ سلنه ناروغانوکي د زړه احتقانی عدم کفایه چي په درملنه ځواب نه ورکوی او اکثراً د زړه پیوند ته اړتیا لری، را منځته کیږی.

په HCM اخته ناروغانوکي د مړینی عمده علتSCD تشکیلوی، چي کیدای شی په پرته له اعراضو ناروغانو او یا هغو ناروغانوکي چي ناروغی یی نورمال سیر لری، را منځته شی. هغه چي د SCD د زیات خطر سره مخ دی هغه ناروغان دی چي،د بیارغونی پخوانی تاریخچه ولری، د سنکوپ تکراری حملات ورباندی راځی،بطینی تکي کارډیا لری، د بطیناتو ښکاره هایپرتروفی (د بین البطینی حجاب پنډوالی تر ۳۰ ملی متره زیات وی) لری،د تمریناتو پروخت یی د وینی فشار نه لوړیږی، د SCD کورنی تاریخچه لری، او یا ځانګړی جنیتیکي موتیشنونه لری. (۱)

**نن کمپکشن کارډیو میو پتیNoncompaction Cardiomyopathy**

د زړه د غیر معمولو ولادی کارډیو میوپاتی د جملی څخه ده چي کیدای شی په هر عمر کي د زړه د احتقانی عدم کفایه،ترمبو امبولیزم او یا بطینی اریتمیا وو په ډول تظاهر وکړی. دا ناروغی معمولاً د نورمال امبریوجنیزس په دوران کي را منځته کیږی.

ناروغی معمولاً د ایکو کارډیوګرافی په ذریعه تشخیص په داسی ډول چي، په میوکارډ کي متعدد ټرابیکولونه چي ټوله د بطین د جوف سره اړیکي لری، لیدل کیږی.

په دی ناروغانو کي د زړه د احتقانی عدم کفایه درملنه د د وامداره انتی کواګولانت د تطبیق سره مل توصیه کیږی. (۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ټاکو- ټسوبو کارډیو میو پاتی Tako-Tsubo (Stress) Cardiomyopathy

دا ناروغی چي د apical ballooning syndrome په نامه هم یا دیږی،د زړه د غیر معمولو سندرومونوڅخه دی،چي د صدرد ناڅاپی او شدید ی نا آ رامی په ذریعه چي تر روحی فشار او یا فزیکي فعالیت وروسته رامنځته کیږی، وصفی کیږی.

ناروغی زیاتره په ښځو کي چي عمر یی تر ۵۰ کلونو زیات وی رامنځته او په ECGپه ځانگړی توگه پریکارډیل لیډونوکي دST سگمنټ لوړ والی اویا دT موجی عمیقه انحطاط په گوته کیږی.

په انجیو گرافی کي د اپیکارډیل اکلیلی شراینو بندښت نه لیدل کیږی.

د چپه بطین د ډسټل برخی شدیده akinesia دEF د کموالی سره یوځای موجوده وی.

تروپونین اکثراً په متوسط ډ ول لوړ،او د زړه په متمه معایناتوکي چپه بطین په ځانگړی توگه زروه د سیستول په پای کي د بالون په څیر ، معلومیږی.

ټوله پورته ذکرشوی بدلونونه، اکثراً په ناڅاپی توگه را منځته او د ۳ تر ۷ ورځو په موده کي بیرته نورمال حالت ته راگرځی،او په د وامداره توگه د زړه د دندو د خرابیدو او یا معیوبیت سبب نه کیږی.

که څه هم د ناروغی د منځته را تلو سبب ښه نه دی معلوم،ولی اکثراً یی په منځته راتلوکي د دورانی کتیکول امینو اغیزی شاملی بولی.

په درملنه کي د beta blockers درملو څخه گټه اخستل کیږی، ولی کوم ځانگړی تحقیقات چي دا درمل گټور ثابت کړی نه دی ترسره شوی. (۱)

## د زړه دعضلی التهاب Myocarditis

### تعریف

د زړه د عضلی التهاب، هغه التهابی پروسه ده چي میوسیتونه مصابوی، او کیدای شی چي د انتاناتو،امیونیتی عکس العملونو،یا توکسینو په ذریعه را منځته شی. ناروغی کیدای شی چي د هستو پتولوژیکي یا کلینیکي معیارونو په پام کي نیولوسره هم تعریف کړای شی. (٦)

### اسباب

#### ۱- انتانات

- ویروسونه لکه Coxsackievirus, human immunodeficiency virus, echovirus, adenovirus, influenza, measles, mumps, parvovirus, poliovirus, rubella, varicella-zoster virus, herpes simplex virus, cytomegalovirus, hepatitis C

(c) ketabton.com: The Digital Library


او virus, rabies virus, respiratory syncytial virus, vaccine virus, dengue virus, yellow fever virus

- پروتوزواوی لکه Trypanosoma cruzi, Toxoplasma gondii
- بکتریاوی لکه Brucella, Corynebacterium diphtheriae, Salmonella, Haemophilus influenzae, Mycoplasma pneumoniae, Neisseria meningitidis (meningococcus), Streptococcus pneumoniae, Staphylococcus, Mycobacterium, Neisseria gonorrhoeae (gonococcus), اوVibrio cholera
- سپیرو کیټونه لکه Treponema pallidium, Borrelia, Leptospira
- فنگسونه لکه Aspergillus, Candida, Cryptococcus, Actinomyces, Blastomyces, Histoplasma, اوCoccidioides
- رکتسیاوی لکه Coxiella burnetii, Rickettsia rickettsii, Rickettsia tsutsugamushi
- پرازیتونه لکه Trichinella spiralis, Echinococcus granulosus, Taenia solium

### ۲- امیونیټی تولیدونکي آفات

الو انتی جن لکه دزړه د پیوند نه منل

اوتو انتی جنونه لکه Churg-Strauss syndrome, celiac disease, Whipple's disease, giant cell myocarditis, Kawasaki's disease, systemic lupus erythematosus, systemic sclerosis, sarcoidosis, scleroderma, polymyositis, اوthrombocytopenic purpura

الرژیک ( درمل) لکه Penicillin, sulfonamides, tetracycline, methyldopa, streptomycin, tricyclic antidepressants, thiazide diuretics, dobutamine, اوindomethacin

### ۳- توکسیک اسباب

درمل لکه کوکائین، امفیتامین،کتیکول امینونه،سایکلو فوسفامید، انترفیرون-Anthracyclines, 5-fluorouracil, herceptin, اوinterleukin-2

- فزیکي مواد لکه برقی شاک، تشعشعات او د حرارت زیاتوالی
- درانه فلزات لکه اوسپنه، سرب او قلوی
- متفرقه لکه د مار، غنډل او لړم چیچل، ارسنیک، کاربن مونواکسایډ او فوسفورس

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴- جنیتیکي آفات** لکه Inherited cardiomyopathies with immune-mediated pathogenesis (dilated and right ventricular cardiomyopathy) (۱)

## د زړه د عضلي التهاب سندرومونه Myocarditis Syndromes

### د اچ ای وی په ذ ریعه د زړه د عضلي التهاب HIV Myocarditis

د زړه د کسبی ناروغیو د منځته را تلو یو عمده علت هم دHIV انتان تشکیلوی، او د زړه ماؤ فیت معمولاً د ناروغی په وروستیو مرحلو چي د CD4 حجراتو اندازه ډیره کمه سی را منځته کیږی. د هغو ناروغانو په اوتوپسی معاینه کي چي د AIDS لکبله مړه سویوی په ۵۰ سلنه کي د زړه اختلاطات شتون لری. د میوکارډ هغه التهاب چي د په ذریعه منځته راځی ۲۰ سلنه پیښی یی opportunistic انتانات او نوری ۸۰ سلنه پیښی یی پخپله دHIV انتان تشکیلوی.

د کلینیک له نظره کیدای سی په ناروغ کي د زړه د احتقانی عدم کفایه او یا چپه بطین د د ندو خرابوالی اعراض ولیدل سی. په Echocardiography کي د چپه بطین دندی کمی، او د میوکارډ په بیوپسی کي د لمفوسیتونو ارتشاحات شتون لری.

انذار خراب اوهغه ناروغان چي د زړه په عدم کفایه اخته وی، ۵۰ سلنه یی د ٦ تر ۱۲ میاشتو په موده کي مری.

د رملنه د کارډیومیوپاتی د نورو ډولونو په څیر ترسره کیږی. د زړه په حاده عدم کفایه اخته ناروغانوکي د ورید د لاری د امیونو ګلوبولین تطبیق مؤثریت لری او هم د HIV انتان تداوی باید تر سره سی. (٦)

### د چګس ناروغی Chagas' Disease

دا ناروغی چي د American Trypanosomiasis په نوم هم یا دیږی، د یو انتان په ذریعه چي تریپا نوزوما کروزی Trypanosoma cruzi نومیږی منځته راځی، ۱۵ سلنه د جنوبی او مرکزی امریکا اطرافی خلګ او یا مهاجر چي د انډیمیکو ساحو څخه راغلیوی مصابوی. ناروغی د کاله د ۱۸ تر ۲۰ میلیونه وګړی مصابوی چي د هغو د جملی څخه په کال کي د ۵۰۰۰۰ مړینو سبب کیږی.

انتان د یو کنی په ذریعه چي reduviid نومیږی خپریږی او کنه معمولاً میکروب د ناقل انسان یا حیوان د چیچیلو څخه ترلاسه کوی.

په ۱ سلنه پیښوکي ناروغی حاد سیر لری،د ناروغی حاده مرحله کیدای شی چي د میوکارډ د التهاب په څیر را ښکاره ولی اکثراً خاموشه سیر لری. ناروغ کیدای سی د پوستکي سور او خارش کونکي آ

(c) ketabton.com: The Digital Library


فت چي د chagoma په نوم يادیږی ولری، ولی په ماشومانوکي عمده نښه د احليل يوطرفه ،بی درده او جس کيدونکي پاړسوب دی چي د Romaña sign په نامه يادیږی.

په ۳۰ سلنه پيښوکي ناروغی مزمن سير لری چي د حشوی اعضا وو د غټوالی سبب کيږی او په نتيجه کي په ناروغ کي megaesophagus اوmegacolon منځته راځی، چي په همدی مرحله يا د ناروغی په پرمختللی حالت کي د ميوکارډ آ فات او د زړه عدم کفايه د زروی د انوريزم ، د راسته طرف د بنډل برانچ د بلاک او يا د زړه د اريتميا په څير تظاهر کوی.

په ECG کي عمده نښه RBBB او AV بلاک شتون دی. په Echocardiography معاينه کي په ناروغ کي کيدای سی بطينات متوسع، د جدارونو حرکات محدود ولی ځانگړی نښه يی د زروی انوريزم دی.

د ناروغی سيرولوژيک تشخيص د يو ځانگړی معاينی په ذريعه چي Machado-Guerreiro نوميږی اويا immunofluorescent يا immunosorbent assays په ذريعه وضع کيږی.

د ناروغی درملنه که څه هم ستونزمنه ده، ولی اکثراً عرضی شکل لری. د پرازيت ضد درمل لکه نيفوتريموکس itraconazole، nifurtimox او benzimidazole په وينه کي د پرازيت اندازه راکموی،ولی په پر مختللی ناروغی کي يی مؤثريت کم دی.

د ICDs تطبيق کولای شی چي د بلاک او يا ارريتميا له کبله د ناڅاپی مړينی مخه ونيسی. د زړه د عدم کفايي تر تأ سس وروسته د ژوندی پاته کيدو چانس ۲۰ سلنه دی. (٦)

**د جاينټ حجراتو په ذ ريعه د زړه دعضلی التهاب Giant Cell Myocarditis**

د ميوکارډ د التهاب نادر ډول دی چي په دی ناروغی کي څو هستوی غټ حجرات په ميوکارډ په ځانگړی توگه د نکروز پر شا و خوا موندل کيږی. که څه هم د ناروغی سبب معلوم نه دی ولی اکثراً د يوشمير اوتو اميون ناروغيو لکه د کولون قرحوی التهاب، د کرون ناروغی او مياستينا گريويس سره مل وی.

د ناروغی دا ډول چي، د ۱۰ تر ۲۰ سلنه پيښې تشکيلوی، معمولاً د بيوپسی په ذريعه معلوميږی. ناروغی د صدري دردونو، تبی او هيموډيناميکو بدلونو په گړندی حمله پيل، چي اکثراً په ECGکي د بطيناتو تکي کارډی اويا اذينی-بطينی بلاک شتون لری. کله چي د ميوکارډيت عمده عرض بطينی تکي اريتمياوی،په ځانگړی توگه په ځوانانوکي، نوبايد د انډوميوکارډيل طبقی بيوپسی ترسره ترڅو د جاينټ حجراتو په ذريعه د ميوکارډ دالتهاب شتون په گوته سی.

د معافيتی سيستم انحطاط د يو شمير درملو لکه azathioprine, cyclosporine, او، corticosteroidsپه ذريعه گټور تماميږی،د ناروغی په کلينيکي سير کي ښه والی نه شی را منځته

(c) ketabton.com: The Digital Library


کولای، او اکثراً ناروغی د زړه د عدم کفایی او یا بطینی تکي اریتمیا وو له سببه د کلینیکي لوحی د خرابوالی او مړینی سبب کیږی. درملنه یی د زړه پیوند تشکیلوی. (٦)

**لایم کارډایټس Lyme Disease**

د لایم په ذریعه د میوکارډ التهاب، چي د conduction سیستم په غیر نورمال توب سره وصفی کیږی، د Borrelia burgdorferi سپیروکیت انتان په ذریعه چي په سیرولوژیکي معایناتو سره تشخیصیږی، منځته راځی.

ناروغ په لمړیوکي د عضلاتو د د ردونو، بندونو د د ردونو، سر درد ، تبی ، د لمفاوی عقداتو د پاړسوب او اریتیما څخه شکایت کوی. په ۱۰ سلنه ناروغانوکي د زړه اعراض لکه د زړه بلاک او سینکوپ را منځته کیږی. د چپه بطین د عدم کفایه اعراض نادراً شتون لری. د میوکارډ په بیوپسی کي د میوکارډ فعاله التهاب موندل کیږی او حتی په یو شمیر ناروغانوکي د میوکارډ څخه سپیروکیټ هم تر لاسه کیدای سی. د ناروغی سیر اکثراً سالم او ناروغ مکمل روغوالی مومی، ولی کیدای شی ناروغی د زړه په عدم کفایه سره تظاهر وکړی.

د رملنه یی د پنسلین یا ډوکسی سیکلین په ذریعه ترسره ولی د زړه د ناروغی په سیر کي بدلون نسی را وستلای. (٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د څپرکي لنډيز

د زړه د عضلی یا میوکارډ ناروغی کیدای سی پر دریو بیلو ډولونو لکه د میوکارډ ابتدایی آ فات (کارډیو میوپاتی)، د میوکارډ التهابی ناروغی ( میو کارډ ایټس) او د میوکار ډ ثانوی آ فات، و ویشل سی. د دریو سرو ډولونو تر منځ زیات توپیرونه شتون لری،ځکه د میوکارډ ابتدایی آ فات اکثراً جنتیکي منشه لری،حال داچي د میوکارډ التهابی او ثانوی آ فات اکثراً کسبی وی.

په د ی څپرکي کي هڅه سوی تر څو لمړی د کارډیو میوپاتی په اړوند د کریکولم سره سم توکي راغونډ او د هر ډول د تعریف، تصنیف، اسبابو، تشخیص او درملنی په اړه اړین معلومات د زده کونکوپه واک کي ورکول سی. هڅه سوی تر څو معلومات ساده او د زده کونکو د سویي په پام کي نیولو سره برابر او عام فهمه وی.

د څپرکي په بله برخه کي د زړه د عضلی د التهابی آ فاتو (میوکارډیټس) او د هغه د بیلو ډولونو په تشریح کولو پیل سوی، او په دی برخه کي هم هڅه سوی تر څو د معیاری کریکولم سره سم معلومات را غونډ او هم د میوکارډیټس د بیلو ډولونو د تعریف، اسبابو، پتو جنیزس، پتولوژیکي موندنو، تشخیصی معایناتو، درملنی او اندازو په اړوند معلومات مفصل ولی د فهم وړوی. د زده کونکو د لانبه پوهاوی په منظور د جدولونو څخه هم کار اخستل سوی، تر څو عمده ټکي په اسانی سره یاد کړل سی.

په پای کي د میوکارډایټس د یو شمیر سندرومونو لکه HIV Myocarditis، Chagas' disease، Giant cell myocarditis ، او Lyme's carditis څخه هم په لنډ دول یادونه سویده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د څپرکي اړونده پوښتنې

### ۱- صحیح جمله په ص او غلطه په غ سره په نښه کړئ.

**۱ - ۱ : د Dilated cardiomyopathy اړوند :**

الف: اکثراً ایدیو پاتیک وی .

ب: د سیتو توکسیک درملنې یو پیژندل سوی اختلاط دی .

ج: د الکهولو د د وامداره اوزیات څښلو سره مل وی.

د: د Coxsackie A انتان په وسیله منځته راځی.

**۱ - ۲ : د restrictive cardiomyopathy اعراض او علایم عبارت دی له :**

الف: د constrictive pericarditis ناروغی ته ورته اعراض او علایم لری .

ب: د ابتدایی یا ثانوی امیلو ئیدوزس سره مل وی .

ج: د صد ر په راډیوګرافی کي ښکاره کارډیو میګالی موجوده وی.

د: د اختلاط په صورت کي په محیطی وینه کي ایوزینوفیلیا تر لاسه کیږی.

**۱ - ۳ : د Dilated cardiomyopathy سره سر خوړونکي اعراض او علایم عبارت دی :**

الف: د انجین او یا دزړه د احتشأ د پخوانی تاریخچي نه موجودیت .

ب: د قدامی لیډونو په ECGکي د عمیقی Qموجی شتون .

ج: په ایکو کارډیوګرافی کي د dyskineticچپه بطین معلومیدل.

د: د میترال د سام و ظیفوی عدم کفایه.

**۱ - ۴ : د hypertrophic cardiomyopathy سره سر خوړونکي اعراض او علایم عبارت دی:**

الف: د نا څاپی مړینو کورنی تاریخچه .

ب: صدري خناق او یا جهدی سینکوپ .

ج: د ابهر د سام د تنګوالی او د میترال د سام د عدم کفایی د مرمرونو اوریدل.

د: د زړه د وهم آ واز نرم او یا نه اوریدل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۲سوال: په ډایلیټید کاردیو مایو پاتي کي د زړه په برقي گراف کي کوم بدلونونه گوري؟**

الف: سینوس تکي کاردیا یا اتریل فیبریلیشن

ب: بطیني اریتمیا ج: د کیڼ اذین ابنارملتي

د: په منتشره توگه د T -ST د څپو ابنارملتي

و:کښته ولتیج او ځیني وخت دداخل بطیني انتقال زیان

**۳سوال: Peripartum cardiomyopathy په درملني کي کومه دوا مضاد استطباب ده ؟**

الف: Digoxin ب: Hydralizin

ج: الدوسترون انتا گونیست د: د ري واړه

**۴ سوال : لاندي کوم یو د ځنډني التصاقي پریکاردایتیس د عواملو څخه نه دي؟**

الف - هستو پلازموزس ب – سیستیمیک لوفوس اریتیماتوزیس

ج- سرطان د- اوستیو ارترایتس

**۵سوال: هغه مایو کاردایتیس چي لامل یي بکتیر یا وي په زړه کي د یوي اوني په تیریدلو سره څه شي منځ ته راوړي؟**

الف: کاردیو میگالي ب: د زړه احتقاني عدم کفایه

ج: الف او ب دواړه درست د: ټول غلط دي

**٦ سوال: حساسیت او زهري غبرگون کومه کاردیو مایو پاتي منځ ته راوړي ؟**

الف: هایپرتروفیک ب: ډایلیتید

ج: ریستریکتیو د: پورته دري واړه

**۷ سوال: دCHD لاملونه په لنډ دول ولیکي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اووم څپرکی
# د پریکارډ ناروغی

تصنیف

کلینیکي تصنیف

سببی تصنیف

د پریکارډ حاد التهاب

پوسټ کارډیاک انجوری سندروم

دپریکارډ څنډنی انصباب

کرونیک کانسټرکټیو پریکارډایټس

## د څپرکي مقدمه

د اناټومی جوړښت له نظره پریکارډیم د د وو بیلو وریقو څخه جوړ سویدی. جداری پریکارډ چي دزړه عضله یی پوښلی او د یوی محافظوی کڅوړی په ډول د زړه پرشاوخوا چاپیره سویده او زړه د ناځاپی توسع څخه ساتی، بل یی داخلی پریکارډ،چي د حشوی پریکارډ په نامه هم یادیږی او د زړه پر عضله باندی قرارلری. دواړی وریقی په نورمال ډول د یوی شفافی مایع ،چي د پلاسمأ څخه فلټر او د همدی حشوی پریکارډ په وسیله تولیدیږی،په وسیله یودبل څخه بیلی سویدی چي اندازه یی د ۱۰ تر ۵۰ ملی لیتره ته رسیږی. دنده یی د زړه د حرکاتو په وخت د دواړو وریقو یوپربل په اسانی سره منبل کیدل دی. د روغتیا په وخت کي د دی د وو وریقو تر منځ فشار لږ منفی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د پریکارډ التهاب چي زیات اسباب او ډولونه لری،خو د پریکارډ د حاد التهاب وقوعات په اسانی سره نه سی شمیرل کیدای ځکه زیاتی پیښی یی نسی تشخیص کیدای. د اوتوپسی معایناتو د مطالعاتو له رویه یی پیښی یو سلنه اټکل سویدی. د پریکارډ التهاب معمولاً په ناروغانوکي چي د بیړنیو طبی مرستو د څانگی ته مراجعه کوی لیدل کیږی، چي د هغو ناروغانوچي د غیر اسکیمیکو صدري دردونو له کبله مراجعه کوی ۵ سلنه پیښی تشکیلوی. (۱۰)

## د پریکارډ ناروغی Pericardial Disease

### تصنیف

### کلینیکي تصنیف Clinical Classification

### ۱- د پریکارډ حاد التهاب ( تر ٦ اونی کمه موده)

- فبرینوز
- انصبابی ( مصلی یا وینه لرونکي)

### ۲- د پریکارډ تحت الحاد التهاب ( د ٦ اونیو څخه تر ٦ میاشتو)

- انصبابی- التصاقی
- التصاقی

### ۳- د پریکارډ مزمن التهاب

- التصاقی
- انصبابی
- چسپندوک Adhesive (nonconstrictive)

### سببی تصنیف Etiologic Classification

### ۱- انتانی

**الف:** ویروسی لکه coxsackievirus A and B, echovirus, mumps, adenovirus, hepatitis, HIV

**ب:** قیحی لکه pneumococcus, streptococcus, staphylococcus, Neisseria, Legionella

**ج: توبرکلوزیک**

**د**: فنگسی لکه histoplasmosis, coccidioidomycosis, Candida, blastomycosis

**و**: نور انتانات لکه syphilitic, protozoal, parasitic

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۲- غیر انتانی**

**الف**: د میو کارډ حاده احتشأ

**ب**: یوریمیا

**ج**: سرطان

- ابتدایی تومورونه لکه benign or malignant, mesothelioma
- میتاستاتیک تومورونه لکه lung and breast cancer, lymphoma, leukemia

**د**: Myxedema

**و**: کولستیرول

**ز**: Chylopericardium

**س**: ترضیضات

- تیز یا نفوزیه
- کند یا غیر نفوزیه

**ش**: د ابهر خیریدنه ( د پریکارډ و جوف ته یی سوری کیدل)

**ص**: تر شعاع وروسته

**ض**: Familial Mediterranean fever

**ط**: Familial pericarditis

**ع**: د پریکارډ حاد ایډیو پاتیک التهاب

**غ**: دWhipple's ناروغی

**ف**: سارکوییدوزس

۳- د پریکارډ هغه التهاب چي سبب یی فرط حساسیت او یا autoimmunity تشکیلوی

**الف**: روماتیزمی تبه

**ب**: د اوعیو کولاجن امراض لکه SLE ،د مفاصلو روماتیزمی التهاب، ankylosing spondylitis ، scleroderma ، حاده روماتیزمی تبه، او Wegener's granulomatosis

**ج**: د رمل لکه procainamide ، hydralazine ، phenytoin ، isoniazide ، minoxidil ، anticoagulants ، اوmethysergide

**د: تر قلبی زخمونو وروسته**

د زړه تر حادی احتشأ وروسته لکه Dressler's سندروم

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر پریکارډیو ټومی وروسته

تر ترضیضاتو وروسته

**و**: ایډیوپاتیک : د ۸۵ تر ۹۰ سلنه پیښی تشکیلوی.(۱)

## د پریکارډ حاد التهاب Acute Pericarditis

### تعریف

د پریکارډ التها بی پروسی ته ویل کیږی،چي کیدای شی د پریکارډ انصباب ورسره مل او یا مل نه وی،اسباب یی ډیرزیات، چي عمده سبب یی ایډیو پاتیک او یا ویروسونه پیژندل شویدی. ناروغی معمولاً قلبی سیستم مصابوی او بل نوم یی د پریکارډ حاد قیحی التهاب دی.(۳)

### اپیدیمولوژی

**وقوعات:** د ناروغی په اړوند اپیدیمولوژی معلومات ډیر کم شتون لری او حقیقی وقوعات یی هم نامعلومه دی، ولی یوازی په ۵ سلنه هغه ناروغانوکي چي د صدري دردونو له کبله د بیړنیو مرستو ځانگی ته مراجعه کوی او پهMI اخته نه وی، ناروغی تثبیت شویده.

**پتوفزیالوژی:** یو حاد التهاب شتون لری،چي کیدای شی مصلی او یا قیحی مایع یا غلیظ فبرینی وصف لرونکي مایع ( په سببی عامل اړه لری) ترلاسه شی. (۳)

**اسباب**: پورته د تصنیف په برخه کي په مفصل ډ ول ذکر شویدی.

### اعراض اوعلایم

### تاریخچه

- تبه، ستړیا او د عضلاتو دردونه
- د صدر حاد،تیز، او چاقو وهنی ته ورته درد چي د ساعتو څخه تر ورځودوام مومی
- پلورایی دردونه
- درد د شا پرتخته د پریوتوپه حالت کي آ رام او د پړمخی پریوتو په حالت کي شدید کیږی.

### فزیکي معاینه

- د زړه ضربان تل تیز ولی منظم وی
- په اصغا سره د پریکارډ د وو وریقو د یوپربل منبلو آ واز اوریدل کیږی په داډول:

(c) ketabton.com: The Digital Library


- کله چې ناروغ د شا پرتخته پروت وی نو د زفیر په آ خره د ستر نوم په کښتني سرحد کې یو خشن او لوړ تون درلودونکې آ واز اوریدل کیږی، چې د تشخیص لپاره ډیر وصفی دی.
- کیدای شی ګذری اویا مونو، بای یا ترای فزیک وی.
- د نوی دریم آ واز یا S3 اوریدل د میو پریکاډیټ پرشتون دلالت کوی.
- د لاندی علایموپه شتون کې د زړه تمپوناد ته فکرکیږی:
- د وینی د فشار ټیټوالی
- د غاړی د وریدونو پاړسوب
- د Pulsus paradoxus شتون (چې د شهیق په وخت د ۱۰ ملی مترسیماب په اندازه کموالی مومی). (۳)

**تشخیص**: د ناروغی تشخیص د تاریخچې، فزیکي معایناتو او لابراتواری معایناتو له رویه اینبودل کیږی.

**لابراتواری معاینات**

**ابتدایی لابراتواری ټیستونه**

- د وینی مکمل روتین معاینات : چې اکثراً د وینی سپین کریوات زیات وی.
- التهابی مارکرونه : د ESR لوړوالی، او CRP د زیاتوالی.
- قلبی بیومارکرونه: په وصفی ډ ولcreatine kinase او troponins زیاتوالی مومی.
- د troponins زیاتوالی چې اکثراً په ځوانانوکې موندل کیږی، په نارینه وو کې لوړیږی، د پریکارډ په انصباب سره مل وی او هم ECG اکثراً دST سګمنټ لوړوالی ښیی.
- د troponin د لوړوالی له مخی د ناروغی پرمختګ نشی تعینیدلای.
- د ECG موندنی: ECG کیدای شی چې نورماله وی او کوم بدلون ونه موندل شی، ولی وصفی بدلون چې د ناروغی د تشخیص لپاره اړین دی عبارت دی د ST سګمنټ لوړوالی او د PR سګمنټ انحطاط ،چې د ST سګمنټ لوړ والی ډیر وصفی او مقعر شکل ځانته غوره کوی،چې په ۴ سټیجونوکې ترسره کیږی
- لمړی سټیج: د ST سګمنټ منتشرلوړوالی او PR سګمنټ انحطاطی وی
- دوهم سټیج: د ST او PR دواړه سګمنټونه نورمال کیږی.
- دریم سټیج: د T موجی پراخه انحطاط

(c) ketabton.com: The Digital Library


- ځلورم سټیج: د T موجی نورمال حالت ته راګرځیدل، که د پریکارډ مزمن التهاب شتون ولری نوکیدای شی چي د T موجه تر زیاته وخته انحطاطی پاته شی.
- د تمپوناد په صورت کي کیدای شی چي ECG د کښته ولټیج موجی و ښیی.

نورمعاینات لکه د پوستکي توبرکولین ټسټ، د بلغم کلچر، روماتوییډ فکتور، انتی نکلیر انتی باډی، او د HIV سیرولوژی ټسټ.

## د ویروس کلچر او د انتی باډی اندازه کول

## متممه معاینات

د سږو او منصف د پتولوژی د تشخیص لپاره باید CXR ترسره شی. د قلب د ساحی غټوالی د پریکارډ پر انصباب دلالت کوی ( تر ۲۰۰ ملی لیتره زیات).

دTransthoracic echocardiogram معاینه د پریکارډ د انصباب، تامپوناد او یا میوکارډ د آ فاتو د تشخیص لپاره باید ترسره سی.

د CT scan او MRI معاینه د ناروغی د پرمختګ او یا اختلاطاتو د تشخیص لپاره باید ترسره شی.

د Pericardiocentesis ترسره کول د قلبی تامپوناد او یا د پریکارډ د شکمن انصباب په صورت کي چي آ یا توبرکلوزیک، قیحی او که سرطانی دی، ترسره کیږی.

که Pericardiocentesis معاینه مؤثره نه وی او یا داچي قلبی تامپوناد مکرراً واقع شی،نو جراحی تخلیه استطباب لری. (۳)

## پتولوژیکي موندنی

د مایع په میکروسکوپیکه معاینه کي کیدای شی چي سوروالی، د سپینوکریواتو را غونډیدل اود فبرین تجمع ولیدل شی.

که مایع قیحی ا ونیوتروفیلونه زیات وی نو پر بکتریا یی التهاب دلالت کوی.

که په مایع کي لمفوسیتونه زیات وی نو باید د ویروسی،توبرکلوزیک یا سرطانی آفت و خواته پام واړول شی. (۳)

## تفریقی تشخیص

## د میوکارډ حاده احتشأ

سینه او بغل چي د پلوړا التهاب ورسره مل وی

د سږو امبولی

د ابهر شریان څیریدنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


پنوموتورکس

د منصف امفیزیم

د صفراوی کځوړی التهاب

د پانکریاس التهاب

د مری، التهاب، تثقب اویا څیریدل. (۳)

**درملنه**

د درملنی موخه د درد آ راموالی او د اختلاطاتو (لکه بیا تکرار،تامپوناد او مزمن تخریبی التهاب) مخنیوی دی.



۷- ۱ شکل : د پریکارډ انتانی التهاب او انصباب(۵)

د دی ناروغانو ۸۷ سلنه بستر ته اړتیا نه لری او د سراپا ناروغ په توګه تداوی کیږی.

**طبی درملنه**

**لمړی خط درمل**

- د NSAIDs تطبیق د درملنی اساس تشکیلوی، او د بیا تکرار د مخنیوی په منظور یی دوز په تدریجی ډ ول کمیږی:

- Ibuprofen د ۳۰۰ تر ۸۰۰ ملی ګرامه هر ٦ یا ۸ ساعته وروسته، د څوورځو یا اونیو لپاره د اړتیا په صورت کي توصیه کیدای شی.
- Aspirin ۸۰۰ ملی ګرامه هر ٦ یا ۸ ساعته وروسته،په ځانګړی توګه د هغو ناروغانو لپاره چي په نژدی وختوکي یی د MI حمله تیره کړیوی، انتخابی درمل دی.
- د دی درملو د تطبیق په وخت باید GI protectionپه پام کي وی.
- Colchicine په لمړی ورځ د ۱- ۲ ملی ګرامه، او وروسته یی تعقیبیه دوز د ۰،۵ تر ۱ ملی ګرام د ورځی د ۳ میاشتو لپاره ، کیدای شی په یوازی ډول او یا دNSAID سره یوځای ورکول شی.
- مضاد استطباب: د NSAID یا aspirin سره حساسیت، د فعالی معدوی قرحی شتون او یا معدی-معایی خونریزی
- احتیاط: هغه ناروغان چي په استما اخته وی،د امید واری په دریم ترای مستر کي،د علقه کیدوستونزی ولری او یا د پښتورګو یا ینی عدم کفایه ولری، باید د درملو په ورکړه کي احتیاط و شی. (۳)

**د وهم خط درمل**

(c) ketabton.com: The Digital Library


- د Corticosteroid په ذریعه درملنه د منظم نسج په ناروغیو،د پریکارډ یوریمیک یا توبرکلوزیک التهاب او یا شدید تکراری اعراض چي په NSAIDs یا colchicine ځواب ورنکړی، استطباب لری. دا درمل باید د پریکارډ په حاد اختلاطی التهاب کي ورنه کول شی.که دا درمل یوازی استعمال شی، د ناروغی د بیا تکرار خطرزیاتوی.
- د پریکارډ په داخل کي د کورتیکو ستیروئید استعمال مؤثر او هم د سیستمیکو جانبی اثراتو مخه نیسی. (۳)

**عمومی اهتمامات**: که د ناروغی سبب معلوم وی باید سببی درملنه ترسره، پرته له هغه باید ویروسی یا ایډیوپاتیک ته پام واړول سی. (۳)

جراحی: هغه ناروغان چي د طبی درملنی سره مقاوم او جواب ورنکړی نو او حملات یی تکراری را منځته شی، نو Pericardiectomy ورته ترسره کیږی. (۳)

د بستر کیدو معیارونه: د پریکارډ په التهاب اخته هغه ناروغان چي د زیات خطر سره مخ دی، باید بستر او تداوی شی:

- تبه چي تر ۳۸ درجی د سانتی ګریډ لوړه وی
- هغه ناروغان چي د بدن د فاعی سیستم یی کمزوری وی
- هغه چي د ترضیض سره مخ وی
- د فمی انتی کواګولانتونو تطبیق
- د میوکارډ او پریکارډ ګډ التهاب
- د زړه تامپونا د
- په Echocardiographic کي د زیات انصباب معلومیدل
- په NSAID درملنه باندی ځواب نه ورکول. (۳)

**وریدی مایعات**

کوم ځانګړی وریدی مایعاتوته اړتیانلری، یوازی د تامپوناد په صورت کي چي که د وینی فشار ټیټ وی باید ورته ورکول شی. (۳)

**اختلاطات**

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د پريکارډ د التهاب بيا راګرځيدنه

- کيداى شى په ۲۴ سلنه ناروغانو کي را منځته شى
- تکرار معمولاً د لمړى حملى څخه يوه اونى وروسته را منځته کيږى، ولى کيداى شى مياشتى يا حتى کلونه وروسته را منځته شى.
- نادراً د تامپوناد يا التصاق سره مل وى

- قلبى تامپوناد: نادر اختلاط دى، ولى پيښى يى د پريکارډ سرطانى، قيحى اوتوبرکلوزيک التهاب سره اکثراً مل وى.
- د پريکارډ التصاقى التهاب
- نادراً را منځته کيږى
- اصلى درملنه يى Pericardiectomy تشکيلوى (۳)

## پوسټ کارډياک انجورى سندروم Postcardiac Injury Syndrome

د پريکارډ حاد التهاب کيداى شى په بيلو کلينيکي ډولونو ولى يوشانته اعراضو او علايمو تظاهر وکړى، د بيلګى په توګه د ميوکارډ پخوانى زخمونه چي په پريکارډ کي د خونريزى سبب شويوى. نوموړى سندروم کيداى شى تر قلبى جراحى وروسته رامنځته شى چي postpericardiotomy سندروم نوميږى، يا تر قلبى ترضيضاتو(نفوذيه يا غير نفوذيه) وروسته او يا د کتيتر د تطبيق په وخت کي د زړه سورى کيدلو په تعقيب، اويا نادراً دا سندروم کيداى شى چي ترAMI وروسته را منځته شى.
د سندروم کلينى لوحه د پريکارډ د حاد التهاب سره چي د ويروسونو يا ايډيو پاتيک په ذريعه را منځته شويوى، ورته والى لرى. عمده عرض يى د پريکارډ د حاد التهاب په څير درد دى چي معمولاً تر قلبى زخم ۱ يا ۴ اونى وروسته (يا تر AMI ۱يا ۳ ورځى وروسته) او يا کله کله يوه مياشت وروسته را منځته کيږى. د ناروغى بيا را ګرځيدنه معموله او کيداى شى چي ۲ کاله تر قلبى زخم وروسته را منځته شى. تبه چي تر ۴۰ درجى د سانتى ګريډ رسيږى، د پريکارډ التهاب،د پلورا التهاب، او سينه وبغل د دى سندروم ښکاره اعراض تشکيلوى، چي د ۱ تر ۲ اونيو په موده کي روغوالى مومى. په دى سندروم کي د پريکارډ التهاب فبرينى وى او يا کيداى شى انصبابى وى،چي انصباب کيداى شى مصلى وينه لرونکي مايع ولرى، ولى نادراً د تامپوناد سبب کيږى. د وينى سپين کريوات زيات، ESRلوړاوECGپه کي د پريکارډ دالتهاب ورته بدلونونه موندل کيږى.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د سندروم د تولید میخانیکیت واضح نه دی،ولی داسی فکر کیږی چي دا سندروم د هغه فرط حساسیت له کبله چي د هغه انتیجن چي د زخمی میوکارډ اویا پریکارډ د انساجو څخه منشه اخلی، منځته راځی. د سندروم په منځته راتلوکي ویروسی انتانات هم اغیزه لری، ځکه په هغو ناروغانوکي چي تر قلبی جراحی وروسته ورته دا سندروم پیداکیږی، د ویروسونوضد انتی باډی اندازه لوړه ترلاسه کیږی.
د انلجزیک او آسپرین پرته کومی ځانګړی درملنی ته اړتیا نلری،که انصباب او یا تامپوناد شتون ولری، باید د پورته په شکل تداوی شی. که سندروم څوځلی تکرار شی،نو د درد ضد غیر ستیر ئیدی درملو NSAID ، colchicine یا glucocorticoid په ذریعه درملنه مؤثره تمامیږی. (۵)

## د پریکارډ څنډ نی انصبا بPericardial effusion and cardiac tamponade

د پریکارډ په جوف کي د مایع تجمع ته د پریکارډ انصباب ویل کیږی، چي اکثراً د پریکارډ د حاد التهاب تر حملی وروسته منځته راځی. که یی اندازه ډیره زیاته شی نو د بطیناتو د تخلیه د کمښت او د زړه د تامپوناد سبب کیږی. (۵)

**اعراض او علایم**: د پریکارډ د انصباب اعراض اکثراً د پریکارډ د حاد التهاب په سبب عامل اړه لری،ولی په فزیکي معاینه لاندی علایم لیدل کیږی:

- **د زړه آ وازونه نرم او د فاصلی څخه اوریدل کیږی**
- **د زروی نبضان معمولاً نه معلومیږی**
- **د پریکارډ د التهاب له کبله په لمړیو مرحلوکيfriction rub اوریدل کیږی،ولی په هغه صورت کي چي انصباب زیات شی نو نوموړی آ واز له منځه ځی.**
- **نادراً، انصبا ب د چپه سږی پرقاعده باندی د فشار راوړلو له کبله په جس باندی د چپه طرف د سکپولا په لاندنی زاویه کي اصمیت را منځته کوی چي د Ewart's sign په نامه یا دیږی.**
- **کله چي انصباب زیات شو، نو د قلبی تامپوناد نښی معلومیږی:**

- د غاړی د رګونو د داخلی فشار زیاتوالی یا Friedreich's sign
- د Kussmaul's sign یا د شهیق په مرحله کي د غاړی د رګونو د فشار زیاتوالی او برجسته توب شتون.
- د pulsus paradoxus را منځته کیدل
- د زړه د د دهانی کمید ل(۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**لابراتواری معاینات**

- په ECG کي د QRS complexes کښته ولتیج لری
- د صدر په راډیوګرافی کي زړه د ناک شکل ځانته غوره کوی،ولی ریوی وریدونه برجسته نه وی.
- د Echocardiography معاینی ترسره کول ګټور او د انصباب د اندازی او قلبی تامپوناد د شتون معلومات ورکوی.
- د MRI ترسره کول د وینه لرونکي انصباب د تشخیص لپاره اړین دی.
- د Pericardiocentesis ترسره کول ،چي معمولاً دechocardiographics تر لارښودنی لاندی ترسره کیږی،د توبرکلوزیک،سرطانی او یا قیحی انصباب د تخلیه لپاره استطباب لری.
- که دpericardiocentesis په ذریعه تشخیص واضح نه شی او پر توبرکلوز باندی شکمن یاست نو باید بیوپسی ترسره شی.
- د سببی عامل په پام کي نیولوسره یوشمیر نور ټسټونه لکه د وینی کلچر،او اوتوانتی باډی سکرین ترسره کیدای شی. (۵)

**د رملنه**

تر هرڅه لمړی باید سببی عامل په ګوته او تداوی شی. زیاتره وختونه د پریکارډ انصباب پخپله پرته له درملنی رشف او روغوالی مومی.

که انصباب په ګړندی ډول تجمع وکړی،نو کیدای شی چي د تامپوناد سبب وګرځی. په دی وخت کي نو Pericardiocentesis ته اړتیا شته تر څوانصباب تخلیه او د مایع د پوره تخلیی په منظور د څه مودی لپاره ډرین اینښودل کیږی.

د سرطانی پیښو په صورت کي اکثراً انصباب بیا تشکل کوی،چي په دی صورت کي د پریکارډ و fenestration ته اړتیا لیدل کیږی، یعنی په پریکارډ کي د یوی کړکي خلاصول تر څو انصباب و مجاورو انساجوته نفوذ وکړی. (۵)

## کرونیک کانسترکټیو پریکارډایټس Constrictive pericarditis

د پریکارډ د التهاب یوشمیر ځانګړی اسباب لکه توبرکلوزس،وینه لرونکي انصباب،بکتریایی انتانات او یا د زړه روماتیزمی ناروغی،د دی سبب کیږی چي پریکارډ ضخیم،فبروتیک او کلسیفیډشی. او دا حالت کیدای شی چي دزړه تر خلاص جراحی عملیات وروسته هم را منځته شی. په زیاتو پیښوکي د پریکارډ دغه بدلون پرته له اعراضووی. ولی، که پریکارډ خپل الاستیکیت زیات دلاسه ورکړی، او د ډ

(c) ketabton.com: The Digital Library


یاستول په مرحله کې د زړه په ډ کیدو کې ستونزه را منځته کړي،نوویل کیږی چې constrictive pericarditis تأ سس کړیدی. له دی کبله چې دا بدلونونه په مزمن ډول منځته راځی نوعضویت ته دا موقع ور کوی چې په مقابل کې معاوضوی سیستم فعاله کړی،ځکه نو د قلبی تامپوناد په څیر ژوند تهدیدونکي آ فت نه دی. د پریکارډ التصاقی التهاب باید دrestrictive cardiomyopathy څخه توپیر شی، ځکه د واړه ناروغی د کلینیکي پلوه زیاتی سره یوشانته دی، ولی لمړی آفت په درملنه ځواب ورکوی او پوره روغوالی منځته راځی، حال داچې د د وهم ډول آفت زیاتی پیښی درملنه نلری.
د پریکارډ د التصاقی التهاب په آخرنیو مرحلوکي کیدای شی چې د میوکارډ دsubepicardial طبقه هم په فبروز،اتروفی او کلسیفیکیشن اخته شی. (۵)

**اعراض اوعلایم:** د پریکارډ د التصاقی التهاب اعراض اوعلایم د لاندی دلایلو له سببه منځته راځی:

- د بطیناتو د ډکیدو د کموالی علایم چې د قلبی تامپوناد په څیر علایم لکهKussmaul's sign ، او pulsus paradoxus شتون لری.
- د سیستمیک وریدی احتقان له کبله په ناروغ کي حبن، ارتباطی پاړسوب،د ینی غټوالی او د غاړی د وریدونو پاړسوب منځته راځی.
- د ریوی وریدی دوران د احتقان له سببه ناروغ ته سالنډی،ټوخی، orthopnoea او PND پیداکیږی، ولی زیات معمول نه دی.
- د زړه د دهانی د کموالی له سببه ناروغ ته ستړیا،د وینی ټیټ فشار او عکسوی تکي کارډیا پیداکیږی.
- د بطیناتو د ګړندی ډ کیدو له کبله د سترنم د کښتنی برخی په چپه څنډه کي د ډ یاستول په پیل کي یو آ واز چې ورته 'pericardial knock' وایی اوریدل کیږی.
- د اذین توسع ( په ۳۰ سلنه ناروغانوکي اذینی فبریلیشن شتون لری). (۵)

**لابراتواری معاینات**

- د صدر په رادیو ګرافی کي برسیره پردی چې د زړه د عدم کفایی اعراض شتون لری، بیاهم زړه کوچنی معلومیږی.په ۵۰ سلنه ناروغانوکي د پریکارډ کلسیفیکیشن شتون لری. که په AP کلیشه کي کلسیفیکیشن و نه لیدل شو نو بیا جنبی کلیشه ګټوره تمامیږی. ولی باید یادونه وکړو چې کلسیفیډ پریکارډ د التصاقی معنی نه ورکوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- په ECG کي QRS complexes کم ولتيج لري او په عمومي ډ ول د T موجه همواره يا منفي وي.
- په Echocardiography کي پريکارډ ضخيم او کلسيفيډ وي،او بطينات واړه ولي جدار يې ضخيم نه وي. د ښه ليدلو لپاره Doppler معاينه ګټوره ده.
- د پريکارډ د اناټوميکي بدلون او يا ضخامت د اندازه کولو لپاره وCT او MRI ته اړتيا شته ( ضخامت ۳ ملي يا زيات وي).
- په سختو پيښوکي د دی لپاره چي د پريکارډ التصاقی التهاب د تخريبی يا ريسټرکټيوکارډيو ميوپاتی restrictive cardiomyopathy څخه توپير شی نو بايد ورته د اندو ميوکارډ بيوپسی Endomyocardial biopsy تر سره سی. (۵)

**درملنه**

د پريکارډ د مزمن التصاقی التهاب درملنه د پريکارډ مکمل پريکول دی. ولی بايد يادونه وکړو چي دا يوه خطر ناکه عمليه ده او اختلاطات يی ډير زيات دی، څکه په زياتو پيښو کي د جراحی عمليی په دوران کي د ميوکارډ اتروفی شتون لري. له دی کبله نو په هغو ناروغانوکي چي په توبرکلوزيک التهاب نه وی اخته، په ابتدا کي دpericardiectomy ترسره کول مخکي تر دی چي التصاق اويا د ميوکارډ اتروفی را منځته شی، توصيه کيږی.

د توبرکلوزيک التهاب په شتون کي ، د پريکارډ کلسيفيکيشن پر مزمن حالت باندی دلالت کوی. بياهم د پريکارډ کلسيفيکيشن په شتون کي د ابتدا يیpericardiectomy ترسره کول د توبرکلوز ضد درملوسره يوځای توصيه کيږی،ولی که کلسيفيکيشن شتون ونلری نولمړی ناروغ ته د توبرکلوز ضد درملو کورس تکميل او که د ۴- ٦ اونی درملنی وروسته په haemodynamic حالت کي بدلون رانغلی نوورتهpericardiectomy توصيه کيږی. (۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ځپرکي لنډيز

په اووم ځپرکي کي د پريکارډ ناروغۍ تشريح سويدی. د پريکارډ د حاد التهاب تشخيص د اعراضو او علايمو ( د سينې درد او د پريکارډ د د وو وريقو د موښلو ږغ)، او د زړه په ګراف کي د وصفي بدلونونو لکبله وضع کيږي. د پريکار ډ د انصباب او يا نورو پتولوژيکي بدلونود موندلو لپاره د ايکو کارډيوګرافی ته اړتيا ليدل کيږي، ولی کيدای سی چي د دی معاينی په تر سره کيدو سره د کانسټرکشن علايم، ورسره مل قلبی ناروغی او يا د پريکارډ نو پتولوژيک حالات هم په ګوته سی.

د دی لپاره چي د ناروغی سبب په ګوته سی نو ناروغ کيدای سی و pericardiocentesis او د پريکارډ يا اپيکارډ بيوپسی ته اړتيا ولری، چي بايد په يوه مافوق تخصصی مرکز کي ترسره سی. pericardioscopy،

د pericardiocentesis استطباب د پريکارډ د انصباب له کبله د زړه د تامپوناد، په شتون کي اينبودل کيږی چي کيدای سی سبب يی انتانی، توبرکلوزيک او يا سرطانی وی .

دParadoxus نبض شتون د زړه د پرمختللی تامپوناد علامه ده، چي و بيړنی تخلئی ته اړتيالری. د دی عمليی د تر سره کولو عمده مضاد استطباب د ابهر Dissection تشکيلوی.

د زړه په جروحاتو، د ميو کارډ تر احتشأ وروسته د زړه د عضلی د رپچراو يا د ابهر تر ځيريدنی وروسته د وينی د تجمع په صورت کي د زړه جراحی عمليات د ژوندی پاتی کيدو لپاره اړين دی.

د پريکارډ د سرطانی انصباب په صورت کي د پريکارډ په داخل کي د سرطان ضد اويا سکليروزنګ درملو لکه cisplatin يا thiotepa تطبيق کولای سی چي د سرطانی انصباب مخنيوی وکړی. همداراز د پريکارډ په داخل کي د ترای امسينولون تطبيق هم  د تکراری انصباب مخه د تشکل مخه نيسی او هم د سيستمک کورتيکو ستيروئيدونو د تطبيق اړتيا کموی. د کولچيسين دوامداره ( د ۳ تر ٦ مياشتو) تطبيق د درد ضدغير ستيروئيدی درملو يا اسپرين سره يوځای هم کولای سی چي د انصباب د تکرارتوليد مخه ډبه کړی.


د پريکارډ د وامداره کانسټرکټيو التهاب په صورت کي ښه ترينه درملنه Pericardiectomy تشکيلوی، له همدی کبله نو بايد د جراحی عمليات نه ډير وختی تر سره سی او يا هم بايد ډير ونه ځنډول سی چي فبروز تشکل وکړی، ځکه د ميوکارډ فبروز يا اتروفی پخپل وارسره خطر ناکه او د مړينو کچه لوړوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د څپرکي اړونده پوښتنې**

**۱- په لاندې تصويرونوکي کوم حالات مونډل کيږي، ويې ليکي:**

**الف:**



**ب:**



**۲- صحيح جمله په ص او غلطه په غ سره په نښه کړي.**

**۲- ۱ : په pericardial tamponade کي :**

الف: د شهيق په وخت سيستميک شرياني فشار کميږي .

ب: د شهيق په وخت د و داجي وريدونو فشار کميږي .

ج: د مخه تر دی چي هيموډيناميک بدلونونه را منځته سي بايد تر ۲۵۰ ملی ليتره زيات انصباب شتون ولري.

د: د صدر راډيوگرافي کله کله غير نورماله وي.

۲- ۲ : د پريکارډ د حاد التهاب اعراض او علايم عبارت دي له:

الف: د صدر درد چي د زړه احتشأ ته ورته والي لري .

ب: د friction rub شتون چي د شهيق په منځني برخه کي ښه اوريدل کيدای سي .

ج: په ECG کي د ST سگمنټ لوړ والي .

د: په سيروم کي د کرياتينين کيناز د سويه لوړوالي.

۲- ۳ : د پريکارډ په حاد التهاب اخته ۲۰ کلنه ښځه کي بايد لاندې ناروغی رد سی :

(c) ketabton.com: The Digital Library


الف: د Hodgkin's ناروغی .

ب: د SLE ناروغی .

ج: د Coxsackie A ویروسی انتان.

د: حاده روماتیزمی تبه.

۲- ۴ : د constrictive pericarditis وصفی اعراض عبارت دی له :

الف: شدیده سا لنډی .

ب: تکي کارډیا او د زړه د دریم آ واز لوړ اوریدل .

ج: د توبرکلوز پخوانی تاریخچه.

د: د صدر راډیوګرافی نورماله وی.

**۳- خالی ځایونه په مناسبو کلماتو ډک کړی؟**

**د وینه لرونکي انصباب د تشخیص لپاره (                    ) اړینه معاینه ده.**

**د پوسټ کارډیاک انجوری سندروم د (                    ) پرته کومی ځانګړی درملنی ته اړتیا نلری.**

**۴- درست ځواب په نښه کړی؟**


**- لاندي کوم یو د ځنډني التصاقي پریکاردایتیس د عواملو څخه نه دي**

الف - هستو پلازموزس          ب – سیستیمیک لوفوس اریتیماتوزیس

ج- سرطان                    د- اوستیو ارترایتس

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتم څپرکی

## شاک

| |
|---|
| شاک |
| سنکوپ |
| قلبی وعایی کولپس |
| د زړه دریدل |
| او د زړه ناڅا پی مړینه |

### د څپرکي مقد مه

په دی څپرکي کي د څلور عمده اختلاطاتو څخه چي لامل یی اکثراً د زړه ناروغی تشکیلوی یادونه کیږی.

یو د دی اختلاطاتو د جملی سنکوپ او قلبی وعایی کولپس دی. د دی سنکوپ شیوع په بیلو نفوسو کي بیله او د ۱۵ تر ۲۵ سلنی اټکل سویده، چي بیاهم زیاتی پیښی یی په هغو ناروغانوکي چي د زړه او ورسره مل نوری ستونزی ولری او هغه بوډاګان چي د پاملرنی په کورونو کي ساتل کیږی را پور ورکول سویدی. نوو پلټنو جوته کړیده چي په ارو پا د بیړنیو مرستو د څانګی د مراجعینو ۱ سلنه د سنکوپ پیښی تشکیلوی.څلور د خطر هغه عوامل چي د زړه د اررتیمیا او سنکوپ لپاره زمینه مساعدوی عبارت دی له،عمر چي تر ۴۵ کلنی زیات وی، د زړه د احتقانی عدم کفایی تاریخچه،د بطینی اررتیمیا تاریخچه او په ECG کي ( پرته له ST بدلونونوڅخه) د نورو غیرنورمالو بدلونو شتون.(۱۱)

د زړه په طبابت کي د ناڅاپی مړینی پیښی تر اوسه هم لویه ننګونه تشکیلوی،چي په دی څپرکي کي د زړه د دریدنی او ناڅاپی مړینی څخه په لنډ ډول یادونه سوی او د دی لپاره چي د زده کونکو لپاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library


عملی زده کړی ښه بیلګه وړاندی سوی وی د BLS اوALS دواړو څخه د الګوریتم په ډول یادونه سویده. شاک، په ځانګړی توګه کارډیوجنیک شاک، چي لامل یی د زړه ناروغی لکه اررېتمیاوی یا دزړه تامپوناد دی هم مفصله یادونه سویده.

## شاک

## Shock(Circulatory failure)

### تعریف

شاک یادانساجوهایپوپرفیوزن هغه وخت رامنځته کیږي چي داکسیجن انتقال (DO2)وټولوانساجوته په پوره اندازه ترسره نشی اویاداچي داکسیجن اندازه دانساجودمیتابولیکي اړتیا بس والي ونه کړي. (۷)

### اسباب اوډولونه

یوزیات شمیر میخانیکیتونه شتون لري چي دشاک اوانساجود هایپوپرفیوژن سبب کیزي.که څه هم دشاک اسباب دهغه دډول په پام کي نیولوسره بیل دي،ولي شاک کیداي شي ددوراني حجم دکمښت(Hypovolemic Shock)،درګونودزیاتي توسع(Distributive Shock)،دزړه ددهاني دابتدائي کمښت(Cardiogenic and Obstractive Shock)،اویاپه ګډډول رامنځته شي. (۱)

### هیپوولیمیک شاک Hypovolemic Shock

هرهغه حالت چي دويني ددوران دکمښت سبب وګرځي لکه خون ریزي(هیموراژیک شاک)چي معمولاً دترضیض،جراحي عملیات اودابهرشریان دانوریزم دڅیریدني له کبله منځته راځي.خونریزي کیداي شي ښکاره (هیماتیمیزس،میلانا)اویاپټه (داکتوپیک پرګنانسي څیریدنه)وي،او دبدن دمایعاتوضایع کیدل لکه شدیده سوځیدنه، اوډیهایدریشن هم هایپوولیمیک شاک منځته راوړي. (۱)

### ډستري بیوتیوشاک Distributive Shock

دشاک داډول هم معمولاً درګونوددنني حجم دارتباطي کمښت له کبله چي اکثراً دشریانویاوریدونودتوسع له کبله پيښيږي،منځته راځي.توپیرئي دادي چي دلته دوراني حجم ضایع شوي نوي نوځکه دوراني حجم نورمال وي.

ډستريبیوتیوشاک کیداي شي دفرط حساسیت له کبله رامنځته شي(Anaphylactic Shock)،اویاداچي دبکتیریاؤداندوتوکسینودآزادیدوله کبله منځته راشي(Septic Shock)،اویائي سبب ددماغ اونخاع وخیم ترضیضات وي(Neurogenic Shock)،اویاداچي دیوشمیر ځانګړو درملو (نایتریتونه ،دتریاکومشتقات، ادرینرجیک بلاک کونکي درمل)دخوړلواویاتسمم له کبله رامنځته شي. (۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**کارډیوجنیک اوابسترکتیوشاک Cardiogenic and Obstractive shock**

کارډيوجنيک شاک معمولاً دزړه ددهاني دکمښت له کبله (چي معمولاً ئي سبب دزړه ابتدائي آفات وي)منځته راځي.حال داچي يوشميرميخانيکي فشارونه چي دزړه داذيناتو، بطيناتواوغټورګونو پرډکيدواوخالي کيدوباندي اثراچوي (دويني په دوران کي مانعه يابندښت لکه دسږوغټي امبولي ګاني،دزړه تامپوناداو تنشن پنوموتورکس) ،دابسترکتيو شاک سبب ګرځي. (۱)

**پتوفزيالوژي**

په شاک کي اساسي ستونزه دحياتي غړوياانساجو د دوران کمښت دي. کله چي وغړوته دويني دوران کم شي نودايرويبک ميتابوليزم لپاره په پوره اندازه اکسيجن نه برابريږي،ځکه نوحجرات د غيرايروبيک ميتابوليزم څخه کاراخلی چي په پايله کي ئي په زياته پيمانه کاربن ډاي اکسايډ توليداو لکتيک اسيډ غونډيږي. دحجراتودندي خرابي اوکه شاک دوام وومومي نودحجراتو غيررجعي تخريب رامنځته اومړينه پيښيږي.

هغه برخه چي دهايپوپرفيوژن سره مخ ده پکښي دالتهابي اودويني دغوټه کيدو دواړه حالتونه وخيم کيږي. دهغواوعيوچي دهايپوکسيا سره مخ دي،داندوتيل حجرات په زياته پيمانه سپين کريوات فعاله کوي چي هغه پخپل وارسره داوعيواندوتيل حجراتوسره نښلي اوپه مستقيم ډول دحجراتودتخريب ورموادلکه(پروتيوليتيک انزايمونه اوالتهابي ميډياتورونه (سايتوکينونه، لوکوترينونه، تومورنکروتيزنګ فکتورونه) افرازوي.يوشميردډي موادوڅخه دحجراتوپرسطحي آخذوباندي نښلي اويوه ماده چي (nuclear factor kappa B) نوميږي آزاده اوداماده پخپل وارسره دسايتوکينونو افرازنورهم زيات اوهم يوه بله ماده چي نايتريک اکسايډ(NO) نوميږي(قوي مؤسع الوعائي ماده ده) آزاده وي.

په زياته پيمانه نايترس اکسايډ بلآ خره په يوه بله ماده چي Peroxynitrite نوميږی بدله اوهغه پخپل وارسره دمايتوکاندرياوودتخريب اودزياتي اندازي ATP دتوليدسبب ګرځي.

داندوتيل حجراتوتخريب اودزياتوميډياتورونوآزاديدل دوړواوعيوڅخه دمايعاتودوتلو(پرميبيليټي) توان زيات او مايعاتواوحتي کله کله دپلازماپروتينونوته اجازه ورکوي ترڅوداوعيوڅخه ووزي اوهم برعکس په ځانګړي توګه په هضمي سيستم کي دامعأ بکترياوي دلومن څخه داوعئي دجداردلاري تيري اودوران ته ننوزي اوسپسزيا ميتاستاتيکوانتاني محراقونوسبب ګرځي.

دويني فشاراکثراً دشاک په لمړيوکي ټيټ نه وي (ولي هغه وخت دويني فشارټيټيږي چي د شاک علاج ونشي) . او همداشان ټول هغه ناروغان چي دويني ټيټ فشارلري په شاک کي نوي.بياهم دويني دټيټ فشار اندازه اوپايلي دبدن په معاوضوي حالت اودشاک په سبب پوري تړاولري. (۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د بدن معاوضوي حالت Compensation

په آوایلوکي،کله چي وغړوته داکسیجن انتقال کم شي،نوانساج هغه دویني څخه دزیات اکسیجن په اخستلوسره معاوضه کوي. همدارازپه شرائینوکي داکسیجن کمې ادرینرجیک عکس العمل (دزیات سمپاتیک فعالیت له کبله دزړه دضربان زیاتیدل اودرګونوتنګوالي)راپاروي. په ابتدأکي درګوتنګیدل انتخابي وي اویوازي وزړه اودماغ ته وینه زیاتوي. په دوران کي بیتآ ادرنرجیک امین(اپي نفرین،نوراپي نفرین)پخپل وارسره دزړه دپمپ قوه زیاته،دفوق الکلیوي غدواتوڅخه دکورتیکوستیروئیدونو،دپښتورګوڅخه درینین،اودکبدڅخه دګلوکوزافراززیاتوي. (۱)

## اعراض اوعلایم

له دي کبله چي دشاک اسباب بیل بیل ډولونه لري،نوځکه ئي کلینیکي لوحه هم بیله اودزیاتوغړواوسیستمونواعراض اوعلایم پکښي شتون لري.

## دشاک اعراض اوعلایم پر۲ډوله دي:

**۱- عمومي اعراض اوعلایم(چي په ټولوډولونوکي لیدل کیږي).**

**۲- ځانګړي اعراض اوعلایم (چي دشاک په ډول اړه پیداکوي).**

په عمومي ډول ناآرامي،مغشوشیت اوخوبجن توب ئي عمده اعراض تشکیلوي. اطراف خاسف،ساړه،لامده اواکثراً سیانوتیک وي چي سیانوزدغوږوپه نرمیو،پوزه اونوکانوکي ښکاره وي.دشعریه عروقودډکیدووخت اوږد(نورمال=۲ثانئي ) اوپرته له دسترېبیوتیوشاک څخه په نوروټولوډولونوکي پوستکي خړاولوندوي.خولي کیداي شي شتون ولري.

محیطي نبض کمزوري اوچټک وي چي اکثراً یوازي فخذي اویاثباتي نبض جس کیداي شي.دتنفس تعدادکیداي شي زیات ازیاهایپرونټیلیشن شتون ولري.دویني فشارټیټ(سیستولیک فشارتر۹۰ملي مترسیماب کم)اوکله کله اندازه کیداي نشي. بولي هم کمي وي.

په دستریبیوتیوشاک کي هم ورته اعراض اوعلایم شتون لري ولي پوستکي توداوسوروي.نبض قوي ولي کمزوري نه وي.

په سپتیک شاک کي تبه چي لړزه هم ورسره مل وي شتون لري.

په انافیلکتیک شاک یوشمیراخته ناروغانوپربدن لړه مکي اوپه سږوکي خږه هاري وي.

یوشمیرنوراعراض لکه دسیني دردونه،سالنډي،اودخیټي دردونه کیداي شي داصلي سبب اودغړودعدم کفایه له کبله شتون ولري. (۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## تشخیص

۱- اعراض اوعلایم.

۲- متممه معاینات.

دتشخیص لپاره عمده معیارونه:

۱- دشعورمختل کیدل.

۲- تکي کارډیا(تر۱۰۰ځلي په دقیقه کي زیات).

۳- تکي پنیا(تر۲۲ځلي په دقیقه کي زیات)

٤- هایپوټنشن (سیستولیک تر۹۰ملي مترسیماب کم اویاتراصلي فشارد۳۰ملي مترسیماب کم).

٥- دبولوداندازي کمښت(په ساعت کي تر۰،۵ملي لیتره کم).

## لابراتواري معاینات

۱- دلکتیک اسیډ زیاتوالي(>3mmol/Lit).

۲- دالقلیت کمښت.

۳- PaCo2 >32 mm Hg

## متممه معاینات

۱- CT- Scan, US,ECG,CXR

۲- Blood and Urine Culture

## د شاک د سبب تشخیص

صدري دردونه اوډیسپنیا(دمیوکارډاحتشاآ،دابهرشریان خیریدنه ،دسږوامبولي).

صدري دردونه اوډیسپنیا+سیستولیک مرمر(میترال عدم کفایه،دبطیناتودپردي خیریدنه).

صدري دردونه اوډیسپنیا+ډیاستولیک مرمر(ابهر عدم کفایه).

دغاړي دوریدونوپاړسوب،دزړه خف آوازونه،نبض پاراډوکس (تامپونادقلبي).

دخیټي اوصدردردونه اوحساسیت(دپانکریاتیت،پریتونیت،دابهرخیریدنه اواکتوپیک پریګنانسي).

تبه،لړزه اوموضعي انتان (سپتیک شاک).

## د رملنه

عمده هدف دهایپوپرفیوژن اصلاح اوانساجوته دپوره اندازي اکسیجن رسول دي.

په شاک اخته ناروغانوکې باید دتنفس تعداد اندازه،دویني دګازاتواندازه تعینه اودصدرراډیوګرافي ترسره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دي ناروغانوکي ترهرڅه لمړی بایددزړه دهانه او دويني فشار په نورمال حد کې وساتل شي،چي ددي کارلپاره باید ناروغ ترهرڅه دمخه لاندي اهتمامات ترسره شي.

**١- مايعات**

چي معمولاً دويني يادويني دمشتقاتو،کلوئيدي يا کريستالوئيد ډوله مايعاتوڅخه کاراخستل کيږي.

**٢- د قلبي وعائي سيستم د دندوبرقرارول**

چې د دي کارلپاره معمولاً ديوشميردرملولکه Ionotropics and/or vasopressor يا Vasodilators اويا Devices وتطبيق ته اړتياليدل کيږي.

**په شاک اخته ټولوناروغانوکې باید لاندي ټکي په پام کې ونيول شي:**

- د پوستکي رنګ.
- د ناروغ شعوري حالت.
- د شعريه عروقودخالي کيدووخت.
- د اطرافودحرارت درجه.
- د بولواندازه.
- د ويني فشار.
- د زړه ګراف.
- د مرکزي وريد د فشار اندازه کول.

**په دي ناروغانوکې باید لاندي لابراتواري معاينات ترسره شي:**

**په ټولو ناروغانوکې باید:**

- هيموګلوبين اندازه شي.
- د ويني سپين کريوات وکتل شي.
- د ويني ګلوکوز،دمويه صفيحات،اودويني دعلقه کيدووخت اندازه شي.
- د ناروغ يوريا،کرياتينين اواليکتروليتونه باید وکتل شي.
- د کبد بيوشيميک معاينات ترسره شي.
- د ويني د ګازاتو اندازه کول.
- په وينه کې داسيډ اوبيزد انداز تعينول.
- د زړه ١٢ ليډه ګراف باید واخستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**په ځانګړوناروغانوکې باید:**

- د ويني، بلغمو، بولو،زوواودشوکي نخاع دمايع کلچرترسره.
- په وينه کې باید دلکتيت اندازه وکتل شي.

**د شاک دعامل په پام کي نيولوسره باید درملنه ترسره شي:**

- خونريزي کنترول شي.
- د انتان تداوي (انتي بيوتيک)، تر سره اومنبع ئي (کتيترواېستل شي،دجراحي عملئي په ذريعه دآبسه تخليه اوخيريدنه،اويا دبطن خلاصول) په ګوته اوله منځه يووړل شي.

دناروغۍ دعامل په پام کې نيولوسره لاندني متممه معاينات ترسره کيداي شي.

- د ناروغ فزيکي معاينه.
- د صدراوخيټې راډيوګرافي.
- د التراسونډ معاينه او CT-Scan.

**اختلاطات که شتون ولري باید تداوي شي**.


- د ويني دعلقه کيدوستونزه Coagolopathyباید تداوي شي.
- د پښتورګوعدم کفايه تداوي شي.
- اسيدوزس اصلاح.
- ناروغ ته باید ددردضددرمل توصيه شي (دوريد دلاري په کمه اندازه دافيات مشتقات). (۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سنکوپ Syncope

### تعریف




په ګذری ډول د شعور ضایع کیدل چي د دریدلو توان له منځه ولاړسی د سنکوپ په نوم یادیږی، چي عمده علت یی د قلبی وعایی میخانیکیتونو په ذ ریعه د د ماغ ددوران کموالي دی. ناروغی ډیره عامه ده چي تقریباً د بیړنیو پیښو د څانګی د ناروغانود ویزیټ د ۱ تر ۲ سلنه او د روغتونود بستر د ناروغانو ٦ سلنه پیښی تشکیلوی. (۵)


که څه علت یی اکثراً واضح نه وی، ځکه په پلټنه کي لمړی باید هڅه وشی چي سنکوپ د شعور د ضایع کیدو د نورو اسبابو په ځانګړی توګه اپیلپسی څخه توپیر شی او په دوهم قدم کي باید هڅه وشی تر څو هغه ناروغان چي د زیات خطر سره مخ دی په ګوته شی.

### سنکوپ کیدای شی په دریو کټه ګوریو وویشل شی:

۱- عصبی

۲- قلبی

۳- نیورولوژیک یا سیکولوژیک




عمده علت یی وازو و ګل شکل تشکیلوی، چي ښه انذار لری، حا ل داچي د سینکوپ قلبی وعایی اسباب خطرناکه او په یوه کال کي د مړینی اندازه د ۱۸ څخه تر ۳۳ سلنی ته رسیږی.هغه ناروغان چي قلبی ستونزه ونلری انذار یی ښه ولی کیدای شی څو ځلی د ناروغی حمله عود وکړی.

### اسباب

۱- جدول : د سینکوپ اسباب (۵)

**1. Neurally mediated**

(a) *Reflex-mediated:* Vasovagal or neurocardiogenic syncope, Carotid sinus hypersensitivity
Situational ( micturation, defication, cough and swallowing).

(c) ketabton.com: The Digital Library


(b) *Autonomic dysfunction*

Pure autonomic failure (Multiple system atrophy (parkinsonian)

Postural orthostatic tachycardia syndrome

Secondary autonomic failure

**2. Cardiac syncope**

(a) *Bradycardia(*Atrioventricular block, Sinoatrial disease).

(b) *Tachycardia(*Ventricular arrhythmia, previous myocardial infarction, Cardiomyopathy, Long-QT syndrome, Supraventricular arrhythmia).

(c) *Structural cardiovascular disease(*Aortic stenosis, Hypertrophic cardiomyopathy, Atrial myxoma or thrombus, Pulmonary embolism).

**3. Neurological or psychiatric**

(a) *Neurological(*Migraine, Subclavian steal, Vertebrobasilar disease).

(b) *Psychiatric(*Anxiety, depression, Hyperventilation).

---

کله چي د ناروغۍ سبب په ګوته شو، نو په تر ۵۰ سلنه زياتو ناروغانوکي تشخيص يې د سريري تظاهراتو له رويه لکه تاريخچه، فزيکي معاينات،اوECG په ذريعه اينبودل کيږي. تاريخچه ډېر ارزښت لرې ځکه کولای شو د تاريخچي له رويه و پيژنو چي د حملې سبب وازو وګل منشه لرې اوياداچي اپيلپسې يې منشه ده.په زياتوپيښو کي ليدل شويده چي زيات ناروغان چي د اپيلپسې په لوحه يې مراجعه کړيده، وروسته پيژندل شويدي چي په سينکوپ اخته وه اويا د سينکوپ د حملې عود پر راغلې وو. يو شمير ددې ناروغانوڅخه حتی په وژونکي قلبې اريتميا اخته وی چي و دقيقې درملنې ته اړتيا لرې. (۵)

۸- ۲ جدول :هغه درمل چي کيدای شي د postural hypotension سبب وګرځي ذکرشويدي.(۵)

## ليوودوپا

**تاريخچه:** د سنکوپ په ارزيابی کي د کلينيکي تاريخچي ارزښت ډېرزيات او که امکان وی بايد د هغه چا څخه چي هلته حاضروی هم پوښتنه وشی.

(c) ketabton.com: The Digital Library









مدررات

د الفا ادرينرجيک آ خذو نهيه کونکي

دACE نهيه کونکي درمل

د انجيوتنسينII آ خذو نهيه کونکي

د کلشيم د چينل بلاک کونکي

نايتريتونه


د افيات مشتقات

ايتانول الکهول

د خفګان ضد ترای سيکليک درمل

بروموکريپتين

فينوتيازين




## تشد يدونکي فکتورونه

وازووګل سنکوپ معمولاً د لويدلو د حالت څخه عبارت دی،چي معمولاً د يوشمير حالاتو لکه زيات درېدل،ګرمی او لوږه سره شدت مومی.همداراز حمله کيدای شی د ناستی پروخت په ځانګړی توګه د موټر چلولو په وخت رامنځته شی.په حساسو خلګو کي يوشمير ځانګړی تنبهات کيدای شی د نيوروکارډيوجنيک سنکوپ د حملی سبب وګرځی.

بطيني اريتميا، په ځانګړی توګه Long-QT syndrome کيدايشی د يوشمير حالاتو لکه غالمغال،يا د ساعت زنګ په ذريعه تنبه شی. جهدی سينکوپ معمولاً د ابهر شريان د تضيق او يا هايپر تروفيک کارډيو ميو پاتی اعراض تشکيلوی.


(c) ketabton.com: The Digital Library





## د حملی تر مخه اعراض اوعلایم

خولی کیدل او یا دګرمی یا زړه بدوالی احساس کیدای شی د وازو و ګل سنکوپ په تعقیب را منځته شی. قلبی اریتمیا چي کیدای شی د زړه د تکان ، صدري درد،او یا د نفس تنګی سبب و ګرځی. برډی کارډیا کیدای شی پرته له کومی خبری نښی د شعو ر د ضایع کیدو سبب شی. د سینو اتریل عقداتو خرابوالی د سنکوپ پر حملی برسیره کیدای شی دیو شمیرنورو اعراضو لکه ګنګسیت اویا سرګرځیدنی سبب شی.




په سیکاتریک سنکوپ کي یو شمیر زیات اعراض لکه ژرژر سا ایستل، دګوتوپه سرو یا شونډانوکي د کرختی احساس،او صدري دردونه کیدای شی د سنکوپ تر حملی مخکي شتون ولری.

## د سنکوپ حمله

په سنکوپ کي د شعورد ضایع کیدو دوام ډیر کم او تر خو دقیقو وروسته ناروغ روغوالی مومی. که د شعور ضایعه د وامداره شی نوبیا پر نورناروغیو دلالت کوی،چي باید په پام کي و نیول شی.

د حملی پر وخت اکثراً ناروغ لویږی، ولی د ادرار وتل چي د اپیلپسی لپاره وصفی دی په غیر معمول ډول کیدای شی په سنکوپ کي هم ولیدل شی. د ناروغ لخوا د حملی بیانول زیات ارزښت لری،چي په کلاسیک ډول هغه ناروغان چي په قلبی اریتمیا اخته وی معمولاً د یو داسی حملی څخه چي په نا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاپي توګه په شدیده برډی کارډیا باندی پیلیږی،دناروغ رنګ سپین اوښتی وی او د ګرمی احساس کوی حکایت کوی چي دا ډول حمله د Stokes Adams په نوم یادیږی.

که د سنکوپ منشه قلبی اریتمیاوی نوپه ناروغ کي سیانوز کیدای شی شتون ولری. د حملی په وخت د اختلاجاتو شتون زیات د اپیلپسی و خواته فکر کیږی، ولی کیدایشی په سنکوپ کي هم شتون ولری.







## د روغوالي د وره

د سنکوپ تر حملی سمدستی وروسته ناروغ کاملاً روغ او د ماغی فعالیت برقراره کیږی.یوازی په وازووګل سنکوپ کي تر حملی وروسته کیدای شی د زیات وخت لپاره ناروغ د زړه بدوالی اوکانګو خخه شکایت وکړی.

کورنی تاریخچه: د سنکوپ یوشمیر ځانګړی حالات شتون لری چي پیکنبي فامیلی تاریخچه ارزښت لری.د بیلګی په توګه د Long-QT syndrome اویا hypertrophic cardiomyopathy. حالت.

## معاینات

په معایناتوکي باید زیاته پاملرنه د قلبی وعایی ناروغیو خواته واړول شی چي په دی منظور لاندی معاینات اړین دی.

### د زړه ګراف Electrocardiogram

په سنکوپ اخته ټولو ناروغانوته باید ECG ترسره شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ناروغ د وامداره یا ګرځنده څارنه Ambulatory monitoring
له دی کبله چي د حملی په وخت قلبی نبض نبانی په سختی سره تر لاسه کیږی، ځکه نوکله چي ناروغ د شعور په حالت کي وی باید معاینات یی تر سره او په څوځوځلی تکرارشی.

**د Tilt-testing معاینه**

په هغو ناروغانوکي چي د سنکوپ د حملی سبب یی وازووګل وی اړینه اوښه پایله لری.
پر پورته معایناتوبرسیره کیدای شی د echocardiogram او EEG څخه هم کار واخستل شی.

**د رملنه**

په نیورو کاردیوجنیک شکل اخته ناروغان ځانګړی درملنی ته اړتیا نلری، او یوازی باید ورته ډاډ ګیرنه ورکړل شی او هم تشدیدونکي عوامل یی له منځه یووړل شی. ولی په وازو وګل سنکوپ اخته ناروغان چي برډی کارډیا لری او یا بیل بیل ډول اریتمیاوی ولری باید درملنه ورته ترسره شی. په ۳/۱ ناروغانوکي د سنکوپ سبب نا معلومه وی،نو په دی ناروغانوکي چي کومه قلبی عارضه ونلری ځانګړی درملنی ته اړتیا نه لیدل کیږی.(۱)

## د زړه د رید نه Cardiac Arrest

د زړه پر ناڅاپي او پوره دریدنه باندی دلالت کوی. په دی ناروغانو نبض شتون نلری،ناروغ شعور دلاسه ورکوی، او تنفس هم په بیړنی ډول قطع کیږی.که دی ناروغانوته په بیړنی ډول مؤ ثره درملنه ونه رسیږی نو مری. د زړه دریدل کیدلای شی د بطینی فبریلیشن، د بطیناتو بی نبضه تکي کارډیا، اسیستولی او یا د برقی سیالو د خرابوالی له سببه را منځته شویوی. (۵)

**اسباب**

بطینی فبریلیشن: د زړه د دریدنی او ناڅاپی مړینی عمده ولی د علاج وړ سبب تشکیلوی. کیدای شی سبب یی د میوکارډ احتشا،اسکیمیا اویا د برقی جریان خرابوالی وی.د زړه د ساختمانی ناروغیو، د الکترولیتونوتشوش (هایپو کلیمیا) او نا مناسبه درملنه کولای شی بطینی فبریلیشن وخیم کړی.
بطینی اسیستولی: هغه وخت را منځته کیږی چي بطینات برقی فعالیت ونلری او عمده سبب یی کیدای شی د برقی سیالو تولیدونکو حجراتوخرابوالی او یا د شدیدی اسکیمیا له کبله د میو کارډ د عضلی د زیاتی برخی خرابوالی وی.
د الکترولیکي اومیخانیکي فعالیتونوخرابوالی:هغه وخت را منځته کیږی چي پر نورمال الکترولیکي جریان برسیره مؤثره قلبی دهانه شتون و نلری.کیدای شی سبب یی یوشمیر درملنی وړ حالات لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هایپو ولیمیا او یا تنشن پنوموتورکس وی، ولی اکثر یی سبب د زړه د عضلی څیریدنه او یا کتلوی امبولی تشکیلوی، چي په دی صورت کي انذار خراب وی.

**د رملنه**

درملنه یی معمولاً کمکي وی او دناروغ د ژوندی پاتی کیدو لپاره یو شمیر اړینو اهتماماتو لکه Basic





**Fig. 3.40 Algorithm for adult basic life support.**


Life Support (BLS) او یا (Advanced Life Support ALS) ته اړتیا لیدل کیږی.

په دی ناروغانوکي پرهرڅه برسیره باید بیړنی معاینه ترسره او هوایی لاره یی خلاصه، تنفس یی برقراره او د وینی دوران یی و ساتل شی. په کي په ترتیب سره باید لاندی کړنی ترسره شی. (۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (ALS) Advanced Life Support څخه مقصد په هغه ناروغانوکي چي سبب يي قلبي اريتمياوی ،د ډيفبريليشن په ذ ريعه د قلبی نورمال دوران او قلبی د هانی برقرارول دی . معمولاً پر (BLS)برسيره ترسره کيږی تر څو ناروغ د مړينی څخه و ژغورل شی. (۵)



(c) ketabton.com: The Digital Library



# نا څاپي مړينه

# Sudden Death

هغه حالت ته ویل کیږی چي یو روغ کس ناڅاپه ناروغه او د څو دقیقو یا ساعتونو په لړ کي و مری. په تقریباُ ۳۰ سلنه ناروغانوکي یی سبب دزړه نه پرته نوری ناروغۍ لکه دماغی خونریزی او یا د ابهر شریان څیریدنه تشکیلوی، ولی په زیاتو پیښو کي سبب دزړه ناروغی په ځانگړی توگه د اکلیلی شراینو ناروغی ، د میوکارډ احتشا ، دزړه عدم کفایه او یا اریتمیا تشکیلوی. په لړ شمیر ناروغانوکي د ناڅاپی مړینی واضح دلیل نه تر لاسه کیږی، ولی بیایی هم عمده علت قلبی اریتمیابلل کیږی.هغه ناروغان چي تر متواتری ECGمونیتورنگ لاندی مری په لمړۍ درجه یی علت دبطیناتو فبریلیشن تشکیلوی، حال داچي په نوروزیاتو قلبی اریتمیاوو کي تر BLSیا ALSوروسته ناروغ نورمال قلبی فعالیت پیداکوی. د زړه په دریدنه اخته کوم ناروغان چي دروغتون څخه د باندی څارل کیږی، باید جدی څارنه یی وشی، ځکه هغه ناروغان چي د میوکارډ احتشا ونلری په دوی کي د زړه د د ریدنی د بیاراگرځیدلو چانس زیات اوباید د ځانگړی اریتمیا ضد درملنی څخه گټه واخلی. په هغو ناروغانوکي چي د چپه بطین کم فعالیت لری، باید د ورځی د ۲۰۰ تر ۳۰۰ ملی گرامه امیودارون amiodaroneورکول شی تر څو د بیا راگرځیدنی مخه و نیسی. د هغه ناروغان خپلوان چي ناڅاپی مړ شویوی هم په زیاته اندیښنه کي وی چي باید هغوی هم معاینه کړل شی په ځانگړی توگه د یو شمیر کورنیو ناروغیو له پلوه لکه hypertrophic cardiomyopathy، Marfan's syndromeاو یا hyperlipidemia.

که د ناروغ په کورنی کي څوک دماشوم توب په دوره اوځوانی کي د ناڅاپی مړ شویوی، او که په نوروکي د QT intervaleاوږدوالی ولیدل شی باید ورته β–Blocker توصیه شی چي په انداروکي ښه والی راوستلای شی. (۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د څپرکي لنډيز

شاک، چي يو عمده ډول يي کارډيوجنيک شاک دی، د انساجو د هايپو پرفيوژن، د ويني د فشار په ټيټوالی او د زړه د د هانی په کموالی سره وصفی کيږی. که کارډ يوجنيک شاک د زړه تراحتشأ وروسته را منځته سويوی نوکيدای سی چي ۴۰ سلنه د چپه بطين مصابه سويوی. په هغو څيړنو کي چي تر سره سويدی جوته سويده چي د زړه تر احتشأ وروسته د کارډيوجنيک شاک وقوعات د ۴،۲ څخه تر ۷،۲ پوری اټکل سويدی. د زړه په حاده احتشأ اخته ناروغانوکي زياته مړينه د شاک له کبله منځته راځی.(۱۱)

سينکوپ هم هغه حالت دی چي زياتی پيښی يی د زړه د ناروغيو له کبله منځته راځی او د تشخيص لپاره يی بايد تر هرڅه لمړی ابتدايی معا ينات لکه د ناروغ تاريخچه، فزيکي معاينات ( د اورتو ستاتيک فشار تعينول) او د زړه ګراف و اخستل سی. نوی څيړنو جوته کړيده چي د سينکوپ عمده سبب يعنی ٥٦ سلنه پيښی عصبی او اورتوستاتيک حالات تشکيلوی، په دوهمه درجه کي يی سبب د زړه ناروغی دی چي ۱۴ سلنه، عضلی عصبی حالات ۹ سلنه او هغه چي سبب يی نه دی معلوم ۲۰ سلنه پيښی تشکيلوی.

په غربی هيوادونوکي اوس هم د مړينو عمده علت د زړه نا څاپی مړينی تشکيلوی، چي عمده سبب يی بيا هم بطينی تکي ا رريتمياوی، او فبريليشن تشکيلوی. ځکه نو په وخت تشخيص او درملنه يی د ناڅاپی مړينو مخه نيسی.

هغه اساسی او کلينيکي څيړنو چي په دی ۲۰ کلونوکي تر سره سويدی د زړه د ناڅاپی مړينو په اړوند زيات معلومات ترلاسه سويدی. د زړه د ناڅاپی مړينو څخه د مخنيوی لمړی قدم د زړه د ناروغيو او د هغو د خطرونو په اړوند عامه پوهاوی دی چي بايد د ټولنی ټولو وګړو ته تر سره سی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ځپرکي پوښتنې

**د رسته جمله په ص او غلطه په غ سره په نښه کړی.**

**١ : د سینکوپ په اړوند :**

الف: د مخ سوروالی چي د تگیارریتمیا گمان پرکیږی.

ب: که ناڅاپی پیښ سی نو پر vaso vagal حملی د لالت کوی.

ج: که د تمرین په وخت کي پیښ سی نود میترال وسام پر عدم کفایه دلالت کوی.

د: په بوډاگانوکي د لویدنی عمده سبب تشکیلوی.

**٢ : د قلبی – تنفسی احیأ مجد د په وخت کي :**

الف: د زړه ا سیستولی یی عمده موند نه ده .

ب: که ECG نورماله وی نو پرعمیقه ها یپو ولیمیا دلالت کوی .

ج: که cardioversion کارورنکړی، نوکیدای سی ناروغ ته د زړه په داخل کي ادرینالین زرق سی.

د: د صدر د compression او ventilation اندازه باید 5:1 وی.

**٣ سوال - هغه درمل چي کیدای شی د postural hypotension سبب وگرځی په نښه کړی؟**

الف: Methotraxete　　ب: NSAIDs

ج: Nitrates　　د: Diuretics

**۴ سوال – د Neurally mediated سینکوپ لامل عبارت دی له:**

الف: Vasovagal or neurocardiogenic syncope　　ب: Migrain

ج: Sinoatrial disease　　د: Hyperventilation

**۵سوال: دشاک دتشخیص لپاره کوم معیارونه اړین دي،وئي لیکي؟**

**٦ سوال: د Stokes Adams حمله څه ته وایی، شرحه یی کړی؟**

**٧ سوال: - کاردیو جنیک شاک تعریف اواسباب ئي سره دمثاله ولیکي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نهم څپرکی

## د زړه ناروغی اوامیدواری ،د زړه ناروغی او جراحی

| |
|---|
| د زړه ناروغی اوامیدواری |
| د زړه ناروغی او جراحی |
| د اکلیلی شراینو ناروغی او جراحی |

### د څپرکي مقدمه

د امید واری په دوران کي په فیزیولوژیک ډول یوشمیر بدلونونه ، د دی لپاره چي رحم او جنین ته په پوره اندازه وینه ورسیږی، را منځته کیږی.نوموړی بدلونونه د نورمال زړه لپاره کومه ستونزه نلری، ولی په هغه صورت کي چي زړه ناروغه وی نو ورته ستونزه پیداکولای سی. د زړه ناروغی د ۰،۵ څخه تر ۱ سلنه په ټولو امید واریو کي را منځته چي د ۱۰ تر ۱۵ سلنه مړینه را منځته کوی. د روماتیزمی ناروغیو د وقایوی تدابیرو په عاملو سره په غربی هیوادونوکي د زړه د کسبی ناروغیو پیښی کمی او ۰،۲ سلنی ته را ټیټی سویدی. حال داچي د زړه د ولادی ناروغیو پیښی، د دی لپاره چي د ماشومانو په جراحی درملنه کي پرمختګ را غلیدی، مخ په زیاتیدو دی.

په غربی هیوادونوکي د لمړنی امیدواری څنډ، د مور دعمر زیاتوالی او په سګریټو د ښځو روږدوالی د اکلیلی شراینو په ناروغیو د اخته کیدو چانس ز یاتوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د زړه ناروغی او امیدواری
## Cardiac disease and pregnancy

### د وینی لوړ فشار او امیدواری

د وینی لوړ فشار، چي د امید واری د غیر نسایي اختلاطو یو عمده اختلاط تشکیلوی، په ۱۰ سلنه امیدوارو میندو کي منځته راځی. په امید واری کي هغه وخت د وینی د لوړ فشار تشخیص ایښودل کیږی چي د وینی فشار تر ۹۰/۱۴۰ ملی متر سیماب یا زیات په ۲ پرله پسی معایناتو کي وموندل سی.

په امید واری کي د وینی لوړ فشار په لاندی برخو ویشل کیږی

۱- پری اکلامپسیا preeclampsia

۲- د وینی مزمن لوړ فشار

۳- د وینی مزمن لوړ فشار او preeclampsia

۴- د امیدواری د وینی لوړ فشار یا هغه لوړ فشار چي پروتین یوریا ورسره مل نه وی

تقریباً ۳/۱ پیښبی یی د مزمن ها یپرټنشن او ۳/۲ پیښبی یی د preeclampsia ( چي د وینی فشار د امید واری په ۲۰ اونی کي ۹۰/۱۴۰ یا زیات، پروتین یوریا[ تر ۳۰۰ ملی گرامه په ۲۴ ساعته کي زیات] او پتولوژیکه اذیما سره وصفی کیږی) په ذریعه منځته راځی. اکثراً د preeclampsia سره دمیرگی حملات او HELLP سندروم هم ملگری کیږی چي ورته eclampsia ویل کیږی. preeclampsia په زیاته اندازه د مور او ماشوم د مړینی سبب کیږی. په هغو ښځوکي چي عمر یی تر ۳۵ کلنی زیات او امیدواره کیږی د وینی د مزمن لوړ فشار پیښبی زیاتوالی مومی. د هغو خیړنو څخه چي تر اوسه تر سویدی بیاهم α-methyldopa انتخابی درمل تشکیلوی، ولی دpreeclampsia په شتون کي باید ناروغ ته hydralazine او د بستر استراحت هم توصیه سی. همداراز د magnesium sulfate تطبیق مؤثر او د seizures څخه مخنیوی کوی. (٦)

---

HELLP= (hemolysis, elevated liver enzymes, and low platelets)

(c) ketabton.com: The Digital Library


۹- ۲ جد ول: په امید وارۍ کې د وینې د لوړ فشار ضد درملو استعمال (٦)

| درمل | په امید وارۍ کې استعمال | ملاحظات |
|---|---|---|
| CENTRAL SYMPATHOLYTIC مرکزي سیمپاتو لیتیک درمل | | |
| Methyldopaمتیل دوپا | ++++ | په زیاته اندازه استعمالیږي، او په امید وارۍ او شیدي ورکولو کې محفوظ ترین درمل شمیرل کیږي |
| Clonidineکلو نیدین | +++ | د امید وارۍ د مزمن فشار په شتون کې مؤثریت نلري. |
| α- AND β-BLOCKERS د الفا او بیټا بلاک کونکي درمل | | |
| Labetalolلبیتا لول | ++++ | زیاتو څیړنو جوته کړیده چې خطر نلري او په شیدو کې هم په لږه اندازه وزي |
| β-BLOCKERS بیټا بلاکر درمل | | |
| اتینولول، میتوپرولول، بنډالول، پروپرانولول Atenolol, metoprolol, pindolol, propranolol | +++ | د امیدواری په دریم ترای مستر کې محفوظه درمل ګڼل کیږي،او د امید وارۍ په لمړي او دوهم سمستر کې باید توصیه نسي |
| DIRECT ARTERIAL VASODILATOR د شراینو مستقیم توسع ورکونکي | | |
| Hydralazineهید را لازین | ++++ | په امیدوارۍ کې په زیاته اندازه استعمالیږي |
| CALCIUM-CHANNEL BLOCKERS د کلشیم د چینل بلاک کونکي درمل | | |
| نیفیدیپین، ډلتیازم او وراپامیل Nifedipine, diltiazem, verapamil | +++ | د امیدواری په دریم ترای مستر کې محفوظه درمل ګڼل کیږي |
| DIURETICS مد ررات | | |
| هایدروکلور تیازید، کلور تالیدون او فروس امید Hydrochlorothiazide, chlorthalidone, furosemide | ++ | په امید وارۍ کې استعمال ضد او نقیص استطباب لري، ولی اکثراً نه ورکول کیږي، او که یی ناروغ د امید وارۍ تر مخه اخلی هم یی باید قطع کړي. کیدای سی شید ی هم کمی کړي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د زړه اسکیمیا اوامید واری

### اپید یمولوژی

د امید واری په دوران کي د زړه د ناروغیو شیوع کمه او یوازی ۱ سلنه اټکل سویده. په غربی نړی کي په زیاته پیمانه د زړه ولادی او روماتیزمی ناروغی د امید واری په دوران کي لیدل کیږی. (٦)

### پتوبیولوژی

د امید واری په دوران کي د زړه د هانه د ۳۰ تر ۵۰ سلنه لوړیږی، چي زیاته اندازه یی د امیدواری په ۲۷ اونی کي موندل کیږی، چي عمده علت یی د زړه د دهانی او ستروک والیم زیاتوالی، او د سیستمیک اوعیوی مقاومت کموالی تشکیلوی. د امید واری په دوران کي د وینی حجم زیاتوالی مومی، په داسی حال کي چي د پلاسما اندازه تر سرو کریواتو زیاته او یوه فیزیولوژیکه کمخونی را منځته کیږی. که ناروغ د زړه د ناروغیو پخوانی تاریخچه ولری نو د امید واری په دوران کي ښه لاربنود کیدای سی. هغه میندی چي د NYHA (صفحه ۸۱) تصنیف بندی سره سم دClass I او یا Class II ناروغی ولری، کولای سی چي امید واری ته دوام ورکړی. د زیات خطر سره هغه میندی مواجه دی چي ریوی هیپر ټنشن او یا Eisenmenger's سندروم لری. چي په دی ناروغانوکي د مړینو کچه ډیره لوړه او حتی ۵۰ سلنی ته رسیږی. (٦)

### اعراض او علایم

په نورما له امید واری کي کیدای سی د زړه د ناروغیو مشابه اعراض او علایم ولیدل سی، تر نیمی زیاتی میندی د سالنډی څخه شکایت کوی. د امید واری په دوران کي د زړه د ناروغیو فزیکي علایم هم ښکاره وی. د ستروک والیم زیاتوالی د یوسیستولیک مرمر د تولید سبب کیږی او هم په زیاتو ښځو کي د زړه دریم آ واز S3 اوریدل کیدای سی. د امید واری په دوران کي وراسته طرف ته دزړه بیځایه کیدل کیدای سی په ECG کي بدلون راولی او د T موجی بدلون وموندل سی. (٦)

### د رملنه

له دی کبله چي امید واری یو proarrhythmic حالت دی، ځکه نو په دی دوران کي اذینی او بطینی د واړه مخفی محراقونه فعاله کیږی. هغه ښځی چي د زړه پخوانی ناروغی ونلری پیکښبي اررېتمیاوی سلیم سیر لری او ښه کنترولیدای سی. درمل ته یوازی هغه وخت اړتیا لیدل کیږی چي ناروغ اعراض او علایم تحمل نه کړای سی، او یا داچي د مور یا ماشوم لپاره ژوند تهد یدونکي وی. د امید واری په دوران کي زیاتی اررېتمیاوی در ملنی ته اړتیا نلری. د اررېتمیا ضد زیات درمل د امید واری په دوران

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي مضاد استطباب نلري، اوحتی د cardioversion تطبیق هم کوم خطر نلري. د AVعقدی د اررېتمیا د کنترول په منظور Adenosine تطبیق کیدای سی. د اررېتمیا ضد اکثره class I درمل محفوظ او بیخطره دی، او که ډیجوکسین استعمالیږی باید اندازه یی زیاته سی، ځکه د امید واری په دوران کي د پروتینو سره د ډیجوکسین نښلیدل کم او هم یی د ادرار دلاری اطراح زیاتوالی مومی. Amiodarone د امید واری په دوران کي باید توصیه نسی.

د امید واری په دوران کي د زړه د اسکیمیکو ناروغیو کچه کمه ( ۱/۱۰۰۰۰) ده، او زیاتی پیښی یی په هغو ښځو کي چي په کوکاینو روږدی وی او یا پر مخ تللی اتیرو سکلیروزس ولری لیدل کیدای سی.

د Peripartum cardiomyopathy اصطلاح هغه وخت استعمالیږی چي ناروغ ته په دریم ترای مستر کي cardiomyopathy پیدا او تر ولادت ٦ میاشتی وروسته هم دوام ومومی. پیښی یی ۱/۴۰۰۰ اټکل سویدی. د خطر عوامل یی چاغوالی، افریقایی- امریکایی نژاد، او زیات ولاد تونه ښودل سویدی. (٦)

## انذار

هغه retrospective څیړنه چي پر ۲۷٦ امید وارومیندو چي ۲۲۱ یی د زړه په ناروغیو اخته وی تر سره سویدی، په ګوته کوی چي په ۹٦ سلنه ناروغانوکي د class I یا IIناروغی منځته راغلیدی. یوازی په ۲۵ سلنه ناروغانوکي د زړه ناروغی شدیدی او یوازی د مور، یا ماشوم او یا د واړو لپاره خطر ناکه وی. څیړنو جوته کړیده چي هغه میندی چي د امید واری په دوران کي د زړه پخوانی ناروغی لکه اررېتمیاوی، د زړه وظیفوی ناروغی، د زړه دچپه طرف بندشونه، او یا د میو کارډ آ فات ولری، د زیات خطر سره مخ وی. (٦)

## د زړه ولادی ناروغی او امید واری

لکه مخکي چي هم و ویل سول چي د امید واری په دوران کي ۵۰ سلنه زیاتوالی د پلاسما په حجم او ۴۰ سلنه زیاتوالی د ټولی وینی په حجم او هم داراز د زړه په دهانه کي را منځته کیږی.

له همدی کبله یوشمیر هغه ناروغی چي په شدید ډ ول بندښت منځته راوړی لکه د ابهر تنګوالی، د امید واری په دوران کي تحمل کیدای نسی او له همدی کبله نو د مور د مړینی کچه زیاتوی. همداراز، باید یادونه وکړو چي زیات هغه ناروغان چي د جراحی عملیات په ذریعه یی د زړه ولادی ناروغی اصلاح سویوی اویا حتی زیات ناروغان پرته له جراحی عملیات څخه هم کولای سی چي امید واری تحمل او پرته له کومی ستونزی یی مخته بوزی.

امید واری په ځانګړی توګه په هغو امید واره میندوکي چي سیانوزس او یا د ریوی شریان لوړ فشار لری خطرناکه او ښه نسی تحمل کیدلای، د بیلګی په توګه په Eisenmenger's سندروم اخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغانوکي د مړينی کچه زياته اوتر ۵۰ سلنی هم لوړه ده، ځکه نو داناروغان وsterilisation ته اړتيا لری. د ۲ تر ۵ سلنه هغه اولادونه چې د زړه په ولادی ناروغيو اخته مور اوپلار څخه زيږی، کيدای سی چي د زړه ولادی ناروغی ولری، چي سلنه يی په هغو کي چي مور يی اخته وی زياته ده. (۷)

## د زړه ناروغی او جراحی

## Cardiac disease and surgery

### د زړه په ناروغانوکی غيرقلبی جراحی

- د هغوناروغانو يوه در يمه چه عمر ئی تر ۳۵ کلو ز يا ت وی او جر احی عمليې ورته ا جراکيږی ، دزړه او رګونو دنا روغيو او دوينی دلوړ فشار ځينی ډولونه لری .
- جراحی دقلبی وعا يی سيستم لپاره ستريس منځته راوړی ، چه په هغو خلګو کی چی وخيمي او غير ثا بتي قلبی ناروغي ولری کيدای شی ډير ه خطرناکه وی .
- په هغو نا روغانوکی چی قلبی ناروغي لری او جراحی ورته اجراکيږی يوشمير عوامل چه ناوړه تاثيرات لری اوس پيژندل شويدی . ( ۲ )

### د اکليلی شريانو په ناروغانو کی دجراحی خطر

**الف : د ميوکارد احتشا Myocardial Infarction**

- هغه ناروغان چه په پخواوختونوکی يي دميوکارد احتشاء تيره کړی وی دجراحی په وخت کی لوړخطر لری (۴ تر ۸ سلنه)، دهغو په پرتله چي پخواکی يي نه وی تيره کړی ( ۰،۱ تر ۰،۷ سلنه). ( ۲ )

ترعملياتووروسته د ميوکارد داحتشاء څخه رامنځته شوی وفيات په هغوکسانوکی چه پخوايي د ميوکارد احتشاء تيره کړيوی ډيرلوړ دی (۵۰ سلنه) دهغو په پرتله چه پخوايي احتشا نه وی تيره کړي ( ۲۵ سلنه) .

**۹- ۱ جدول: د اکليلی شراينو په ناروغيو اخته ناروغانوکي هغه عوامل چي د جراحی خطر زياتوی( ۲)**

| عوامل | تقريبی سلنه |
|---|---|
| عمر چي تر ۵۰ کلنو زيات وی | ۳ |
| د زړه تر احتشأ وروسته د ۳ مياشتو په موده کي عمليات | ۱۰۰ |
| د زړه تر احتشأ وروسته د ۳ تر ٦مياشتو په موده کي عمليات | ۵۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | |
|---|---|
| د زړه تر احتشأ ٦ میاشتی وروسته عملیات | ۳ تر ۱۴ |
| انجین | ۳ تر ۱۴ |

| | |
|---|---|
| د NYHAد کلینیکي تصنیف له مخی | |
| لمړی کلاس | ۴ |
| د وهم کلاس (چي ډیجوکسین یا ډیوریتیک ) ته اړتیا نلری | ۹ |
| د وهم کلاس (چي ډیجوکسین یا ډیوریتیک ) ته اړتیا لری | ۱۲ |
| د ریم کلاس (چي ډیجوکسین یا ډیوریتیک ) ته اړتیا نلری | ۱۹ |
| د ریم کلاس (چي ډیجوکسین یا ډیوریتیک ) ته اړتیا لری | ۲۷ |
| څلورم کلاس | ٦٧ |
| د زړه د د ریم آ واز او یا د داجی اوعیه د پاړسوب شتون | ۲۰ |
| په دقیقه کي تر ۵ ځلی زیات د پریماچور تقلصاتو شتون | ۱۴ |
| اذینی اریتمیا | ۹ |

## د زړه بی نظمی اوجراحی، دوینی لوړ فشار اوجراحی

### د وینی د لوړ فشار اړوند قلبی ناروغیو په لرونکو کی د جراحی خطر

- **د وینی خفیف اومتوسطه غیر اختلاطی لوړ فشار**

په دی گروپ ناروغانو دجراحی خطرونه دهغوناروغانو په ډول وی کوم چه دزړه ناروغی نلری.

- **د وینی د لوړ فشار له کبله د زړه ناروغی**

د وینی دلوړفشار ناروغان چه دزړه دعدم کفایي اعراض اوعلایم لری داکلیلی شریانو دناروغانو په ډول دجراحی خطرونه لری . ځکه نو هیپرتینسیف قلبی ناروغی په ټولو جراحی عملیاتو تقریبا ۱۳ سلنه او دبطن د داخل او د صدرد داخل په عملیاتونوکی ۲٦ سلنه دمړینی خطرونه لری .

دوینی لوړفشار اودصدری خناق یوځای والی خطرونه نه ز یاتوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library


دميوکارد پخواني يا زړه احتشا چه دهيپرتينسيف قلبي ناروغي سره يوځای وی په ټولو جراحی عملياتونوکی دمړينی خطر و ۱۸ سلنه او دصدر اوبطن دداخل په عملياتونوکی دمړ ينی خطرو ۳۱ سلنی ته لوړوی . ( ۲)

## د زړه د د سامی ناروغيو په شتون کي د جراحی خطر

- ترغيرقلبی جراحی وروسته وفيات اومعيوبيتونه دناروغ د ترعمليات دمخه کلنيکی تصنيف په تناسب دی .
- که دعملياتو ټوله ډولونه په نظر کی ونيسودمترال ددسام په ښه معاوضوی ناروغيوکی دجراحی له کبله دمړينی کچه ۵-٦ سلنه ده .
- په متوسطه او يا شديده اندازه دابهر د دسام تضيق دجراحی په ټولو ډولونوکی د ۱۰تر سلنی جراحی خطر لری ، داسی يوه اندازه چه د اکليلی شريانو په ناروغانو کی موجوده وی.

**د زړه د هغو ناروغانو ترعمليات د مخه د رملنه چه غيرقلبی جراحی ورته اجرا کيږ ی**

## الف : د وينی د لوړ فشار درملنه

دانستيزی عصری تخنيکونه د ا کتران پرد ی قاد روی چه دجراحی ترمها ل پوری د فشارضد درملو ته ادامه ورکړی . که ترعملياتووروسته ناروغ ته دخولی دلاری شی نه ورکول کيدی (NPO ) ترهغوپوری چه دخولی دلاری درمل اخيستلا ی شی ، د ور يد او يا دجلد دلاری دفشار ضد تداوی ورته ور کړل شی.

## ب: د ارريتميا درملنه

هغه ناروغانو ته چه وخيم بطينی اکستراسستول لری بايد دعمليا ت په جر يان کی او ترعمليا ت وروسته دار يتميا ضددرمل ورکړل شی . پد ی حالتونوکی دور يد دلاری ليدوکائين يوساده او ډير موثر مواد دی . دور يد دلاری پروکائين امايد يا بيتا بلا کرونه او يا دواړه هم موثر د ی .

## ج: انتی کواګوليشن

- د زړه دناروغيو لرونکو ته چه هغه ډول عمليا تونه اجرا کيږی کوم چه يوه يا دوی ورځی دبستر استراحت غواړی دهيپار ين کښته دوز ورکړه شی .
- د وزاژ يي ۵۰۰۰ واحده ترجلد لاندی دورځی دوه يا دری ځله د ی .

## د: د اندوکارډيټس مخنيوی

(c) ketabton.com: The Digital Library


- د ا نتی بیوتیکو په وسیله وقایه په هغو ناروغانو کی چه دزړه او رګونو یوشمیر ولا د ی او یا دسامی ناروغی لری استطبا ب لری .

غیر قلبی جراحی ، په ځانګړی توګه د غټو اوعیو، بطن یا صد رجراحی، کیدای سی د عملیات نه مخکي د زړه د یوشمیر وخیمو اختلاطاتو لکه د میوکار ډ احتشأ، او یا د اکلیلی شراینو په ناروغیو اخته ناروغانوکي د مړینی او یا نورو ستونزو سبب وګرځی. هر ناروغ ته باید ځانګړی پاملرنه وسی تر څو د جراحی عملیات اختلاط له منځه یووړل او یا په ممکنه اندازه کم سی.

د زړه داختلاطاتو لپاره د جراحی په وخت د خطر غټ لاملونه عبارت دی له

- په نژدی وخت ( تر ٦ میاشتو کم) د زړه د احتشأ او یا غیر ثابت انجین حمله
- د فزیکي فعالیت په وخت د شد ید ثابت انجین شتون
- د زړه د نه کنترول سوی عدم کفایه شتون
- د زړه د والونو شد یدی ناروغی ( په ځانګړی توګه د ابهر تنګوالی)

د hypercoagulable حالت چي د جراحی عملیات نورمال فیزیولوژیک عکس العمل دی، د اکلیلی شراینو د ترمبوز د زیاتیدو او تر عملیات وروسته د حاد اکلیلی سندروم د منځته راتلو خطر زیاتوی، له دی کبله نو په هغه ناروغانو کي چي په نژدی وختو کي د اکلیلی شراینو ناروغی تیره کړیوی، باید تر ۳ میاشتو ( ښه خو داده چي تر ٦ میاشتو) پوری ورته انتخابی عملیات ترسره نسی. په هغو ناروغانوکي چي د اکلیلی شراینو ناروغی لری، د پلاټلیټ ضد او بیټا بلاکر درملو تطبیق د عملیات نه مخکي اختلاط کموی، ځکه نو باید د عملیات تر مخه ناروغ ته ورکول سی.

د antidiuretic هورمون افراز هم د جراحی عملیات نورمال فیزیولوژیک عکس العمل دی، ځکه نو په هغه ناروغانوکي چي د زړه د والونو په ځانګړی توګه د ابهر شریان او یا میترال تنګوالی ولری، باید د مایعاتو په تطبیق کي زیات احتیاط وکول سی او په زیاته پیمانه مایعات ورته ورنکول سی.

اذینی فبریلیشن کیدای سی د هیپوکسیا، د میوکار ډ د اسکیمیا، او د زړه د عدم کفایه په ذریعه شدید سی، او تر عملیات وروسته عمده اختلاط هم تشکیلوی، ځکه نو هغه ناروغان چي د زړه ناروغی لری باید تر عملیات وروسته و دی اختلاط ته زیاته پاملرنه واړول سی. نوموړی ارریتمیاوی اکثراً د مساعد کونکو فکتورونو تر رفع کیدو وروسته له منځه ځی، ولی اکثراً د ډیجوکسین او یا بیټا بلاکر درملو تطبیق ته اړتیا لیدل کیږی.(٧)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ځېږکې لنډيز

امید واره کیدل د ښځو د ژوند یوه اساسی برخه ده چې په زیاتو ناروغیو حتی د زړه په خفیفو یا متوسطو ناروغیو کې په ښه ډول تحمل کیږی.

د زړه ناروغی، که څه هم نادری دی، کیدالی سی چې د امید واری له کبله د زړه د هانی د دوه چنده زیاتیدو په وسیله شدیدی او یا برملا سی.کوم فیزیولوژیک بدلونونه چې په نورمال ډول د امیدواری په دوران کې را منځته کیږی، د زړه پر بیلو ناروغیو باندی بیل اثرات لری،چې د ناروغی په ډول او وخامت اړه لری.

د هغو ځیږنو له مخی چې تر سره سویدی هغه ښځی د امید واری په دوران کې د لوړ خطر سره مخ دی چې د نیویارک د زړه د ناروغیو د ټولنی په لمړی او دوهم کلاس کې قرار لری او د بطیناتو دندی یی نورمالی وی او انتی کواګولانت درمل نه اخلی. هغه ښځی د زیات خطر سره مخ دی چې د میترال یا ابهر د سام شدید تنګوالی، د زړه سیانوتیکې ناروغی چې د ریوی شریان د فشار لوړ والی ورسره مل وی او یا ژوند تهدیدونکې ا رریتمیا ولری. له همدی کبله نو دا ښځی باید امیدواره نسی، ځکه دا حالات هم د مور او هم یی د جنین لپاره خطر ناکه دی.

پرتولو خطراتو برسیره باید یادونه وکړو چې د درملنی یو شمیر عصری لاری چاری شتون لری چې کولای سی د دی ناروغانو سره د امید واری په دوران کې د امید واری تر پایته رسیدو پوری مرسته وکړی.باید یادونه وکړو چې د دی ناروغانو درملنه ا سانه نه ولی یوی ګډی کمیټی ته ،چې د کارډیولوجسټ، د نسایی متخصص، د انستیزیا متخصص، د ماشومانومتخصص او حتی د زړه جراح پکې شتون ولری، اړتیا لری.

د خطر سره مخ ناروغانو د درملنی لمړی قدم تشکیلوی. د زړه د عدم کفایی په صورت کې د لاربښود سره باید درملنه ترسره ولی یوازی دACE نهیه کونکو درملود تطبیق څخه چې پر جنین زهری اثرات لری د ډه وسی. تر لنګون سمد ستی وروسته باید د مایعاتو و احتباس ته زیاته پاملرنه واړول سی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د څپرکي اړونده پوښتنې

### د رسته جمله په ص او غلطه جمله په غ سره په نښه کړی.

**۱ : د نورمالی امید واری په دوران کي قلبی وعایی بدلونونه عبارت دی له :**

الف: د ۱۲ او نیو په تیریدو سره د زړه د هانه ۱۵۰ سلنه زیاتیږی .

ب: تکي کارډیا، د وداجی وریدونو د فشار لوړوالی او د زړه دریم آ واز شتون .

ج: د سیستمیک ډ یاستولیک فشار کموالی.

د: د ریوی د سام په ساحه کي د سیستولیک مرمر شتون.

**۲ : د امیدواری په دوران کي د ارریتمی درملنه**

الف: د AVعقدی د ارریتمیا د کنترول په منظور Adenosine تطبیق کیدای سی .

ب: د ارریتمیا ضد اکثره class I د رمل محفوظ او بیخطره نه دی.

ج: د که ډیجوکسین استعمالیږی باید اندازه یی زیاته سی.

د: د Amiodarone درمل د امید واری په دوران کي توصیه کیدای سی.

**۳: د زړه داختلاطاتو لپاره د جراحی په وخت د خطر غټ لاملونه عبارت دی له :**

الف: په نژدی وخت ( تر ٦ میاشتو کم) د زړه د احتشأ او یا غیر ثابت انجین حمله

ب: د فزیکي فعالیت په وخت د شد ید ثابت انجین نه شتون

ج: د زړه د نه کنترول سوی عدم کفایه شتون

د: د زړه نه بهر نوری ناروغی ( په ځانګړی توګه سینه وبغل)

۴- په امید واری کي د وینی د لوړ فشار اړوند

الف: د وینی د مزمن لوړ فشار او preeclampsia شتون.

ب: preeclampsia یعنی د وینی لوړ فشار او د میرګی حملات.

ج: preeclampsia په زیاته اندازه د مور او ماشوم د مړینی سبب کیږی.

د: د α-methyldopa درمل د امید واری په دوران کي باید توصیه نسی، خطر لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۵- د میوکارد احتشا په ناروغانو کی د جراحی خطر**

الف: هغه ناروغان چه پخوايي د میوکارد احتشاء تیره کړی وی دجراحی لوړخطر لری.

ب: هغه ناروغان چه پخوايي د میوکارد احتشاء تیره کړی وی د مړینو اندازه ۲۵ سلنه وی.

ج: هغه ناروغان چه پخوايي د میوکارد احتشاء نه وی تیره کړی د مړینو اندازه ۵۰ سلنه وی.

د: هغه ناروغان چه پخوايي د میوکارد احتشاء تیره کړی وی د مړینو اندازه ۵۰ سلنه وی.

**٦- په امید واری کي د eclampsia اوpreeclampsia اړوند**

الف: اکثراً preeclampsia د وینی د لوړ فشار سره مل وی.

ب: د preeclampsia شتون د مور او ماشوم لپاره خطر ناکه نه ده.

ج: eclampsia یعنی د وینی لوړ فشار ، د میرګی حملات او د HELLP سندروم شتون.

د: preeclampsia یعنی د وینی فشار د امید واری په ۲۰ اونی کي تر ۹۰/۱۴۰ کم، پروتین یوریا تر ۳۰۰ ملی ګرامه په ۲۴ ساعته کي کمه او پتولوژیکه اذیما شتون ونلری.

**۷- د زړه د ولادی ناروغیو او امید واری اړوند**

الف: د ابهر دسام ولادی تنګوالی د مړینو کچه زیاتوی.

ب: د جراحی عملیات په وسیله د ولادی آ فت اصلاح کومه ګټه نلری .

ج: په Eisenmenger's سندروم اخته امید واره میندوکي د مړینی کچه زیاته وی.

د: ارثیت د زړه د ولادی ناروغیو په منځته را تلوکي کوم اثر نلری.

**۸- خالی ځایونه په مناسبو کلماتو ډ ک کړی؟**

- د AVعقدی د ارریتمیا د کنترول په منظور (                    ) تطبیق کیدای سی.
- د امید واری په دوران کي د زړه د اسکیمیکو ناروغیو کچه (              ) اټکل سویده.
- هغه امید واری ښځی چي په (                    ) روږدی وی پکي د زړه د اسکیمیکو ناروغیو کچه زیاته وی.
- په امید واری کي د وینی د لوړ فشار تقریباً (                    ) پیښی مزمن لوړ فشار تشکیلوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۹ سوال: د امریکا د زړه ټولني د ویش له مخي د زړه په ناروغانو کي کوم یو د غیر قلبي جراحي عملیات لپاره د منځني کچه خطري فکتور دي**

الف: ناکنتروله اررېتمیا    ب: د شکرې ناروغی

ج: ناکنتروله لوړ فشار    د: زیات عمر

**۱۰ سوال: د Peripartum cardiomyopathy اصطلاح هغه وخت استعمالیږی چي**

الف: په دریم ترای مستر کي cardiomyopathy پیدا او تر ولادت ٦ میاشتی وروسته هم دوام ومومی

ب: پیښبی یی ۱۰۰۰/۱ اټکل سویدی.

ج: د خطر عوامل یی چاغوالی، افریقایی- امریکایی نژاد، او زیات ولاد تونه ښودل سویدی.

د: اسیایی نژاد د خطر لوی لامی ګڼل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لسم څپرکي

## روماتیزمی تبه Rheumatic Fever

### تعریف اواپیدیمولوژي:

روماتیزمی تبه معمولاً د پورتنی تنفسی سیستم د group A β-hemolytic ستریپتوکوکس انتان په نتیجه کی منځته راځی. په وروسته پاتي هیوادونو کې يې پيښې زیاتی لیدل کیږی .د ناروغی په منځته راتلو کی یو شمیر عوامل لکه فقر، غربت، د کورنی د غړو د شمیر زیاتوالی ، د مناسب کور نه شتون او و روغتیایی خدماتو ته لاس نرسیدنه ونډه اخلی.

دامریکا په متحده ایالاتو کې یی پیښی په هرو ۱۰۰۰ نفرو کې ۰،٦ سلنه او په هندوستان کی د ۷-۱۱تثبیت شویدی.

د تودوسیمو د حرارت د درجی زیاتوالی هم د ستریپتوکوکس انتان د خپریدو لپاره زمینه مساعدوی .د ناروغۍ د پیښو زیاتوالی او شدت معمولاً د متکررو تنفسی انتاناتو په پیښیدو اړه لری.

### پتوجنیزیس:

لکه مخکی چه وویل شول د پتوجنیزیس له پلوه هم د ناروغی د پیښیدواود
GroupA β-hemolytic ستریپتوکوکس انتان ترمنځ نژدی اړیکی شتون لری، نظر دادی چه کوم انتی باډی چه په بدن کې د ستریپتوکوکس انتان په مقابل کې جوړیږی د زړه د عضلی سره عکس العمل ښیی او په نتیجه کې يې یو اوتو امیون عکس العمل رامنځته کیږی. په زیات شمیر ناروغانو کی عکس العمل نه یوازی د زړه د عضلی په مقابل کې بلکه د مفاصلو د سینوویل مایع په مقابل کې هم منځته راځی چه د مفاصلو د التهاب سبب کیږي،او د دماغی انساجو په مقابل کی هم منځته راځی چه د کوری Chorea سبب کیږی.

دناروغی عمده او پخوانی تظاهر Aschoff نوډولونه تشکیلوی. پدی ناروغی کې التهابی عکس العمل معمولاً په دوه ډوله ،اګزوداتیف اوپرولیفراتیف لیدل کیږی، چې د مفاصلو مصابیدل يې اګزوداتیف اود

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه د عضلی مصابیت یې پرولیفیراتیف شکل دي.دزړه دعضلي مصابیت معمولاً د Pancarditis په شکل وی چې په میوکارډ کې د مدورو حجراتو ارتشاح ،د عضلاتو پاړسوب او فبرین لرونکی اګزودات لیدل کیږی. په اندوکارد کې د زړه د والونو په شمول سوروالی ، پاړسوب او ارتشاحات لیدل کیږی. د والونو د کوسپونو یو د بل سره نښلیدل د والونو د سکار او تنګیدو سبب کیږی

دا بدلونونه حتی د حادی مرحلی د تیریدو څخه وروسته هم دوام مومی او پاتی کیږی. ورته بدلونونه کیدای شی د رګونو په جدار ، تحت الجلدي انساجو ( روماتیك نوډولونه) او نور منظم نسج کی ولیدل شی.

**سریری لوحه:**

د ستونی د سترپتوکوکس انتان اود روماتیزمی تبی د اعراضو او علایمو د پیل کیدو ترمنځ یوه د خفی دوره چه د ۱۰ تر ۱٤ورځو ده شتون لری، ناروغی معمولاً د ٥ او ۱۰ کلنی ترمنځ پیښیږی چه زیاتی پیښی یې د ۷ او۸ کلونو په وخت کی لیدل کیږی او تر ٥ کلنی کم عمر کې یې پیښی ډیری نادری دی. په هغو نجونو کې چه د بلوغ مرحلی ته رسیدلی وی د Chorea حملات زیات لیدل کیږی.

سریری تظاهرات معمولاً بیل او د ماؤفیت په ځای (عضو) د حملی په وخامت ، او درجه باندی چې ناروغ مراجعه کوی اړه پیدا کوی

که ناروغی د مفاصلو په التهاب سره پیل وکړی نو معمولاً یې حمله حاده وی، حال داچي د زړه د عضلی دمصابیت او یا Chorea په پیل سره معمولاً حمله تدریجی پیل لری.

عمده نښه لوړه او متقطع تبه ده ولې اکثراً کیدای شی چې ناروغ تبه ونلری او یوازی د نورو انتانی ناروغیو په څیر د بدن او مفاصلو د دردونو څخه شکایت وکړی، چې پدی صورت کې تاریخچه ښئی چه ناروغ څه مده مخکی د ریزش او ستونی درد څخه شکایت درلودی او اوس ورته کسالت ، د وزن کمیدل ، ژر ستړی کیدل او د عضلاتو درد پیدا شویدی کیدای شی ناروغ بی اشتها وی .

**تشخیص :**

د حادی روماتیزمی تبی تشخیص معمولاً د کلینکی اعراضو او علایمو له رویه ایښودل کیږی ،پدی ډول چه دوه غټ معیارونه او یا یو غټ او دوه واړه معیارونه پداسی حال کی چه ناروغ د ستونی د انتان پخوانی تاریخچه ولری تشخیص وضع کوی.

د تشخیص لپاره معمولاً د Ducket –Jones Criteria څخه کار اخستل کیږی چه په لاندی جدول کی ښودل شوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



| کمکی معیارونه | واړه معیارونه | غټ معیارونه |
|---|---|---|
| Increased ASO titer.<br>Positive throat swab.<br>Recent history of sore throat. | . Fever<br>Arthralgia.<br>Previous history of rheumatic fever.<br>Increase in ESR,CPR and WBC.<br>Prolonged PR interval. | Arthritis.<br>Carditis.<br>Chorea<br>Erythema Marginatum<br>Sub cutaneus nodoles |

**دمفاصلو التهاب Poly arthritis:**

د روماتیزمی تبی د مفاصلو التهاب معمولاً د مفصل د حاداو دردناکه پاړسوب څخه عبارت دي، چې په يوه د ځو مفاصلو کې منځته راځی، مهاجرتی وصف لری ( په داسی ډول چې لمړی ماؤفه مفصل مخ په جوړيدو وی چې بل مصاب شی) او معمولاً غټ مفاصل لکه د زنګانه ، بجلکی ، د لاس د بند، څنګل او اوږی په ترتیب سره مصابوی. مصاب شوی مفصل سور ، پړسيدلی او ډير دردناکه وی چه حتی ناروغ ماؤفه غړی ته حرکت نشی ورکولای. تر جوړيدو وروسته کومه بقایا په مفصل کی نه پاتی کيږی او مکمل روغيږی .

**دزړه دعضلي التهاب Carditis:**

د زړه د عضلی التهاب معمولاً د زړه د ضربان د زیاتوالی ، صدری دردونو یا سالنډی په ډول تظاهر کوی. د میترال دسام د کړی د پراخوالی له کبله یو نرم سیستولیك مرمر او د مایترل دسام پر ليفليټونو باندی د نوډولونو د تشکل له کبله یو نرم ډیاستولیك مرمرچې د (Carey- Coombs) پنوم یادیږی اوریدل کيږی. د میترال او یا ابهر دسامونو د عدم کفایه له کبله کیدای شی د زړه احتقانی عدم کفایه او یا د پریکارډ د ماؤفیت له کبله فرکشن رب واوریدل شی. هغه وخت د زړه د عضلی و التهاب ته فکر کيږی چې په ناروغ کی لاندی اعراض او علایم ولیدل شی.

۱- د خوب پر وخت د نبض دتعداد زیاتوالی.

۲- د زړه غټوالی.

۳- د زړه لومړی آواز نرم او یا ښه نه اوریدل کيږی.

٤- په زړوه کې د ډیاستولیك مرمر شتون او یا د پخوانیو مرمرونو په خواصو کی بدلون.

٥- د پریکارډ د یو پر بل منبلود آواز اوریدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**کوري Chorea:**

په نجونو کې یې پېښې زیاتی لیدل کیږی او کیدای شی چې د ستریپتوکوکس د ابتدائی انتان څخه شپږ میاشتی وروسته تظاهر وکړی. کوري معمولاً د لاسونو، پښو او تنی د عضلاتو خوځنده او غیر ارادی حرکتونو ته ویل کیږی چه تکراریږی نه او د ناروغانو تګ غیر منظم او هم ئی په خبرو او خط لیکلو کی ستونزه لیدل کیږی، پخپله جوړیږی او کیدای شی د شپږ میاشتو څخه تر یوه کال پوری دوام ومومی.

**: Erythema Marginatum**

د پو ستکي بدلون سطحی وی چې د یوه سره، برجسته مکول په ډول چې مخ ئی بی رنګه او د فشار په ذریعه بی رنګه کیږی تظاهر کوی، دا سوروالی دیوی سری څنډی په ذریعه د نورپوستکی څخه بیل وی.

**:Subcutaneous Nodules**

کلك او بی درده نوډولونه  پر هډوکو او اوتارو باندی ښه جس کیږی. د ناروغی په څنډنی شکل کې دوامداره فبروز تشکل کوی، د زړه دسامونه ماؤفه وی. دسامونه کیدای شی تنګ شی او یا داچی په درسته توګه خلاصیدای او تړل کیدای نه شی او د وینی بیا راګرځیدنی ته اجازه ورکوی. هغه دسامونه چه مصابیږی په ترتیب سره عبارت دی له میترال ، ابهر او ترای کوسپیډ څخه.په ابتدا کې د میترال دسام عدم کفایه رامنځته چه د۲ تر ۱۰کلونوروسته دسام تنګ او کله چه د حادی روماتیزمی تبی فعاله علایم خاموشه او یوازی د دسامونو د تخریب علایم شتون ولری نو د زړه د روماتیزمی ناروغیو په نوم یادیږی.
د Echo cardiography په ذریعه د دسامونو د ناروغیو د شدت او پرمختګ څېړنه تر سره او که د دسام تبدیلولو ته اړتیاوی هم په ګوته کیږی.

**لابراتواري معاینات:**

باید دلته هم یادونه وکړو چې د روماتیزمی تبی تشخیص زیاتره د کلینك له رویه ترسره او لابراتواری معاینات یوازی کمکی اغیزه لری.

د د دو غټو او یا یوی غټی او دوو وړو معیارونو شتون د ناروغی د تشخیص لپاره اړین دی.

**۱- د سروکریواتود ترسب اندازه ESR** : که څه هم غیر وصفی دی یوازی د ناروغی په حاده مرحله کی جګیږی او د ناروغی د فعالیت او پرمختګ د څیړولو لپاره ښه معیار ګڼل کیږی، په سینه وبغل کی لوړ او د زړه په احتقانی عدم کفایه کی کمیږی.

**۲- C-reactive protein**: که څه هم غیر وصفی دی خو بیا هم د حادی مرحلی دڅیړلو لپاره مرسته کوی. د کم خونی په شتون کی کوم بدلون نه مومی او کم خونی اثر نه پر لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۳- Anti_streptolysin –O (ASO) اندازه:** د تشخیص لپاره اساسی معیار ګڼل کیږی او په ۸۰ سلنه ناروغانو کې جګیږی ، جګیدل یی د سترپوکوکس د انتان پر شتون دلالت کوی. تل تر ۲۰۰ todd/ml واحده په یوه ملی لیتر کې زیاته او د اونیو یا میاشتو لپاره یې اندازه لوړه پاته کیږی.

**۴**- د ستونی د ثوب کلچر اکثراً په هغه صورت کې چه ناروغ انتی بیوتیك نوی اخستی مثبت ترلاسه کیږی.

**۵- د دوینی معاینه:** په وینه کې په حاده مرحله کې د هیموګلوبین اندازه کمه (کم خونی) او د پولی مورف سپینوکریواتو اندازه جګیږی.

٦- ECG د زړه د عضلی د التهاب اولنی تظاهر د PR interval اوږدیدل دی چې اکثراً تر 0,18 ثاني زیات وی .

**۷ - د صدر راډیوګرافی**: د صدر په راډیوګرافی کې کیدای شی د زړه د احتقانی عدم کفایه او د پریکارډ د التهاب له کبله د زړه غټوالی ومومندل شی.

**اختلاطات**:

په شدیدوپیښوکې کیداې سي دCHF سبب وګرځي.که ناروغي دوام ومومي نوکیداې سي چې دزړه دروماتیزمي ناروغیوسبب وګرځي. نوراختلاطات یې دزړه بي نظمي،دپریکارډ التهاب چې انصباب هم ورسره وي اوروماتیزمي نمونیا تشکیلوي.

**درملنه:**

**۱**- د بستر استراحت: (کوم ناروغان ) چه د زړه د عضلی او یا د مفاصلو په التهاب اخته وی تر څو چه د فعال التهاب ټول اعراض او علایم د بیلګی په توګه د زړه ضربان او د بدن حرارت نورمال حالت ته راګرځی او ESR نورمال کیږی باید استراحت وکړی هغه ناروغان چه یوازی د مفاصلو التهاب ولری د ۱ تر ۲ اونیو او هغه چه د زړه د عضلی لږ التهاب ولری ورته د ۲ تر ٤ اونیو ،ولی هغه چه د زړه د عضلی په شدید التهاب اخته وی کیدای شی د څو میاشتو لپاره استراحت وکړی.

**۲- انتی بیوتیك**: د حادی روماتیزمی تبی د درملنی د اساس د سترپتوکوکس انتان له منځه وړل تشکیلوی ، که څه هم د ستونی د ثوب دکلچر نتیجه منفی وی بیا هم میکروبونه د تانسلونو او بلعوم په انساجو کی شتون لری، انتخابی درمل Benzyl Penicillin تشکیلوی چې۲،۵ لکه واحده د ورید د لاری هر ٦ ساعته وروسته د ۳ ورځو لپاره او په تعقیب یی

(c) ketabton.com: The Digital Library


Penicillin V د۲۵۰ ملي ګرامه په اندازه هر ٦ ساعته وروسته د ۷ ورځو لپاره توصیه کیږی او یا داچه Benzathine Penicillin د٦ لکه واحده په اندازه عضلی یو ځل ورکول کیږی او وروسته تر هغه وقایوی درملنه پیلږی.

**۳- د التهاب ضد درمل Anti Inflammatory Drugs**

Aspirin : د تبی او د مفاصلو د دردونو د له منځه وړلو لپاره ګټور درمل دی د۰ ۱۲ ملي ګرامه د بدن په هر کیلو ګرام وزن کې د ورځی ( اعظمی اندازه ئی د ورځی ۸ ګرامه ده) د۲ اونیو لپاره او وروسته تر هغه د۶۰ ملي ګرامه د بدن په هر کیلو ګرام وزن کې د ورځی تر څو چې د ناروغی د فعال حالت علایم له منځه ځی توصیه کیږی ( ۳- ٤ ) میاشتی. که په زیاته اندازه ورکول شی نو د Salicylism یا تسمم نښی لکه کانګی، د غوږ برنګهاری ، کوڼ توب ، د تنفس زیاتوالی او د سردرد ناروغ ته پیدا کیږی چه باید درمل قطع او یا یې اندازه کمه شی.

**کورتیکوستیرویدونه** : هغه ناروغان چې د زړه د عضلی متوسط او یا شدید التهاب ولری ورته توصیه کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يولسم څپرکي

## د دوراني جهاز لنډه اناټومي

دوراني جهاز د هغو اعضأ وو مجموعی ته ویل کیږی چه په ذریعه یی وینه، لمفاوی مایع ( شیل) او د نخاع شوکي مایع یا Cerebro Spinal Fluid (CSF) دوران مومي.

د دوراني جهاز مسئولی اعضاوی زړه او رگونه دی ، چي زړه د دی جهاز اساسی عضوه بلل کیږی چي په ذریعه یی دموی مایع انتقال مومی. اوعیه هغه رگونوته ویل کیږی چي وینه پیکښي جریان لری.

**قلب یا Core , Heart**

زړه یو مجوف او عضلی عضوه ده چي د پریکارډیم په ذریعه پوښل سویدی. د سترنوم او د اړونده پوړښتیو د غضروفونوپه خلف کي په داسی ډول پروت دی چي ۲/۱ برخه یی د بدن د متوسط خط و راسته طرف ته او ۳/۲ نوره برخه یی د بدن د متوسط خط چپه طرف ته واقع سویده.

زړه د استرخأ یاDiastol په وخت کي وینه پخپلو جوفونوکي ساتی ولی د تقلص یا Systol په وخت کي هغه وینه وشراېینوته پمپ کوی. زړه په ۲۴ گړیو کي ۱۰۰،۰۰۰ ځلی تقلص کوی.

زړه د ۱۲ – ۲۴ سانتی متره اوږدوالی، ٦ سانتی متره پنډوالی، ۹ سانتی متره سور او وزن یی په نارینه وو کي د ۲۸۰ – ۳۴۰ گرامه ( د بدن د وزن ۱/ ۲۱۳ برخه) او په ښځوکي یی وزن د ۲۳۰- ۲۸۰ گرامه یعنی ( د بدن د وزن ۱/ ۲۵۰ برخه) تشکیلوی.

**موقعیت :** زړه په منځنی منصف یا Middle mediastine ، د دواړو سږو تر منځ ، ترحجاب حاجزپورته ، د ستون فقرات په قدام او د عظم قص او ضلعی غضاریفو په خلف کي قرار لری.

**د زړه باندنی جوړښت :** زړه ۴ جوفه، ۴ وجهی، ۴ ژۍ ، یوه قاعده او یوه زروه لری.

**د زړه محور** : د زړه محور په کاږه ډول د علوی څخه سفلی ، د راسته څخه چپه او د خلف څخه و قدام ته سیر لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**پر صدر باندی د زړه د فوهاتومرتسم او د هغو اصغایی موقعیتونه:**

**۱- د ریوی شریان د دسام فوهه:** ۲،۵ سانتی متره اوږدوالی لری ، د چپه طرف په ۲ بین الضلعی مسافه کي قرارلری او د چپه طرف د ۳ ضلعی غضروف د علوی څنډی په خلف وعظم قص ته نژدی ا صغأ کیدای سی.

**۲- د ابهر شریان د دسام فوهه :** ۲،۵ سانتی متره اوږدوالی لری ، د عظم قص د نیمایی چپه برخی په خلف د ۳ چپه ضلعی غضروف په سفلی څنډه کي قرار لری. او د عظم قص د نیمایی راسته برخی د راسته طرف د ۲ ضلعی غضروف سفلی څنډی ته نژدی ا صغأ کیدای سی.

**۳- د میترال د سام فوهه:** ۲،۵ سانتی متره اوږدوالی لری ، د عظم قص د نیمایی چپه برخی په خلف د ۴ ضلعی غضروف مخامخ قرار لری . او د زړه په زروه یعنی د چپه طرف په ۵ بین الضلعی مسافه، د منځنۍ خط څخه ۸ – ۹ سانتی متره لری په چپه خواکي ا صغأ کیدای سی.

**۴- د ترای کسپیډ دسام فوهه:** ۴ سانتی متره اوږدوالی لری، او د عظم قص د نیمایی راسته برخی په خلف په ۴ او ۵ بین الضلعی مسافه کي قرار لری. او د عطم قص په سفلی نهایت کي اصغأ کیږی.

**د زړه د ننی جوړښت :** زړه ۴ جوفه لری چي عبارت دی له ۲ عدده اذینات یا atrium او ۲ عدده بطینات یا ventricilse چي یو اذین او یو بطین په راسته طرف او یو اذین او یو بطین په چپه برخه کي پراته دی. د وینی جریان معمولاً د اذین څخه بطین او د بطین څخه شراپینوته تر سره کیږی. هر اذین یوشمیر فوهات لری چي وریدونه ور داخلیږی، او هر بطین بیا فوهات لری چي د هغو څخه شریانونه پیلیږی. او د بله طرفه د هم هغه طرف اذین د هغه طرف د بطین سره د یوی پلنی اذینی بطینی فوهی په ذریعه اړیکي لری.

د راسته اذین ظرفیت تقریباُ ۱۱۰- ۱۸۵ سانتی مترمکعبه تخمین سوی، اود جدار پنډوالی یی د ۲-۳ ملی متر ته رسیږی.

د چپه اذین ظرفیت تقریباُ ۱۰۰- ۱۳۰ سانتی مترمکعبه تخمین سوی، اود جدار پنډوالی یی د ۲-۳ ملی متر ته رسیږی.

را سته بطین ۲ وجهی، قدامی (قصی-ضلعی)، او سفلی ( حجاب حاجزی) لری. په مجموع کي راسته بطین د زړه د قصی-ضلعی وجی زیاته برخه تشکیلوی.

د راسته بطین ظرفیت تقریباُ ۱۵۰- ۲۴۰ سانتی مترمکعبه تخمین سوی، اود جدار پنډوالی یی د ۳-۸ ملی متر ته رسیږی. د راسته بطین جدار د چپه بطین د جدار په پرتله نازک او نسبت یی ۱/۳اتکل سویدی.

چپه بطین ۳ وجهی، قدامی (قصی-ضلعی)، سفلی ( حجاب حاجزی) او چپه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د چپه بطین ظرفیت تقریباً ۱۴۰- ۲۲۰ سانتي مترمکعبه تخمین سوی، اود جدار پنډوالی یې د ۱۰- ۱۵ ملی متر ته رسیږي، یعنی جدار یې د راسته بطین په پرتله پنډ دی.

د زړه د بطیناتوجدارونه که څه هم پنډعضلی جوړښت لري، ولی ښوی نه دی او د یو شمیر بارزو درلودونکي دی چي معمولاً په ۳ ګروپونو ویشل کیږي:

الف- لمړی درجه حلیموی عضلات یاRidge type

ب- دوهمه درجه حلیموی عضلات یا Bridge type

ج- دریمه درجه حلیموی عضلات یا Cone type (papillary muscle)

**د بطیناتو تر منځ حجاب یا پرده:** د یوی پنډی پردی څخه عبارت ده چي د راسته او چپه بطین تر منځ پرته او د د وو برخو درلودونکي ده، علوی برخه یې غشا ئی جوړښت لري چي Membranous part بلل کیږي،او سفلی برخه یې عضلی جوړښت لري چي muscular part بلل کیږي. د دی پردی مهم خاصیت دادی چي په هره وجهه کي حلیموی عضلات لري چي د Trabecula cornea په نامه یادیږي او په دی عضلاتو کي د راسته او چپه طرف Bundle branch عصبی رشتی سیر لري.

**د زړه د تنبهیت سیستم یا The conducting system of the heart:** د زړه د عضلی په د ننه کي یو ځانګړی سیستم چي د زړه د تنبهیت سیستم په نامه یادیږي ، او دزړه د سیالو یا impulse د تحریک یا هدایت لپاره ځانګړی سویدی، شتون لري . نوموړی سیستم د لاندی برخو څخه جوړ سویدی.

**۱- د Sinoatrial node یا Keith-flack عقده:** د زړه Pace maker هم ورته ویل کیږي چي د ۱- ۲ ملی متر قطر لري او د (Crista terminalis یا راسته دهلیز او SVC د یوځای کیدو په برخه کي پرته ده). د آس د نعل په ډول جوړښت لري او د زړه د ضربان پیلیدونکي بلل کیږي، چي د دی عقدی څخه تولید سوی سیالی د دهلیز د جدار دلاری وAtrioventricular node ته رسیږي.

**۲- د Atrioventricular node یا Aschoff-towara عقده:** بیضوی شکل لري، اوږدوالی یې ۵ ملی متر او سور یې ۴ ملی متر دی، په راسته اذین کي د Coronary sinus د فوهی څخه لوړ په خلفی – سفلی قسمت کي پرته ده .

**۳- د His حزمه یا Atrioventricular bundle :** یوه انتقالی حزمه ده چي د بین البطنی پردی (غشائی برخه) په علوی نهایت کي سیر لري او د دی جدار په علوی اړخ (عضلی برخه ) کي په د وو برخو راسته او چپه باندی ویشل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۴- راسته bundle branch:** د بطینی پردی د راسته وجهی په اوږدوالی را کښته او د راسته بطین په قدامی جدار کي خپره او په پای کي د Purkinge په رشتو باندی ویشل کیږی.

**۵- چپه bundle branch:** د بطینی پردی د چپه وجهی په اوږدوالی را کښته د Purkinge په رشتو باندی ترویشلو وروسته په چپه بطین کي خپریږی.

**٦- د Purkinge رشتی یا الیاف** : د لمړی درجه Papillary عضلاتو په د ننه کي سیر لری او دبطین پر عضلاتو باندی ختمیږی.

**د زړه اروأ:**

**شریانونه :** زړه د دوو اکلیلی شرائینو ( راسته او چپه) په ذریعه اروأ کیږی.

**۱- راسته اکلیلی شریان Right coronary artery:**

**منشه:** د Ant. Aortic sinus یا جیب والسلوا څخه منشه اخلی.

۲- چپه اکلیلی شریانLeft coronary artery: د راسته اکلیلی شریان په پرتله غټ دی.

**منشه:** د Left. Post. Aortic sinus یا جیب والسلوا څخه منشه اخلی.

**وریدونه :** وریدهای قلبی به دو گروپ تقسیم میشوند.

**الف: هغه ورید ونه چي په coronary sinus کي تخلیه کیږی عبارت دی له:**

۱- د زړه غټ ورید یا Great cardiac vein چي د زړه د زروی څخه منشه اخلی.

۲- د زړه منځنی ورید چي د خلفی بین البطینی شریان سره یو ځای سیر لری او د coronary sinus په راسته نهایت کي تخلیه کیږی نوموړی ورید د بطیناتو د شاوخوا او بین البطینی پردی وینه را غونډوی.

۳- د زړه وړکي ورید چي دزړه د راسته څنډی په اوږدوالی د marginal شریان سره یو ځای سیر لری، وروسته تر هغه د خلف وطرف ته په coronary groove کي خپل سیر ته ادامه ورکوی او د coronary sinus په راسته برخه کي تخلیه کیږی.

**ب:** د زړه هغه وریدونه چي په coronary sinus کي نه تخلیه کیږی او مستقیماً و راسته دهلیز یا د زړه په نورو جوفونوکي تخلیه کیږی.

**۱- Ant. Cardiac vein** : د ری یا څلور واړه وریدونه دی چي د راسته بطین په قدامی جدار کي قرار لری او مستقیماً په راسته دهلیز کي تخلیه کیږی.

**۲- Small cardiac vein:** یو شمیر واړه وریدونه دی چي د څلوروسرو جوفونو په جدارونوکي شتون لری او د بطیناتوپه دهلیزونو کي تخلیه کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د زړه لمف:** د زړه لمفاوي اوعیه د اکلیلي شرائینو سره یوځای سیر لري او دوي جذع جوړوي، هغه لمفاوي اوعیه چې دراسته اکلیلي شریان سره ملګری ده په brachiocephalic لمفاوي عقده او هغه چې د چپه اکلیلي شریان سره ملګری ده په tracheobronchial lymph nodes یا bifurcation trachea کې تخلیه کیږي.

**د زړه تعصیب:** زړه د Cardiac plexus په ذریعه تعصیب کیږي.

**دزړه سمپاتیتیک اعصاب :** دري په راسته او دري په چپه طرف کې شتون لري چې د زړه د علوي، منځنۍ او سفلي سمپاتیتیک اعصابو په نامه سره یادیږي. نوموړي عصبي رشتې د عنق په قاعده کې یو دبله سره نژدې او د اصلي ثباتي شریان سره یوځای و صدر ته را کښته او د ابهر د قوس د قدامي یا خلفي وجهې څخه تیر او د ابهر په مقعره برخه کې ختمیږي.

**دزړه پاراسمپاتیتیک اعصاب :** داهم د پورته په څیر دري په راسته او دري په چپه طرف کې موقعیت لري، پورته ټول شعبات یو شمیر یې د ابهر قوس د قدام او یو شمیر یې د خلف څخه تیري او پخپلو تالي ضفیرو باندې ختمیږي. بیانو د دی ضفیرو څخه پخپل وار سره د اکلیلي شرائینو د منضم نسج کې سیر او هم هلته ختمیږي.

پاراسمپاتیتیک رشتې د واګوس عصب د راسته او چپه طرف څخه منشه اخلي او دزړه د ضربان د کراروالي سبب کیږي، حال داچې سمپتیتیک رشتې د نخاع د لمړي او څلورمې ظهري فقراتو څخه منشه اخلي او د زړه د ضربان د زیاتوالي او د اکلیلي اوعیو د توسع سبب کیږي.

د زړه د سمپاتیتیک و پارا سمپاتیتیک اعصابو رشتې لمړي د زړه سطحي او عمیقي شبکې جوړوي او وروسته بیا د دی شبکو څخه رشتې بیلې او د اکلیلي شرائینو سره یو ځای د زړه عضلي ته ننوزي.

**د زړه جوړښت:**

زړه د فبروزي حلقې، عضلي رشتو او انډوکارډ څخه جوړ سویدی.

**۱- فبروتیکه حلقه:** هغه فبروتیک پوښ ته ویل کیږي چې په چپه نیمایي برخه کې د راسته نیمایي برخې په پرتله ټینګ او کلک . نوموړي پوښ د شریاني فوهاتو او دهلیزونو او بطیناتو پر شاوخوا قرار لري چې د د سامونو په جوړښت کې هم ونډه اخلي.

**۲- عضلي رشتې:** نوموړي عضلي رشتې چې د فبروتیک پوښ سره نښتې دي او د انقباض په وسیله یې وینه د زړه د جوفونو څخه د باندې اچول کیږي. په اذیناتو کې د دی عضلاتو رشتې په دوو لایو سطحي او عمیق ډول قرار لري ، حال داچې په بطیناتو کې دا رشتې په دریو لایو سطحي، منځنۍ او عمیق ډول قرار لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- اندوکارډیم:** هغه نازکي وريقی ته ويل کيږی چي د زړه د ننه خوا يی پوښلی ده او همانا د اوعيو د اپيتل امتداد تشکيلوی. نوموړی طبقی د اذينی – بطينی، ابهر او ريوی شريان د فوهاتو په ساحه کي چملکي يا گونجی پيداکړی چي پخپل وار سره يی والونه جوړکړيدی.

**د زړه د جدارونو جوړښت :** د زړه جدار د دريو طبقو څخه جوړ سويدی:

**۱- اپيکارډيم:** د زړه د عضلی د باندنی برخی ته ويل کيږی.

**۲- ميو کارډيم:** د مخططی عضلی څخه جوړ او پر ليفی اسکليټ باندی ارتکاذ لری او د شريانی او اذينی فوهاتو پر شاوخوا باندی يو حلقه جوړوی ، چي دا حلقی يودبلی سره د يو شمير ليفی جوړښتونو په ذ ريعه سره نښلول سويدی چي مهم يی د trigonum fibrosum په نامه ياديږی او د د وو اذينی- بطينی حلقو تر منځ قرار لری.

**۳- پريکارډيم:** يو فبروزی پوښ دی چي زړه او د رگونو جذع يی پوښلی او په منځنی منصف کي قرار لری. په مجموع کي پريکارډيوم د دوو وريقو څخه جوړ دی چي يو يی حشوی او بل يی جداری وريقه ده.

**د پريکارډ جوف يا خا ليگاه:** هغه فاصلی ته ويل کيږی چي د پريکارډ د دوو وريقو تر منځ پرته او يوه لږه اندازه مايع لری چي د د وو وريقو يو پربل لغړيدل اسانه کوی.

حشوی او جداری پريکارډ د وريدی سويق او شريانی سويق په ساحه کي يو د بل د پاسه واقع سويدی چي په شرائينو کي د غه د اتصال نقطی ته Porta arteriarum او په وريدونوکي Porta venarum ويل کيږی، چي د همدی د واړو يو Porta ځای والی د زړه د Sinus transverses سقف جوړوی.

**د پريکارډ ارواء:** thoracic aorta او musculophrenic artery ، internal thoracic artery د فبروزی او جداری پريکارډ په اروأ کي برخه اخلی.

**د پريکارډ تعصيب:** د پريکارډ فبروزی او جداری برخی د عصب په ذريعه تعصيب سويدی،ځکه نو د درد احساس پکي کيدلای سی. حال داچي پريکارډ حشوی د سمپاتيتيک او پارا سمپاتيتيک اعصابو په ذريعه تعصيب سويدی، ځکه نو د رد نسی احسا سولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخځ لیک

1- Fauci, A.S, Longo, D.L, Braunwald.E. (Eds.)(2012) Harrison's PRINCIPLES OF INTERNAL MEDICINE. 18th Edition. Part 10 (Disorders of the CardioVascular System),Section 3 .
USA, McGraw-Hill Professional.

2- McPhee, SJ. Papadakis, M.A, Tierney, L.M. (Eds.) (2012) CURRENT Medical Diagnosis & Treatment.
51st Edition.
Newyork.Lange.

3- Frank, J. Domino. Boldor, RA., Grinees, JA., Taylor, JS. (Eds.)( (2011). The 5-Minute Clinical consult
19th Edition.
Lippincott, Williams and Wilkins

4- Michael, H. Crawford, H.( Editor )(2009). CURRENT Diagnosis & Treatment Cardiology
3rd Edition.
LANGE medical book

5- Kumar, PJ. Clark, ML. (Eds.) (2009).Clinical Medicine.
7th Edition, Chapter = 13, Cardiovascular disease
U.K –W.B-Sunders.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**6- GOLDMAN, L. AUSIELLO, D. (Eds.) (2008). Cecil Medicine.**

**23rd Edition., Section VIII – Cardiovascular Disease**

**SAUNDERS ELSEVIER**

**7- Colledge, NR. , Walker, BR. ,Hunter, JAA. (Eds.) (2006).Davidson's**

**Principal & Practice of Medicine.**

**21st Edition.**

**Newyork.Lange.**

**8- JOHN, C A., LÜSCHER, T F. PATRICK W (Eds.) (2006). Textbook of**

**Cardiovascular Medicine**

**1st Edition, Section 13**

**9- Krishna Das, KV. (Ed.) ( 2002). Text Book of Medicine**

**4th Edition, volume 2, Section 13.**

**Jaypee Brothers.**

**10 – Bonow,R O. Mann. D.L, Zipes. D.P, Libby.P (Eds.) (2002).**

**BRAUNWALD'S HEART DISEASEA TEXTBOOK OF CARDIOVASCULAR**

**MEDICINE.**

**9th Edition**

**SAUNDERS ELSEVIER**

**11- Rosendorff, C. (Ed.) ( 2002). Essential Cardiology ( Principles and Practice)**

**2nd Edition.**

**HUMANA PRESS**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**12- Carey, DW. (Ed.) (2002). Current Clinical Medicine**

**2nd Edition. Section 2 , Cardiology**

**SAUNDERS ELSEVIER**

**13- Phibbs, J. Brendan, HH. (Authors) (2007). Human Heart, A Basic Guide to Heart Disease,**

**2nd Edition**

**Lippincott Williams & Wilkins**

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library